د افغانستان بانک



# کلنی راپور
# سالانه ۱۳۹۶

د افغانستان بانک



# کلنی راپور
# سالانه ۱۳۹۶

**د افغانستان بانک کلنی راپور**

د اسناد او اړیکو آمریت

د خپرونو او اړیکو معاونیت

د خپرونو مدیریت

ژباړه: عین الله عیان

ایډیټ: ایمل هاشور

ډیزاین: خالد احمد فیضي


عکس: زیرك ملیا

پته: د افغانستان بانک، ابن سینا واټ، کابل – افغانستان

info@dab.gov.af
0093 0202104761
Da Afghanistan Bank-Youtube
Da Afghanistan Bank-Google+
www.facebook.com/AFGCentralbank
twitter.com/AFGCentralbank

Web: www.dab.gov.af

# د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی



خلیل صدیق

د افغانستان بانک لوی رئیس



واحد الله نوشیر

د افغانستان بانک لومړی مرستیال



محمد قسیم رحیمي

د افغانستان بانک دویم مرستیال

## د مطالبو لړلیک

**د افغانستان بانک د لوی رئیس پیغام** .......... الف
**۱- نړیوال اقتصادي وضعیت** .......... ۱
**۲- د هېواد اقتصادي وضعیت او د پولي سیاست کړنې** .......... ۵
۱. حقیقي سکتور .......... ۵
- اقتصادي وده: .......... ۵
- پولي انفلاسیون .......... ۶

۲- بهرنی سکتور .......... ۷
- بهرنی سوداګری .......... ۷
- د مالي او پانګه ایزه حسابونو بیلانس .......... ۸

۳- پولي سکتور .......... ۸
- نقدینګی (پولي زیرمې او په ګردښت کې پیسې) .......... ۸
- د افغانستان بانک د خالصه نړیوالو زیرمو کچه .......... ۹
- د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانی د مبادلې نرخ .......... ۹
- د پولي سیاست د تطبیقولو په برخه کې د افغانستان بانک اقدامات .......... ۱۰

۴- د مالي سکتور بدلونونه .......... ۱۰
- د ۱۳۹۶ مالي کال د بودجې وضعیت: .......... ۱۱

**۳- د بانکي نظام د وضعیت او کړنو څرنګوالی** .......... ۱۵
۱.۱ ټولیزه شتمنی .......... ۱۶
- ۱.۱.۱ د ټولیزه شتمنیو وده .......... ۱۷

۱.۲ ټولیزه پورونه .......... ۱۷
- ۱.۲.۱ د ټولیزه پورونو د ودې میاشتنی پرتله .......... ۱۸

۱.۳ ټولیزه امانتونه .......... ۲۲
- ۱.۳.۱ د ټولیزه امانتونو د ودې میاشتنی پرتله .......... ۲۲

۱.۴ ټولیزه پانګه .......... ۲۳
۱.۵ ګټه .......... ۲۳
۱.۶ سیالیت .......... ۲۴
۱.۷ د اسعارو پرانیستی وضعیت .......... ۲۴
**۴- د اداینو سیستم** .......... ۲۷
۱. عملیاتي برخه: .......... ۲۷
- ۱.۱ د بانکونو ترمنځ اداینې .......... ۲۷
- ۱.۲ د نړیوالې اداینې سیستم (سویفټ) .......... ۲۷
- ۱.۳ د چکونو د تسویې او تصفیې برخه .......... ۲۸
- ۱.۴ د داخلي اداینې سیستم .......... ۲۸

- ۲. د څېړنې او پراختيا برخه ........ ۲۸

**۵– د بازار عمليات** ........ ۳۳

- ليږاف کريډټونه ........ ۳۳

**۶– د عامه اعتبارونو د ثبت عمومي آمريت** ........ ۳۷

**۷– د افغان امانتونو د بيمې اداره** ........ ۴۳

- د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د افغان امانتونو د بيمې د ادارې غړي سوداګريز بانکونه ........ ۴۳
- د افغان امانتونو د بيمې ادارې پولي سرچينې ........ ۴۳
- له سوداګريزو بانکونو څخه د حق البيمې د وضع کولو طريقه ........ ۴۴
- د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې له سوداګريزو بانکونو څخه د راټولې شوې حق البيمې کچه ........ ۴۴
- د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک په بيه لرونکو پاڼو کې د دې ادارې د پانګه اچونې د فعاليت کچه ........ ۴۵

**۸– د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز** ........ ۴۹

- د مالي اقداماتو د نړيوالې ډلې له خړ لست څخه د افغانستان د نوم ويستل: ........ ۴۹
- د راپور ورکوونکو ادارو څخه د لويو معاملو په اړه د راپورونو ترلاسه کول: ........ ۴۹
- د پولي خدمتونو (حوالې) وړاندې کوونکي ........ ۵۰
- د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د سترو معاملو راپور ........ ۵۰
- د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو ټوليزه بانکي حسابونه ........ ۵۰
- د شکمنو معاملو د راپورونو ترلاسه کول ........ ۵۱
- په سرحدي ګمرکونو کې د پيسو، اسعارو او د معاملې وړ بې نومه سندونو د ليږد کنټرولول ........ ۵۱
- په سرحدي ګمرکونو کې د پيسو، اسعارو او د معاملې وړ بې نومه سندونو د اظهار ليکونو ثبتول ........ ۵۲
- د ليږد ممنوعيت او د قانون تنفيذول ........ ۵۳
- د قوانينو د رعايتولو په موخه تنفيذي اقدامات ........ ۵۵
- د فعاليت د جوازونو فسخ او ځنډول ........ ۵۵
- د لوړ خطر لرونکو حقيقي او حکمي اشخاصو لست ........ ۵۵
- مخنيوی کوونکي اقدامات ........ ۵۶
- ملي همکاري ........ ۵۸
- داخلي غوښتنليکونه ........ ۵۸
- د اداري فساد سره د مبارزې د عدلي او قضايي مرکز لخوا د پيسو وينځلو محکوميت ........ ۵۸
- د ترهګرۍ د تمويل محکوميت ........ ۵۹
- د مسکراتو او نشه يي توکو د جرمونو په وړاندې د مبارزې عدلي او قضايي مرکز ........ ۶۰
- نړيواله همکاري ........ ۶۱
- د اطلاعاتو د تبادلې هوکړه ليکونه ........ ۶۱
- د ظرفيت لوړولو ورکشاپونه او په نړيوالو ورکشاپونو کې ګډون ........ ۶۱

- د قوانینو د رعایتولو د همغږۍ کمیټه ۶۱
- د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ تمویل د ملي خطرونو د ارزولو پروسه ۶۲
- ګډې کاري کمیټې ۶۲
- د مالي استخباراتو ادارې د قضیې پر بنسټ د ګډې کاري کمیټې ټاکل ۶۲
- د کانونو او پطرولیم وزارت د تړونونو کتنه ۶۳

**۹- بودجه او مالي صورت حساب** ۶۷
- عایداتي شقوق ۶۷
- لګښتي شقوق ۶۸
- د نورو عوایدو صورت حساب ۷۰
- د ګټې او زیان صورت حساب ۷۱
- د پانګې د بدلون صورت حساب ۷۲
- د نغدي جریانونو صورت حساب ۷۳
- د مالي وضعیت صورت حساب ۷۵

**۱۰- د بانکي عملیاتو لوی آمریت** ۷۹
- د نغدو پیسو او د غیر نغدي معاملو اداره کول ۷۹
- اداري او پرمختیایي چارې ۸۰

**۱۱- اداره او پراختیا** ۸۵
- د ټولو ناظر اداره ۸۵
- د اسنادو او اړیکو لوی آمریت ۸۶
- د حقوقي مشاوریت اداره ۸۸
- د بشري منابع لوی آمریت ۸۹
- د مالي نظام د ټینګښت پروژې ۹۱
- د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت ۹۴
- د مالي خدمتونو د پراختیا لوی آمریت ۹۶
- د مالي خطرونو د ادارې آمریت ۹۷

## د ګرافونو لړلیک


۱ ګراف: له ۲۰۱۰ کال څخه تر ۲۰۲۰ کاله پورې د اقتصادي ودې بهیر ښکاره کوي ۱
۲ ګراف: له ۱۳۸۲ کال څخه تر ۱۳۹۶ مالي کاله پورې د کورنیو ناخالصه تولیداتو د ودې کچه ښکاره کوي ۶
۳ ګراف: د مصرفي توکو د بیو شاخص، د ۱۳۹۵ د مرغومي څخه د ۱۳۹۶ مرغومي پورې (کلني بدلونونه) ۷
۴ ګراف: د ۱۳۹۵ او ۱۳۹۶ مالي کال د سوداګرۍ د بیلانس پرتله ۸
۵ ګراف: د پولي زیرمې وده، د ۱۳۹۶ مالي کال له پیل څخه د لیندۍ تر ۳۰ نیټې پورې ۸
۶ ګراف: پـه ګردښت کې د پیسو کچه، د ۱۳۹۶ مـالي کال له پیل څخه د لیندۍ تر ۳۰ ۹
۷ ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ ۹
۸ ګراف: د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو او صرافانو د زیاتیدو بهیر ښکاره کوي ۱۶
۹ او ۱۰ ګراف: له ۱۳۸۶ کال څخه د ۱۳۹۶ کال تر لیندۍ پورې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د ودې بهیر ښکاره کوي ۱۷
۱۱ ګراف: د بانکي نظام د شتمنیو د ودې تفصیل ښکاره کوي ۱۷
۱۲ ګراف: د ۱۳۹۳ کال له لیندۍ څخه د ۱۳۹۶ کال تر لیندۍ پورې د بانکي نظام د ټولیزه پورونو د ودې بهیر ښکاره کوي ۱۸
۱۳ ګراف: د ټولیزه ناخالصه پورونو په وړاندې د صعب الحصول پورونو نسبت ښکاره کوي ۱۹
۱۴ ګراف: د بانکي نظام ټولیزه پورونه او سپماوې (په میلیون ډالر) ۲۲
۱۵ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو د ودې بهیر ښکاره کوي ۲۲
۱۶ ګراف: د بانکي نظام ټولیزه پانګه ښکاره کوي ۲۳
۱۷ ګراف: د بانکي نظام د ډلو ټولیزه ګټه او زیان وړاندې کوي ۲۴
۱۸ ګراف: په ۱۳۹۶ مالي کال کې د بانکونو ترمنځ د ادایني د سیستم له لارې د افغانۍ او اسعاري معاملو شمېر ښکاره کوي ۲۷
۱۹ ګراف: د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د اداینو د سیستم د اسعاري معاملو شمېر ښکاره کوي (ارقام په افغانۍ) ۲۷
۲۰ ګراف: د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د چکونو د تسویې او تصفیې د برخې د افغانۍ، ډالرو او یورو معاملو شمېر ښکاره کوي ۲۸
۲۱ ګراف: په ۱۳۹۶ مالي کال کې د افغانۍ او اسعاري معاملو شمېر ښکاره کوي( ارقام په افغانۍ) ۲۸
۲۲ ګراف: د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د پانګه ایزو پاڼو د پلور مبلغونه او د سررسید په تفکیک هغه ته تقاضا ښکاره کوي ۳۴
۲۳ ګراف: په ۱۳۹۶ مالي کال کې د عرضې او تقاضا پر بنسټ د پانګه ایزو پانو او د شپې د امانتونو د ټکټانې د نرخ نوسانونه په ګوته کوي ۳۴
۲۴ ګراف: د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د ټولیزه ناتصفیه شویو پانګه ایزو پاڼو بهیر ښکاره کوي ۳۴
۲۵ ګراف: د ۱۳۹۵ او ۱۳۹۶ مالي کلونو د راټول شویو حق البیمو پرتله ښکاره کوي ۴۵
۲۶ ګراف: د لویو معاملو راپور چې د میاشتو د شمېر پر بنسټ وېشل شوي دي ۵۰
۲۷ او ۲۸ ګرافونه: په ترتیب سره د زونونو د شمېر او د میاشتو د شمېر له مخې د ویشل شویو شکمنو معاملو راپورونه ښکاره کوي ۵۰
۲۹ ګراف: په ۱۳۹۶ مالي کال کې د سوداګریزو بانکونو لخوا د لېږل شویو ۴۵۹ شکمنو معاملو راپورونه ښکاره کوي ۵۱
۳۰ ګراف: په سرحدي ګمرکونو کې د پیسو، اسعارو او د معاملې وړ بې نومه سندونو راپور ښکاره کوي ۵۳
۳۱ او ۳۲ ګرافونه: په اتومات ډول خپاره شویو اصلي جرمونه او د شکمنو معاملو راپورونه ښکاره کوي ۵۵
۳۳ ګراف د میاشتو د شمېر په اساس حساب شوي مالي جریمې ښکاره کوي ۵۵
۳۴ او ۳۵ ګرافونه: د لوړ خطر لرونکو حقیقي او حکمي اشخاصو د لست د عملي کولو په تړاو ترلاسه شوې احصائیه او شمېرې په ګوته کوي ۵۶
۳۶ ګراف: د جرمونو پر بنسټ داخلي غوښتنلیکونه ښکاره کوي ۵۸

۳۷ ګراف: د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک د تصویب شوي او حقیقي بودجې سلنه ښکاره کوي................................ ۶۷
۳۸ ګراف: د تصویب شوي او حقیقي عوایدو شقوق ښکاره کوي........................................................................................................ ۶۸
۳۹ ګراف: په ۱۳۹۶ مالي کال کې د تصویب شوي او حقیقي لګښتونو شقوق ښکاره کوي............................................................................ ۶۸
۴۰ ګراف: د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د تصویب شوي او حقیقي اثاثیې، تجهیزاتو او تعمیراتو لګښتي شقوق ښکاره کوي............ ۶۹

## د جدولونو لړلیک


۱ جدول: د کورنیو ناخالصه تولیداتو وده، د ۱۳۹۴ مالي کال څخه ۱۳۹۶ مالي کال پورې (د سلنې بدلونونه)........ ۵
۲ جدول: د کلني عمومي شاخص د انفلاسیون نرخ، د ۱۳۹۵ له مرغومي څخه د ۱۳۹۶ تر مرغومي پورې........ ۶
۳ جدول: د جاري حساب بیلانس، په میلیون امریکایي ډالر........ ۷
۴ جدول: د مالي او پانګه ایزه حساب بیلانس (په میلیون امریکایي ډالر)........ ۸
۵ جدول: په پولي شاخصونو کې د بدلونونو تفصیل وړاندې کوي........ ۹
۶ جدول: د ۱۳۹۶ کال منظور شوې بودجه، د کال د پای تحقق موندلي عملیاتي بودجه او د ۱۳۹۷ وړاندیز شوې بودجه ښکاره کوي........ ۱۱
۷ جدول: په هېواد کې د نمایندګیو شمېر او د بانکي نظام نورې شته اسانتیاوې وړاندې کوي........ ۱۶
۸ جدول: د بانکي نظام د ټولیزه پورونو ډله بندي ښکاره کوي........ ۱۸
۹ جدول: د متوسطه او کوچني پورونو د ورکړې سلنه ښکاره کوي........ ۱۹
۱۰ جدول: د ۱۳۹۶ مالي کال د لیندۍ میاشتې پر بنسټ د بانکي نظام د ناخالصه پورونو ویش ښکاره کوي........ ۱۹
۱۱ جدول: په ولایتونو کې (له جغرافیایي پلوه) د پورونو وېش ښکاره کوي........ ۲۰
۱۲ جدول: د ۱۳۹۶ کال په لیندۍ میاشت کې د پورونو سکتوري ویش ښکاره کوي........ ۲۱
۱۳ جدول: د ۱۳۹۶ کال د لیندۍ میاشت کې په هېواد کې د مسفا د شریکانو عمومي جزئیات وړاندې کوي........ ۲۱
۱۴ جدول: د ۱۳۹۶ کال د لیندۍ د میاشتې په پای کې د ټولیزه امانتونو ترکیب ښکاره کوي........ ۲۲
۱۵ جدول: د ۱۳۹۶ په لیندۍ کې د کارکوونکو، پوروړو، امانت اېښودونکو او نورو پیریدونکو د شمېر احصائیه وړاندې کوي........ ۲۴
۱۶ جدول: د عامه اعتبارونو د ثبت په سیستم کې ټولیزه ترونونه ښکاره کوي........ ۳۷
۱۷ جدول: د هغو اشخاصو او شرکتونو شمېر ښکاره کوي چې ترونونه یې په سیستم کې ثبت شوي دي........ ۳۷
۱۸ جدول: د افغان امانتونو د بیمې د ادارې د پیسو سرچینې په ګوته کوي........ ۴۴
۱۹ جدول: د هر واحد کمیل ریټینګ د ټاکلې سلنې له ډله بندۍ سره وړاندې کوي........ ۴۴
۲۰ جدول: په ۱۳۹۶ مالي کال کې د سوداګریزو بانکونو له حسابونو څخه د افغان امانتونو د بیمې ادارې حساب ته ټولیزه وضع شوې حق البیمه........ ۴۴
۲۱ جدول: د لویو نغدي معاملو راپورونه چې د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د بانکي مؤسسو لخوا وړاندې شوي دي، ښکاره کوي........ ۴۹
۲۲ جدول: د کورنیو او بهرنیو اظهارلیکونو په اړه د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې د مرکز راپور وړاندې کوي........ ۵۲
۲۳ او ۲۴ جدولونه: په ۱۳۹۵ او ۱۳۹۶ مالي کلونو کې د ترلاسه شویو شکمنو معاملو راپورونه ښکاره کوي........ ۵۳
۲۵ جدول: د قانون پلي کوونکو داخلي مراجعو ته د لیږل شویو شکمنو معاملو شمېر ښکاره کوي........ ۵۴
۲۶ جدول: د یو شمېر پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د فعالیت د جوازونو فسخ او ځنډول وړاندې کوي........ ۵۵
۲۷ جدول: د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز لخوا په راپور ورکوونکو ادارو باندې نغدي جریمې رانغاړي........ ۵۵
۲۸ جدول: د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د لوړ خطر لرونکو حقیقي او حکمي اشخاصو د لست د عملي کولو په تړاو ترلاسه شوې احصائیه او شمېرې ښکاره کوي........ ۵۶
۲۹ جدول: د جرایمو پر بنسټ داخلي غوښتنلیکونه........ ۵۸
۳۰ جدول: په ۱۳۹۶ مالي کال کې د پیسو د وینځلو دوه قضیې ښکاره کوي........ ۵۹
۳۱ جدول: په ۲۰۱۷ کال کې د ترهګرۍ د تمویل د مخنیوی د قانون پر بنسټ د اوو کسانو له ډلې د پنځو تنو محکومیت ښکاره کوي........ ۵۹
۳۲ جدول: د نشه یي توکو د جرمونو پر وړاندې د مبارزې د عدلي او قضایي مرکز راپور وړاندې کوي........ ۶۰
۳۳ جدول: له بانکونو او نورو ادارو څخه د دولت د ۱۳۹۶ مالي کال عواید........ ۸۰

# د افغانستان بانک د لوی رئیس پیغام

د افغانستان بانک د مشرتابه پلاوي په استازیتوب خوښ یم چې د دې بانک د ۱۳۹۶ مالي کال د کړنو کلنی راپور تاسو ته وړاندې کیږی. دا راپور په لنډه توګه د نړیوال اقتصاد او د هېواد د اقتصادي وضعیت ترڅنګ؛ د پولي سیاست، د بازار عملیات، د اداینو د سیستمونو، د امانتونو د بیمې، د عامه اعتبارونو د ثبت، د مالي راپورونو او معاملو د څېړنې د مرکز او د ادارې او پراختیا څرنګوالی او کړنې رانغاړي.

له نیکه مرغه، ۱۳۹۶ مالي کال د افغانستان لپاره په بېلابېلو اقتصادي برخو یعنې د کورنیو ناخالصه تولیداتو د ودې، د توکو د صادراتو او د خدمتونو د وړاندې کولو، د پړسوب نرخ، د اسعاري زېرمو او د بانکي نظام د ودې په برخو کې یو مطلوب کال ؤ.

له همدې امله، د هېواد د کورني ناخالصه تولیداتو وده د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې ۲.۹ سلنه ثبت شوې ده، حال دا چې دا شمېره په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲.۰ سلنې ته رسیده.

د هېواد د توکو صادرات او خدمتونه د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د تیر مالي کال په پرتله ۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په ټولیزه توګه د توکو صادرات او خدمتونه په ۱۳۹۶ مالي کال کې ۱،۲۱۹.۸۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي، حال دا چې دا شمېره په تیر مالي کال کې ۱،۱۳۵.۲۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیده.

د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې په افغانستان کې د پولي پړسوب نرخ په مطلوب حد کې ( د ۳.۰۸ او ۷.۴۷ سلنې) ترمنځ واقع ؤ او د ۱۳۹۶ مالي کال د مرغومې په مایشت کې ۴.۳۰ سلنه محاسبه شوی دی.

د ۱۳۹۶ مالي کال لپاره د پولي زېرمو ( Reserve Money) وده ۱۲ سلنه ټاکل شوې وه چې له نېکه مرغه د افغانستان بانک توانیدلی دی چې ټاکل شوې هدف په بریالیتوب سره ترلاسه کړي. د پولي زېرمو حقیقي کچه د ۱۳۹۶ مالي کال په پای کې شاوخوا ۲۷۶.۳۱۸ میلیارده افغانۍ ثبت شوې چې تقریباً ۵.۷۳ میلیارده افغانۍ له ټاکل شوې حد څخه ټیټه ساتل شوې ده.

د هېواد خالصه نړیواله اسعاري زېرمې د ۱۳۹۶ مالي کال په پای کې شاوخوا ۷،۳۵۰.۳۴ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوي دي چې له ټاکل شوي هدف څخه ۴۲۵ میلیونه ډالره زیاتوالی ښکاره کوي.

په همدې ترتیب، د بانکي نظام ټولیزه شتمنی د تیر کال په پرتله ۵.۶۹ سلنه وده ښکاره کوي او د ۱۳۹۶ مالي کال په لیندۍ میاشت کې ۳۱۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي، حال دا چې دا شمېره په تیره ورته دوره (د ۱۳۹۵ کال په لیندۍ) کې ۲۹۸.۹۸ میلیارده افغانۍ وه.

د بانکي نظام ټولیزه امانتونه په ۱۳۹۵ مالي کال کې نوساني بهیر درلوده، خو د ۱۳۹۶ مالي کال د لیندۍ په میاشت کې یې ۴.۵۲ سلنه زیاتوالی موندلی دی. په ټولیزه امانتونو کې د جاري امانتونو ونډه ۷۴.۲۴ سلنې او د سپما امانتونو ونډه ۱۹.۲۴ سلنې ته رسیږي چې په افغانۍ او ډالرو ترسره شوي دي، حال دا چې موده ایزه امانتونه د ۱۳۹۶ مالي کال په لیندۍ کې نزولي بهیر درلودلی دی.

د مالي اقداماتو د نړیوالې ډلې له خړ لست څخه په بریالیتوب سره د افغانستان ویستل د افغانستان یوه بله لاسته راوړنه ده.

د افغانستان بانک د پیسو د وینځلو او ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې د رژیم د پیاوړتیا په برخه کې بې دریغه هلې ځلې د مالي اقداماتو د نړیوالې ډلې د پام وړ ګرځیدلي او له همدې امله نور د مالي اقداماتو د نړیوالې ډلې تر څارنې او د پیسو د وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل قضیو ته د لاسرسۍ د دوامداره بهیر لاندې نه راځي.

د پورته یادو شویو چارو ترڅنګ، د افغانستان بانک د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د عامه اعتبارونو د ثبت، د امانتونو د بیمې، د ادارو د کړنو د څرنګوالي د څیړنې، د خپرونو او اړیکو له لارې د افغانستان بانک د کړنو او لاسته راوړنو د انعکاسولو، د قوانینو او مقررو د طرحې او تعدیل، د ظرفیتونو د لوړولو او په داسې نورو برخو کې ښې لاسته راوړنې درلودلي دي چې د چارو د ښه والي په برخه کې د افغانستان بانک د تجربه لرونکو کارکوونکو له بې دریغه هلو ځلو څخه مننه کوم او د لوی خدای (ج) له دربار څخه ورته د نورو چارو په ترسره کولو کې بریاوې غواړم.

**خلیل صدیق**

**د افغانستان بانک لوی رئیس**

# نړيوال اقتصادي وضعيت

# نړیوال اقتصادي وضعیت


د نړیوال بانک د راپور پر بنسټ، د نړۍ اقتصاد د دوو کلونو منفي ودې وروسته په ۱۳۹۶ مالي کال کې د نړۍ د صنعتي کړنو د ښه والي او د نړیوالې سوداګرۍ کچې د زیاتېدو له امله ښه شوی او د مثبتې ودې په لور روان دی. په نږدې راتلونکي کې د اقتصادي بدلونونو لیدلوری هم مثبت دی او وړاندې وینه کېږي چې د پرمختللو، د پرمختګ په حال کې او د راغورځېدونکو هېوادونو وده به لا ښه شي. سره له دې چې نړیوال مالي وضعیت هومره مناسبه نه دی، خو د نړیواله اقتصادي ودې په لور پر ځان بسیاینه د پیاوړي کېدو په حال کې ده. نړیوال اقتصادي وضعیت چې په ۱۳۹۵ مالي کال کې یې ۲.۴ سلنه وده موندلې، په ۱۳۹۶ مالي کال کې ۲.۷ سلنه اټکل شوې ده.

په ۱۳۹۶ مالي کال کې د پرمختللو هېوادونو ټکنې وده درلودلې ده، خو داسې ښکاري چې د امریکې په متحدو ایالتونو کې د اقتصادي ودې د زیاتوالي سره به د دغو هېوادونو اقتصادي وده هم ښه شي. د جاپان او یورو سیمې اقتصادي وده د صادراتو او د تقاضا کچې د لوړوالي له امله ښه وضعیت درلودلی دی. په پرمختللو هېوادونو کې د خصوصي لګښت د نسبي زیاتوالي سره سره پانګې اچونې راکمې شوې دي. په روان کال کې د پرمختللو هېوادونو اقتصادي وده ۱.۹ سلنه ښودل شوې، په داسې حال کې چې تېر کال دا شمېره ۱.۷ سلنه وه.

د راغورځېدونکو او د پرمختګ په حال کې هېوادونو اقتصادي وده له ننګونې ډکه وه، ځرنګه چې په دغو هېوادونو کې د توکو د صادروونکو کړنه کمزوره وه، په داسې حال کې چې د وارداتو کچه بیا ښه ښودل شوې ده. د نړیوال بانک د راپور له مخې، په ۱۳۹۶ مالي کال کې د راغورځېدونکو او د پرمختګ په حال کې هېوادونو اقتصادي وده ۴.۱ سلنه ښودل شوې، په داسې حال کې چې دا شمېره په تېر مالي کال کې ۳.۵ سلنه وه.

(۱) ګراف: د ۲۰۱۰ تر ۲۰۲۰ کال پورې د اقتصادي ودې بهیر

نړیوال اقتصادي وضعیت




| | ۲۰۱۰ | ۲۰۱۱ | ۲۰۱۲ | ۲۰۱۳ | ۲۰۱۴ | ۲۰۱۵ | ۲۰۱۶ | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | ۲۰۱۹ | ۲۰۲۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پرمختللي اقتصادونه | ۷.۳ | ۶.۴ | ۴.۹ | ۵.۰ | ۴.۳ | ۳.۷ | ۳.۷ | ۴.۳ | ۴.۵ | ۴.۷ | ۴.۷ |
| راغورځېدلي او د پرمختګ په حال کې اقتصادونه | ۲.۹ | ۱.۶ | ۱.۱ | ۱.۳ | ۲.۰ | ۲.۳ | ۱.۷ | ۲.۳ | ۲.۲ | ۲.۰ | ۱.۷ |
| نړۍ | ۴.۳ | ۳.۳ | ۲.۵ | ۲.۶ | ۲.۹ | ۲.۸ | ۲.۴ | ۳.۱ | ۳.۱ | ۳.۰ | ۲.۹ |

سرچینه: نړیوال بانک

# د هېواد اقتصادي وضعيت او د پولي سياست کړنې

## د هېواد اقتصادي وضعیت او د پولي سیاست کړنې

### ۱. حقیقي سکتور

**اقتصادي وده:**

د هېواد کورني ناخالصه تولیدات د کرنې، صنعت او خدمتونو له سکتورونو څخه جوړ شوی دی. له نشه يي توکو پرته په ۱۳۹۶ مالي کال کې د کورنیو ناخالصه تولیداتو وده ۲.۹ سلنه ثبت شوې، په داسې حال کې چې تېر مالي کال دا شمېره ۲.۰ سلنه وه. د کورني ناخالصه تولیداتو په وده کې تر ټولو زیاته ونډه د صنعت او خدمتونو سکتور درلوده، خو د کرنې سکتور په دې دوره کې کمه وده کړې ده.

د کرنې سکتور چې د کورنیو ناخالصه تولیداتو ۲۰.۳ سلنه جوړوي، کچه يې د ۱۳۹۵ مالي کال له ۶.۰ سلنې څخه په ۱۳۹۶ مالي کال کې ۳.۸ سلنې ته راکمه شوې ده. د کرنې په سکتور کې د کموالي اصلي لامل د دې سکتور په فرعي برخو پورې اړه لري او دا سکتور يې تر اغیز لاندې راوستی دی. د صنعت سکتور چې د کورنیو ناخالصه تولیداتو ۲۲.۲ سلنه جوړوي، په ۱۳۹۶ مالي کال کې ۰.۹ سلنې ته رسيږي، حال دا چې دا شمېره په تیر مالي کال کې منفي ۱.۸ سلنه محاسبه شوې وه. دا زیاتوالی د صنعت سکتور د فرعي توکو (کان او کان کیندنه چې د تېر مالي کال له ۱۰.۴ سلنې څخه روان مالي کال کې ۱۳.۶ سلنې، خوراکي توکي، څښاك او تنباکو له ۱.۱ سلنې څخه ۲.۱ سلنې، کاغذي تولیدات، چاپ او خپرونې د ۰.۱ سلنې څخه ۴.۸ سلنې ته لوړ شوي دي) رامنځ ته شوی دی.


د خدمتونو سکتور د کورنیو ناخالصه تولیداتو ۵۲.۷ سلنه جوړوي. د خدمتونو سکتور وده د ۱۳۹۵ مالي کال د ۲.۰ سلنې څخه په ۱۳۹۶ مالي کال کې ۲.۶ سلنې ته زیاته شوې ده. دا زیاتوالی د عمده او پرچونې سوداګرۍ او رسټورانټونو او هوټلونو د سوداګرۍ د کچې د لوړیدو له امله رامنځ ته شوی دی. رسټورانټونو او هوټلونو د ۱۳۹۵ مالي کال له منفي ۷.۲ سلنې څخه په ۱۳۹۶ مالي کال کې ۱۰.۶ سلنې، عمده او پرچون سوداګرۍ له منفي ۹.۵ سلنې څخه ۱۲.۶ سلنې، ټرانسپورټ او زیرمې له ۰.۵ سلنې څخه ۱.۳ سلنې، د معاملاتو لاربښوونې او سوداګریزه خدمتونه له منفي ۳.۱ سلنې څخه ۲.۲ سلنې، د ودانیو مالکیت له ۲.۰ سلنې څخه ۳.۲ سلنې، دولتي خدمتونه له ۰.۵ سلنې څخه ۵.۵ سلنې ته لوړ شوي دي. دا بدلونونه په هېواد کې د اغېزناکه اقتصادي کړنو ښکارندوي کوي چې د خدمتونو د سکتور په وده کې يې مثبت اغیز درلودلی دی.

**( ۱ ) جدول: د کورنیو ناخالصه تولیداتو وده، د ۱۳۹۴ مالي کال څخه تر ۱۳۹۶ مالي کال پورې (د سلنې بدلونونه)**

| شاخص | د کورنیو ناخالصه تولیداتو د ودې پرتله | | |
|---|---|---|---|
| | ۱۳۹۶ مالي کال | ۱۳۹۵ مالي کال | ۱۳۹۴ مالي کال |
| | ۱۸/۲۰۱۷ | ۱۷/۲۰۱۶ | ۱۶/۲۰۱۵ |
| کورني ناخالصه تولیدات | ۲.۹ | ۲.۰ | ۱.۵ |
| کرنه | ۳.۸ | ۶.۰ | −۵.۷ |
| صنعت | ۰.۹ | −۱.۸ | ۴.۵ |
| خدمتونه | ۲.۶ | ۲.۰ | ۱.۷ |

(۲) ګراف: د کورنیو نـاخالصه تـولیداتو د ودې کچه، له ۱۳۸۲ کال څخه تر ۱۳۹۶ مالي کاله پورې

د کورنیو ناخالصه تولیداتو د ودې کچه




**پولي انفلاسیون**

په ۱۳۹۶ مالي کال کې د هېواد د پولي انفلاسیون نرخ په مطلوب حد کې ؤ. د افغانستان بانک د انفلاسیون په نرخ کې له نوسانونو سره سره توانیدلی دی چې دا نوسانونه په بریالیتوب سره کنټرول کړي. په ۱۳۹۶ مالي کال کې د انفلاسیون نرخ د ۳.۰۸ سلنې او ۷.۴۷ سلنې په منځ کې واقع ؤ او د همدې کال په مرغومي میاشت کې ۴.۳۰ سلنه محاسبه شوی دی، په داسې حال کې چې د ۱۳۹۶ مالي کال په لیندۍ میاشت کې دا نرخ ۳.۰۸ سلنه ثبت شوی دی. دا بهیر د اقتصادي کړنو د زیاتوالي او د پولي موخو د تحقق په برخه کې د بانک د بریا ښکارندوي کوي.

د ۱۳۹۶ مالي کال په مرغومي میاشت کې د عمومي انفلاسیون نرخ د لوړوالي لامل د دواړه خوراکي او غیر خوراکي توکو د بیو زیاتوالی ښودل شوی دی.

د ۱۳۹۶ مالي کال په مرغومي میاشت کې د خـوراکي تـوکـو شاخص ۵.۵۷ سلنې ته رسیدلی، په داسې حال کې چې د همدې کال په لیندۍ میاشت کې دا شمېره ۴.۵۵ سلنه محاسبه شوې وه. همدا ډول، د غیر خوراکي توکو انفلاسیون چې د ۱۳۹۶ کال پـه لیندۍ میاشت کې ۱.۷۲ سلنه محاسبه شوې وه، د همدې کال پـه مرغومي میاشت کې ۳.۱۲ سلنې ته لوړوالی موندلی دی.


پـه هېواد کې د انفلاسیوني بدلونونو د لا کره کتنې پـه مـوخـه، مرکزي بانک د اصلي انفلاسیون معیار هم تر غور لاندې نیـولـی دی. د دې معیار پر بنسټ، کوم غیر معـمـولـی عـوامـل چـې د موسمي بدلونونو یا نورو ځانګړو حالتونو له امله رامنځ ته کېږي، له شاخص څخه ایستل کېږي څو پر عمومي شاخص بـانـدې د هغه له اغېزې څخه مخنیوی وشي. د اصلي انفلاسیون له مـهـمـو معیارونو څخه یو د اوسط موندنې میتود دی. دا معیار د شاخـص یو مشخصه (۷۰ سلنه) برخه چې نورماله بدلونونه ښکـاره کـوي، رانغاړي. د دې معیار پر بنسټ، د انفلاسیون نرخ د ۱۳۹۶ مـالـي کال د لیندۍ میاشتې د ۲.۰۱ سلنې څخه په مرغومي میاشت کـې ۲.۶۹ سلنې ته لوړه شوې ده.

(۲) جدول: د کـلـنـي عمومي شاخص د انفـلاسـیـون نـرخ، د ۱۳۹۵ د مرغومي څخه د ۱۳۹۶ مرغومي پورې

د کلني عمومي شاخص د انفلاسیون نرخ

| اقلام | ۹۵ مرغومی | ۹۵ سلواغه | ۹۵ کب | ۹۶ وری | ۹۶ غویي | ۹۶ غبرګولی | ۹۶ چنګاښ | ۹۶ زمری | ۹۶ وږی | ۹۶ تله | ۹۶ لړم | ۹۶ لیندۍ | ۹۶ مرغومي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| عمومي شاخص | ۳.۷۵ | ۴.۰۷ | ۷.۱۶ | ۶.۶۵ | ۷.۴۵ | ۷.۴۷ | ۵.۱۱ | ۴.۵۳ | ۳.۸۲ | ۳.۷۷ | ۳.۰۹ | ۳.۰۸ | ۴.۳۰ |
| د خوراکي توکو شاخص | ۴.۷۰ | ۴.۵۵ | ۱۰.۰۳ | ۹.۳۷ | ۱۰.۷۲ | ۱۰.۸۸ | ۷.۳۵ | ۵.۸۶ | ۵.۳۸ | ۵.۴۴ | ۴.۶۶ | ۴.۵۵ | ۵.۵۷ |
| د ناخوراکي توکو شاخص | ۲.۸۸ | ۳.۶۳ | ۴.۴۸ | ۴.۱۰ | ۴.۴۱ | ۴.۳۰ | ۳.۰۱ | ۳.۲۸ | ۲.۳۸ | ۲.۲۴ | ۱.۶۵ | ۱.۷۲ | ۳.۱۲ |
| د اوسط موندنې میتود (۳۰٪ **Trimmed Mean**) | ۴.۰۳ | ۴.۵۶ | ۶.۸۳ | ۵.۹۵ | ۶.۹۱ | ۶.۲۲ | ۳.۷۱ | ۳.۱۱ | ۲.۳۷ | ۲.۱۱ | ۱.۹۲ | ۲.۰۱ | ۲.۶۹ |

(۳) ګراف: د مصرفي توکو د بيو شاخص، د ۱۳۹۵ د مرغومي څخه د ۱۳۹۶ مرغومي پورې (کلني بدلونونه)




## ۲- بهرنی سکتور

### بهرنی سوداګری

د شته شمېرو پر بنسټ، په ۱۳۹۶ مالي کال کې د هېواد د خدمتونو او اجناسو صادرات د تېر مالي کال په پرتله ۷ سلنه زياتوالی ښکاره کوي. په ۱۳۹۶ مالي کال کې د هېواد د خدمتونو او اجناسو د ټوليزه صادراتو ارزښت ۱،۲۱۹.۸۴ ميليون امريکايي ډالرو ته رسېږي، په داسې حال کې چې تېر کال دا شمېره ۱،۱۳۵.۲۳ ميليون امريکايي ډالره ثبت شوې دی.

سربېره پر دې، د ۱۳۹۵ مالي کال په پرتله، په ۱۳۹۶ مالي کال کې د هېواد د خدمتونو او اجناسو وارداتو ۱۰ سلنه زياتوالی موندلی، څرنګه چې په روان کال کې د هېواد د وارداتو ټوليزه ارزښت ۸،۱۹۱.۹۵ ميليون امريکايي ډالره ښودل شوی، په داسې حال کې چې تېر کال دا شمېره ۷،۴۷۶.۰۷ ميليون ډالره ثبت شوې ده.

د همدې لپاره د سوداګرۍ بيلانس کسر ۱۰ سلنه زياتوالی ښکاره کوي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د ۶،۳۴۰.۸۳ ميليون امريکايي ډالرو څخه په ۱۳۹۶ مالي کال کې ۶،۹۷۲.۱۱ ميليون امريکايي ډالرو ته رسېږي.


د ۱۳۹۵ مالي کال په پرتله په ۱۳۹۶ مالي کال کې د هېواد خالصه لومړنيو عوايدو ۲ سلنه زياتوالی موندلی چې د ۹۴.۵۷ ميليون امريکايي ډالرو څخه ۹۶.۱۲۲ ميليون ډالرو ته رسېږي، خو ثانوي عوايدو (بلاعوض مرستې او د کارګرانو د وجوه لېږدونې) ۱۶ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي او په ۱۳۹۵ مالي کال کې د ۲،۵۹۸.۵۴ ميليون امريکايي ډالرو څخه په ۱۳۹۶ مالي کال کې ۲،۱۹۲.۸۸ ميليون امريکايي ډالرو ته رسېدلی دی.

په ټوليزه توګه، په ۱۳۹۶ مالي کال کې د جاري حساب کسر شاوخوا ۲۸ سلنه زياتوالی ښکاره کوي چې د تېرې دورې د ۳،۶۴۷.۷۲ ميليون امريکايي ډالرو څخه د ارزونې لاندې موده کې ۴،۶۸۳.۱۱ ميليون امريکايي ډالرو ته رسېږي.

(۳) جدول: د جاري حساب بيلانس، په ميليون امريکايي ډالر

| اجزا/ دوره | د ۱۳۹۵ لومړۍ ربعه | د ۱۳۹۵ دويمه ربعه | د ۱۳۹۵ دريمه ربعه | د ۱۳۹۵ څلورمه ربعه | د ۱۳۹۵ مالي کال | د ۱۳۹۶ لومړۍ ربعه | د ۱۳۹۶ دويمه ربعه | د ۱۳۹۶ دريمه ربعه | د ۱۳۹۶ څلورمه ربعه | ۱۳۹۶ مالي کال |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د خدمتونو او اجناسو صادرات | ۲۶۲.۳۵ | ۲۵۰.۹۴ | ۲۸۹.۴۷ | ۳۳۲.۴۸ | ۱،۱۳۵.۲۳ | ۲۱۵.۷۸ | ۲۳۲.۶۵ | ۳۵۱.۶۴ | ۴۱۹.۷۶ | ۱،۲۱۹.۸۴ |
| د خدمتونو او اجناسو واردات | ۱،۹۳۲.۱۷ | ۱،۷۱۰.۴۶ | ۱،۷۰۴.۶۲ | ۲،۱۲۸.۸۲ | ۷،۴۷۶.۰۷ | ۱،۸۲۲.۴۲ | ۲،۲۱۳.۷۹ | ۱،۹۲۰.۰۵ | ۲،۲۳۵.۶۹ | ۸،۱۹۱.۹۵ |
| د سوداګرۍ بيلانس کسر | **-۱،۶۶۹.۸۲** | **-۱،۴۵۹.۵۲** | **-۱،۴۱۵.۱۶** | **-۱،۷۹۶.۳۴** | **-۶،۳۴۰.۸۳** | **-۱،۶۰۶.۶۳** | **-۱،۹۸۱.۱۴** | **-۱،۵۶۸.۴۱** | **-۱،۸۱۵.۹۳** | **-۶،۹۷۲.۱۱** |
| د لومړنيو عوايدو کسر | ۱۹.۰۴ | ۱۷.۳۱ | ۲۴.۴۲ | ۳۳.۸۰ | ۹۴.۵۷ | ۱۷.۱۷ | ۳۴.۹۱ | ۱۹.۲۵ | ۲۴.۷۹ | ۹۶.۱۲ |
| د ثانوي عوايدو حساب | ۵۶۷.۶۹ | ۸۳۵.۴۱ | ۴۸۶.۲۴ | ۷۰۹.۲۰ | ۲۵۹۸.۵۴ | ۴۲۴.۶۸ | ۴۴۶.۹۵ | ۷۰۰.۹۱ | ۶۲۰.۳۵ | ۲،۱۹۲.۸۸ |
| د جاري حساب کسر | **-۱،۰۸۳.۰۹** | **-۶۰۶.۸۰** | **-۹۰۴.۴۹** | **-۱،۰۵۳.۳۴** | **-۳،۶۴۷.۷۲** | **-۱،۱۶۴.۷۸** | **-۱،۴۹۹.۲۹** | **-۸۴۸.۲۵** | **-۱،۱۷۰.۷۹** | **-۴،۶۸۳.۱۱** |

(۴) ګراف: د ۱۳۹۵ او ۱۳۹۶ مالي کال د سوداګرۍ بيلانس پرتله




سرچينه: د پولي سياست عمومي آمريت، د افغانستان بانک

**د مالي او پانګه ايزه حسابونو بيلانس**

د هېواد د ادباينو بيلانس پانګه ايزه حساب په ۱۳۹۶ مالي کال کې **۱۴۷۸.۹۳** ميليون امريکايي ډالره ده، په داسې حال کې چې تېر مالي کال کې دا شمېره **۱۶۵۴.۲۵** ميليون امريکايي ډالره ثبت شوې چې ۱۱ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي. دا ټيټوالی په عمده توګه د پانګه ايزه لېږدونو د کموالي له امله رامنځ ته شوی دی.

په ۱۳۹۶ مالي کال کې د بهرنۍ مستقيمه پانګونې خالصه ارزښت ۴۱ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي چې په ۱۳۹۵ مالي کال کې د ۱۰۸.۳۷ ميليون امريکايي ډالرو څخه په ۱۳۹۶ مالي کال کې ۶۴.۱۸ ميليون امريکايي ډالرو ته راټيټ شوی دی. همدا ډول، غير مستقيمه پانګه اچونه (په پور پانو بانډې پانګه اچونه) د تېر کال له ۹۸.۷۰ ميليون امريکايي ډالرو څخه د ارزونې لانډې موده کې منفي ۲۹.۱۱ ميليون امريکايي ډالرو ته راټيټه شوې ده.

(۴) جدول: د مالي او پانګه ايزه حساب بيلانس (په ميليون امريکايي ډالر)

| اجزا/دوري | د ۱۳۹۵ لومړۍ ربعه | د ۱۳۹۵ دويمه ربعه | د ۱۳۹۵ دريمه ربعه | د ۱۳۹۵ څلورمه ربعه | د ۱۳۹۵ مالي کال | د ۱۳۹۶ لومړۍ ربعه | د ۱۳۹۶ دويمه ربعه | د ۱۳۹۶ دريمه ربعه | د ۱۳۹۶ څلورمه ربعه | د ۱۳۹۶ مالي کال |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مالي او پانګه ايزه حساب | ۴۳۱.۴۷ | ۵۵۸.۹۸ | ۴۶۰.۷۶ | ۷۲۰.۶۸ | ۲،۱۷۱.۸۹ | ۲۰۳.۴۴ | ۳۳۰.۵۴ | ۶۵۶.۹۷ | ۶۸۵.۱۲ | ۱،۸۷۶.۰۷ |
| **پانګه ايزه حساب** | **۳۲۴.۹۷** | **۴۰۰.۹۸** | **۳۸۸.۶۸** | **۵۳۹.۶۱** | **۱،۶۵۴.۲۵** | **۱۵۳.۳۶** | **۳۵۶.۴۸** | **۴۸۰.۸۸** | **۴۸۸.۲۱** | **۱،۴۷۸.۹۳** |
| د پانګې لېږدونې | ۳۲۷.۸۸ | ۴۰۳.۸۴ | ۳۸۸.۶۸ | ۵۴۱.۵۳ | ۱،۶۶۱.۹۳ | ۱۵۳.۳۶ | ۳۵۶.۴۸ | ۴۸۰.۸۸ | ۴۸۸.۲۱ | ۱،۴۷۸.۹۳ |
| **مالي حساب** | **۱۰۶.۴۹** | **۱۵۸.۰۰** | **۷۲.۰۸** | **۱۸۱.۰۷** | **۵۱۷.۶۴** | **۵۰.۰۸** | **-۲۵.۹۴** | **۱۷۶.۰۹** | **۱۹۶.۹۱** | **۳۹۷.۱۴** |
| مستقيمه پانګه اچونه | -۲۰.۱۷ | -۲۵.۶۳ | -۲۸.۰۳ | -۳۴.۵۴ | -۱۰۸.۳۷ | -۱۲.۹۷ | -۲۰.۴۴ | -۱۷.۰۰ | -۱۳.۷۸ | -۶۴.۱۸ |
| غير مستقيمه پانګه اچونه | ۱۸.۴۷ | ۳۹.۱۵ | ۲۰.۳۳ | ۲۰.۷۵ | ۹۸.۷۰ | ۳۶.۶۲ | -۳۰.۱۵ | -۱۱.۵۷ | -۲۴.۰۱ | -۲۹.۱۱ |


سرچينه: د پولي سياست عمومي آمريت، د افغانستان بانک

## ۳- پولي سکتور

**نقدينګی (پولي زيرمې او په ګردښت کې پيسې)**

د ۱۳۹۶ مالي کال لپاره د پولي زيرمې د ودې کچه ۱۲ سلنه ټاکل شوې وه چې له نيکه مرغه د افغانستان بانک وتوانيد چې دا هدف په بريالي توګه ترلاسه کړي. د ۱۳۹۶ مالي کال په پای کې د پولي زيرمې حقيقي کچه ۲۷۶.۳۱۸ ميليارد افغانۍ ثبت شوې چې نږدې ۵.۷۳ ميلیارده افغانۍ له ټاکل شوي حد څخه ټيټه ساتل شوې ده.

(۵) ګراف: د پولي زيرمې وده، د ۱۳۹۶ مالي کال له پيل څخه د لينډۍ تر ۳۰ نيټې پورې





سرچينه: د پولي سياست عمومي آمريت، د افغانستان بانک

همدا ډول، په ګردښت کې د پیسو (Currency in Circulation) کچه ۱۲ سلنه ټاکل شوې چې د ۱۳۹۶ مالي کال په پای کې ۲۲۸.۶۸ میلیارده افغانۍ ته رسېږي. د ۱۳۹۵ مالي کال په پرتله په ۱۳۹۶ مالي کال کې په ګردښت کې د پیسو کچه ۲.۱۶ سلنه زیاته شوې او د ټاکل شوي هدف څخه ۲۱.۷۴ میلیارده افغانۍ ټیټ ثبت شوی دی. له همدې کبله ویلای شو چې د پولي زیرمې او په ګردښت کې د پیسو حقیقي کچه د ټاکل شوي حد څخه لږه ده او ښکاره کوي چې د نقدینګۍ د کنټرول لپاره پولي سیاست په بریالي توګه تطبیق شوی دی.

(۶) ګراف: په ګردښت کې د پیسو کچه، د ۱۳۹۶ مالي کال له پیل څخه د لیندۍ تر ۳۰

په ګردښت کې د پیسو کچه، د ۱۳۹۶ مالي کال له پیل څخه د لیندۍ تر ۳۰ (د ۲۰۱۷ د دسمبر ۲۱)




سرچینه: د پولي سیاست عمومي آمریت، د افغانستان بانک

**د افغانستان بانک د خالصه نړیوالو زیرمو کچه**

د هېواد خالصه نړیواله زیرمې د ۱۳۹۶ مالي کال په پای کې ۷،۳۵۰.۳۴ میلیون امریکایي ډالره ثبت شوې چې د ټاکل شوي حد څخه ۴۲۵ میلیون ډالره زیات دی.

(۵) جدول: په پولي شاخصونو کې د بدلونونو تفصیل

| پولي شاخصونه او نړیوالې زیرمې | | | |
|---|---|---|---|
| | د ۱۳۹۵ د لیندۍ ۳۰ | د ۱۳۹۶ د لیندۍ ۳۰ | په سلنې بدلون |
| د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ | ۶۶.۸۴ | ۶۹.۴۹ | ۳.۹۶ |
| پولي زیرمې، په میلیون افغانۍ | ۲۵۲۰۷۵.۷۶ | ۲۷۶۳۱۸.۰۵ | ۹.۶۲ |
| په ګردښت کې پیسې، په میلیون افغانۍ | ۲۲۳۸۳۹.۱۷ | ۲۲۸۶۸۵.۱۹ | ۲.۱۶ |
| ټولیزه نړیواله زیرمې، په میلیون ډالر | ۶۸۲۴.۶۶ | ۷۳۵۰.۳۴ | ۷.۷۰ |


**د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ**

مرکزي بانک د مدیریت شوي متحوله مبادلې نرخ رژیم تعقیبوي او په دا ډول رژیم کې د مبادلې نرخ په بازار کې د عرضې او تقاضا پر بنسټ تعیینیږي. څرنګه چې څرګنده ده، افغانستان د شدید سوداګریز کسر سره مخ دی چې د وارداتو په وړاندې اداینه په اسعارو باندې ترسره کیږي. له همدې کبله، د اسعارو په بازار کې د افغانۍ ارزښت تر فشار لاندې راغلی چې دا موضوع د اسعارو په وړاندې د افغانۍ د ارزښت د ټیټوالي یو ستر عامل ګڼل کیږي.

د ۱۳۹۶ مالي کال په پای کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ ۶۹.۴۹ ؤ چې د تېر کال د ورته مودې په پرتله ۳.۹۶ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. همدا ډول، د پاونډ او یورو په وړاندې د افغانۍ نرخ په ترتیب سره ۱۱.۴۷ او ۱۷.۸۰ سلنه ټیټ ثبت شوی دی.

(۷) ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ

په ۱۳۹۶ مالي کال کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی نرخ




سرچینه: د پولي سیاست عمومي آمریت، د افغانستان بانک

کوم عوامل چې د اسعارو په وړاندې د افغانۍ پر مبادلوي ارزښت باندې فشار راوړي هغه پر وارداتو باندې د اقتصاد اتکا، پر اسعارو باندې د اقتصاد اتکا، د پانګې تیښته او امنیتي ننګونې دي.

## د پولي سیاست د تطبیقولو په برخه کې د افغانستان بانک اقدامات

د افغانستان بانک له عمده موخو څخه یو هم د کورنیو بیو د ثبات ساتل دی. د افغانستان بانک د مدیریت شوي متحوله رژیم (Managed Floating Exchange Rate) تعقیبوي چې د نورو عواملو تر څنګ د دا شان مبادلوي رژیم او پر وارداتو باندې د اقتصاد اتکا د دې سبب کیږي چې د اسعارو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ ډېر نوسانات ولري. مرکزي بانک د نوساناتو د کنټرولولو په موخه د ازاد بازار له عملیاتو (د اسعارو او پور پانو لیلام) څخه ګټه اخلي چې په ۱۳۹۶ مالي کال کې په ټولیزه توګه ۱،۹۴۷.۱۷ میلیون امریکایي ډالر د اسعارو د لیلام له لارې پلورلي دي او د ۱۳۲.۶۲ میلیارده افغانۍ معادل یې له بازار څخه راټول کړي دي.

یو بل ابزار چې د افغانستان بانک ترې د نقدینګۍ د کنټرولولو په موخه ګټه اخلي، هغه د پانګه ایزو پاڼو پلورل دي چې د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې ۲۴.۹۸ میلیارده افغانۍ پلورل شوي او د بانکونو سره د پاتې پانګه ایزو پاڼو مبلغ ۴۳.۹۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي.

### ۴- د مالي سکتور بدلونونه

د روان مالي کال په اوږدو کې (د ۱۳۹۵ د مرغومي ۱ څخه د ۱۳۹۶ د لیندۍ ۳۰ پورې) د پولي سیاست د عمومي آمریت د مالي سکتور معاونیت د هېواد د اقتصادي ودې او ثبات په موخه د مالي سکتور بیلابیلې برخې (بودجه، عواید او لګښتونه) د درې میاشتني او کلني خپرونو لپاره تحلیل کړي چې تر ارزونې لاندې مالي کال کې د هېواد مالي سکتور د امنیتي، سیاسي ستونزو او د مبادلې نرخ د بدلون له امله تر منفي اغېزې لاندې راغلی دی.

د پولي سیاست آمریت د مالي سکتور برخې د بودجې، عوایدو او لګښتونو په ګډون د نورو برخو په اړه د معلوماتو او مالي شمېرو د ترلاسه کولو په موخه د مالیې وزارت (د بودجې ریاست، د خزانې ریاست او د مالي پالیسی ریاست) سره د یو منظم پلان پر بنسټ پرمخ ځي چې څنګه په بهرنیو مرستو کې زیاتوالی یا ټیټوالی یا داسې نور بدلونونه رامنځ ته کیږي او د معلوماتو او شمېرو د راټولولو لپاره د جګپوړو مسوولینو سره د بیلو غونډو له لارې اړیکې نیسي. د پولي سیاست آمریت د مالي سکتور څانګه او د مالیې وزارت بیلابیل ریاستونه د بودجې، عوایدو او لګښتونو برخو د مدیرانو په ګډون د نورو چارواکو سره د بیلابیلو غونډو له لارې د مالیې وزارت د اړتیا وړ معلومات او شمېرې د پېژندنې په پام کې نیولو سره شریکوي او د مالي سکتور د ښه والي او ودې لپاره یو بل سره نږدې همکاري کوي.

د دې سربېره، د پولي سیاست آمریت د مالي سکتور څانګه د کلني کاري پلان سره سم، د عامه او خصوصي ګډون د پروګرامونو (Public Private Partnership) د عملي کولو لپاره د څانګړي استازي او د دې ریاست د عامه ګډون د مشورتي بورډ د غړي په توګه عمل کوي. د دې ترڅنګ، دا برخه د اروپایي اتحادیې د قوانینو او مقررو سره سم د مالیې وزارت د دولت د بیارغونې په تړون (State Building Contract) کې چې په ۱۳۹۶ کال کې پیل شوی، ونډه لري. د دې تړون پر بنسټ، د عامه پالیسی، لوی اقتصاد د کاري چوکاټ، د عامه مالي مدیریت په برخو کې په یو لړ سمونونو باندې هوکړه شوې او اروپایي ټولنه د دغو سمونونو په بدل کې افغانستان ته په خپل خوښې ۲۰۰ میلیونه یورو مرسته کوي. د افغانستان بانک د یادو پروګرامونو لپاره د څانګړي استازي په توګه د اقتصادي شاخصونو د بیلو راپورونو په جوړولو کې د محرمیت په پام کې نیولو سره عمده رول لوبوي څو یاد تړون د مالیې وزارت د پلان سره سم په ټاکلي وخت او په دقیقه توګه عملي او تطبیق شي.

د پولي سیاست آمریت د مالي سکتور څانګې د ۱۳۹۶ کلنـي کاري پلان سره سم توانیدلی دی چې د مالي سکتور د متحولینو اړوندې شمېرې په میاشتنې، درې میاشتنې او کلنې توګه راټول او درې میاشتنې او کلنې احصائیوي خپرونې جوړې کړې. د دې ترڅنګ، اقتصادي میاشتني راپورونه یې د افغانستان بانک عـامل پلاوي ته وړاندې کړې او د مالي سکتور (بودجې، عـوایـدو او لګښتونو) کره شمېرې یې د افغـانسـتان بـانـک د Financial Programming & Policies پروګرام لپاره وړاندې کړې دي.

د شته ننګونو سره سره، په ۱۳۹۶ مالي کال کې ټـولـیزه راټـول شوي عوایـد ۱۶۹.۳۸ میلیارد افغانۍ تـه رسیږي چې د تېر کال د راټول شویو عوایدو په پرتله ۱۵۴.۴۸ میلیارده افغانۍ یا ۱۰ سـلـنـه زیاتوالی ښکاره کوي.

( ۶ ) جدول: د ۱۳۹۶ منظور شوې بودجه، د کال د پای تحقق موندلې عملیاتي بودجه او د ۱۳۹۷ وړاندیز شوې بودجه

| | د ۱۳۹۶ مالي کال منظور شوې بودجه | | د ۱۳۹۶ مالي کال د پای تحقق موندلې حقیقي بودجه | | ۱۳۹۷ وړاندیز شوې بودجه | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | میلیارد افغانۍ | میلیارد امریکایي ډالر | میلیارد افغانۍ | میلیارد امریکایي ډالر | میلیارد افغانۍ | میلیارد امریکایي ډالر |
| ټولیزه اصلي بودجه | ۴۲۹.۴۱ | ۶.۴۰ | ۳۵۶.۶۳ | ۵.۳۲ | ۳۷۷.۰۱۱ | ۵.۵۱۶ |
| عادي بودجه | ۲۶۸.۴۱ | ۴.۰۰ | ۲۵۳.۰۹ | ۳.۷۷ | ۲۶۶.۱۳۳ | ۳.۸۹۴ |
| پراختیایي بودجه | ۱۶۱.۰۰ | ۲.۴۰ | ۱۰۳.۵۴ | ۱.۵۴ | ۱۱۰.۸۷۸ | ۱.۶۲۲ |
| ټولیزه عایدات | ۴۱۹.۳۶ | ۶.۲۵ | ۳۵۱.۸۴ | ۵.۲۵ | ۳۵۲.۹۰ | ۵.۱۱۱ |
| کورني عواید | ۱۶۰.۵۶ | ۲.۳۹ | ۱۶۹.۳۸ | ۲.۵۲ | ۱۶۱.۶۲ | ۲.۳۶۴ |
| بهرني مرستې | ۲۵۸.۸۰ | ۳.۸۶ | ۱۸۲.۴۶ | ۲.۷۲ | ۱۹۱.۲۸ | ۲.۷۴۷ |

**د ۱۳۹۶ مالي کال د بودجې وضعیت:**

**د ۱۳۹۶ تر لیندۍ میاشتې پورې د ۱۳۹۶ مالي کال ملي بودجه ۴۲۹.۴۱ میلیارده افغانۍ او تحقق موندلې ۳۵۶.۶۳ میلیارده افغانۍ**

- عادي بودجه: اټکل شوې ۲۶۸.۴۱ میلیارده افغانۍ، تحقق موندلې ۲۵۳.۰۹ میلیارده افغانۍ
- پراختیایي بودجه: اټکل شوې ۱۶۱.۰۰ میلیارده افغانۍ، تحقق موندلې ۱۰۳.۵۴ میلیارده افغانۍ
- کورني عواید: اټکل شوې ۱۶۰.۵۶ میلیارده افغانۍ، تحقق موندلې ۱۶۹.۳۸ میلیارده افغانۍ
- بهرني مرستې: اټکل شوې ۲۵۸.۸۰ میلیارده افغانۍ، تحقق موندلې ۱۸۲.۴۶ میلیارده افغانۍ

**د ۱۳۹۷ مالي کال د ملي بودجې اټکل ۳۷۷.۰۱ میلیارده افغانۍ، د ۵.۵۱ میلیارده امریکایي ډالرو معادل**

- د عادي بودجې اټکل: ۲۶۶.۱۳ میلیارده افغانۍ، د ۳.۸۹ میلیارده امریکایي ډالرو معادل
- د پراختیایي بودجې اټکل: ۱۱۰.۸۷۸ میلیارده افغانۍ، د ۱.۶۲ میلیارده امریکایي ډالرو معادل
- د کورني عوایدو اټکل: ۱۶۱.۶۲ میلیارده افغانۍ، د ۲.۳۶ میلیارده امریکایي ډالرو معادل
- د بهرنیو مرستو اټکل: ۱۹۱.۲۸ میلیارده افغانۍ، د ۲.۷۴ میلیارده امریکایي ډالرو معادل

# د بانکي نظام د وضعیت او کړنو څرنګوالی

# د بانکي نظام د وضعیت او کړنو څرنګوالی

د بانکي نظام عمده مالي شاخصونو د تیر کال په اوږدو کې لوړېدونکی بهیر درلوده، خو بانکي نظام لاهم د شتمنیو د ټیټ کیفیت له امله تر فشار لاندې دی. د شتمنیو زیاتوالی د پورونو د زیاتوالي، د نغدي پیسو او د امانتونو د تزریق په مرسته تأمین شوی دی. مالي پانګه سالم وضعیت لري، ځکه چې دا وضعیت د نغدي پیسو د تزریق او د ګټې د زیاتوالي له امله رامنځ ته شوی دی. مالي نظام د نقدینګی له پلوه په مناسبه کچه کې واقع دی. ټولیزه ناخالصه پورونو هم د پورونو د ورکړې او د ډالرو په نرخ کې د لوړوالي له امله د تېر کال په اوږدو کې زیاتوالی درلودلی دی.

د بانکي نظام ټولیزه شتمنی د ارزونې لاندې موده کې ۳۱۶.۰۰ میلیارد افغانی ته رسېږي چې د تېر کال د ورته دورې (د ۱۳۹۵ لیندۍ) د ۲۹۸.۹۸ میلیارد افغانی په پرتله ۵.۶۹ سلنه وده ښکاره کوي. د بانکي نظام شتمنیو په تېره یوه میاشت کې په ټولیزه توګه ۳.۷۷ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

د بانکي نظام ټولیزه ناخالصه پورونه د ۱۳۹۶ کال په لیندۍ میاشت کې ۴۱.۸۰ میلیارد افغانۍ ته رسېږي چې د تېر کال (۱۳۹۵ لیندۍ) په پرتله ۱.۳۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په ټولیزه پورونو کې د زیاتوالي عمده لامل د پورونه ورکړه او د ډالر د نرخ لوړوالی ښودل شوی او د تېرې میاشتې (۱۳۹۶ لړم) په پرتله ۴.۵۱ سلنه زیات شوی دی. حال دا چې د ۱۳۹۶ کال د لیندۍ میاشتې کې یو شمېر پورونه تصفیه او د بانک له بیلانس شیټ څخه لرې شوي دي.

امانتونه چې په بانکونو کې د تمویل بنسټیزه سرچینه ګڼل کیږي، د ۱۳۹۶ مالي کال د لیندۍ په میاشت کې ۲۷۰.۲۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال (۱۳۹۵ لیندۍ) په پرتله ۶.۰۰ سلنه وده په ګوته کوي. په بانکونو کې د تمویل دا بنسټیزه سرچینه د تیرې میاشتې راهیسې ۴.۵۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې دا زیاتوالی د جاري امانتونو او د سپما امانتونو په برخو کې په ترتیب سره ۷۴.۲۴ سلنې او ۱۹.۲۴ سلنې ته رسیږي چې په افغانی او امریکایي ډالرو ترسره شوي دي، په داسې حال کې چې مودیزه امانتونه د ۱۳۹۶ کال په لیندۍ میاشت کې ټیټیدونکی بهیر درلوده.

بانکي نظام کافي مالي پانګه لري او د تیرې دورې (۱۳۹۵ لیندۍ) په پرتله ۵.۳۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې عمده لامل یې د کال په اوږدو کې د نغدي پیسو او ګټې تزریق ګڼل کیږي.

د افغانستان بانکي نظام د ۱۳۹۶ مالي کال (۲۰۱۷) په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۱.۷۶ میلیارده افغانۍ خالصه ګټه کړې ده چې په تیره ورته دوره (۱۳۹۵ یا ۲۰۱۶) کې یې ۴.۲۹ میلیارده افغانۍ خالصه ګټه کړې وه. په پایله کې له شتمنیو څخه د ترلاسه شوي ګټې نسبت د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ له ۱.۵۶ سلنې څخه په دې دوره ( ۱۳۹۶ لیندۍ) کې ۰.۶۴ سلنې ته راکم شوی دی.

د ټولو بانکونو سیالیت د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد سره په مطابقت کې قرار لري، خو د اسعارو د پرانیستي وضعیت له پلوه ټول بانکونه (پرته له څلورو بانکونو چې د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد څخه د اسعارو لپاره±۴۰ سلنه او انفرادي اسعارو لپاره±۲۰ سلنې څخه سرغړونه کړې ده) نور بانکونه د افغانستان بانک د حد اقل ټاکل شویو حدودو سره مطابقت لري.

د ۱۳۹۶ مالی کال په اوږدو کې د یو بانک مالي پانګه له ټاکل شوي حدودو څخه ټیټه وه؛ خو د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت له یو بانک پرته د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو

ټیټ حد ( د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ په سلو کې ۱۲) څخه لوړه ده. د بانکي نظام د مقرراتي پانګې نسبت شاوخوا ۲۹.۹۲ سلنه دی چې د تیر کال (۱۳۹۵ لینډۍ) د ۲۷.۶۸ سلنې په پرتله ۲.۲۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د افغانستان په بانکي نظام کې ۱۵ جواز لرونکي بانکونه فعالیت کوي چې له دې ډلې ۳ دولتي بانکونه، ۹ خصوصي بانکونه او پاتې ۳ د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ دي.

(۷) جدول په هېواد کې د نمایندګیو شمېر او د بانکي نظام نورې شته اسانتیاوې وړاندې کوي


| اسانتیاوې | شمېر |
|---|---|
| له بشپړو خدمتونو سره نمایندګۍ | ۲۰۴ |
| له محدودو خدمتونو سره نمایندګۍ | ۲۱۲ |
| د صرافۍ اتومات ماشینونه ( ۲۲ ډوله) | ۲۴۸ |
| *نورې اسانتیاوې(۲۱،۲۴،۲۵ ډوله) | ۹۲ |
| د پلور ځایونه (۲۳ ډوله) ** | ۱۸۲ |
| ټولیزه | ۹۳۸ |

| | |
|---|---|
| د پوراینې کارت (ډبټ کارت) | ۳۳۵،۲۷۴ |
| د اعتبار کارت (کریډېټ کارت) | ۱،۵۱۶ |
| ای ټي ایم کارت ( ATM ) | ۱۹۲،۰۴۴ |
| ویب سرفر کارت | ۱۰،۱۲۰ |
| د مخکې ورکړې کارت | ۳،۷۷۶ |
| ټولیزه | ۵۴۲،۷۳۰ |

پورته اسانتیاوې د کابل ښار په ګډون د هېواد په ۳۳ ولایتونو کې د لاسرسي وړ دي، حال دا چې د ATM کارت اسانتیاوې د هېواد په ۱۲ ولایتونو، ډبټ کارت په ۳۰ ولایتونو او کریډېټ کارت په ۶ ولایتونو کې د لاسرسي وړ دي.

د دې ترڅنګ، تر اوسه پورې په ټولیزه توګه ۱،۱۰۸ جوازونه د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو او ۱،۷۴۹ جوازونه صرافانو ته ورکړل شوي دي. د پولي خدمتونو له ۱،۱۰۸ وړاندې کوونکو څخه ۲۲۹ یې په کابل او ۵۶۸ وړاندې کوونکي د هېواد په نورو ولایتونو کې په فعالیت بوخت دي. سربېره پر دې، د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د مرکزي دفتر ۳۱۱ نمایندګۍ په کابل ښار او نورو ولایتونو کې په فعالیت لګیا دي. له ۱،۷۴۸ جواز لرونکو صرافیو څخه، ۳۷۹ صرافي په کابل او پاتې ۱،۳۶۹ صرافي یې په نورو ولایتونو کې فعالیت کوي.

(۸) ګراف د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو او صرافانو د زیاتیدو بهیر ښکاره کوي




### ۱.۱ ټولیزه شتمنۍ

د بانکي نظام ټولیزه شتمنۍ د ۱۳۹۶ مالي کال په لینډۍ میاشت کې ۳۱۶.۰۰ ملیارده افغانۍ (۴.۵۴ ملیارده ډالرو) ته رسیږي چې د تیر کال (۱۳۹۵ لینډۍ) په پرتله ۵.۶۹ سلنه وده ښکاره کوي. حال دا چې د ۱۳۹۵ کال په لینډۍ میاشت کې د بانکي نظام ټولیزه شتمنۍ ۲۹۸.۹۷ ملیارده افغانۍ ته رسیده او اټکل شوې وده یې ۱۰.۴۵ سلنه وه. د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د زیاتیدو اصلي لامل د امانتونو او نغدي پیسو تزریق او د ګټې زیاتوالی په ګوته شوی دی. د ټولیزه شتمنیو له څېړنې په ډاګه کیږي چې

* **د ۲۱ ډول اسانتیا:** هغه واحد یا دفتر چې د پور د لومړنیو پړاوونو د اجراء کولو واک لري، خو د پور د ورکولو واک نه لري.

**د ۲۴ ډول اسانتیا:** هغه واحد چې یوازې د نغدو پیسو د تادیې واک لري، لکه دولتي او غیر دولتي کارکوونکو ته د معاشونو ورکړه او یا د بانک پیرودونکو ته داسې نور نغدي تادیات رانغاړي.

**د ۲۵ ډول اسانتیا:** دا واحد یوازې د مختلفو حکمي او حقیقي اشخاصو (معمولاً د سفارتونو، هوټلونو او داسې نورو ) په حسابونو کې د امانتونو په توګه له عامه خلکو څخه د نغدو پیسو د ترلاسه کولو په موخه د رسید د صادرولو واک لري.


** **د ۲۳ ډول اسانتیا:** په پلورنځیونو کې خدماتي شبکې(یوازې لګښتونه وضع کوي خو د سپما واک نه لري).

ډېری زیاتوالی په نغدو پیسو او د افغانستان بانک باندې طلباتو، او په امانتونو کې رامنځ ته شوی، په داسې حال کې چې د بانکونو ترمنځ طلبات، ناخالصه پورونه او نورې شتمنۍ ټیټوالی ښکاره کوي.


د شتمنیو تر ټولو ډېره وده دولتي بانکونه درلودلې چې د تیرې دورې (۱۳۹۵ لیندۍ) په پرتله ۱۱.۳۸ سلنه وده ښکاره کوي، خصوصي بانکونه ۵.۶۹ سلنه وده کړې په داسې حال کې چې د بهرنیو بانکونو نمایندګی د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې ۱۰.۲۵ سلنه ټیټوالی درلوده. د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د سلنې له مخې، خصوصي بانکونه د ۶۳.۱۱ سلنې ونډې په لرلو سره په لومړۍ درجه، دولتي بانکونه د ۲۸.۶۲ سلنې ونډې سره په دویمه درجه او ورپسې د بهرنیو بانکونو نمایندګی د ۸.۲۵ سلنې ونډې په درلودلو سره په وروستي درجه کې راځي.

( ۹ او ۱۰ ) ګراف له ۱۳۸۶ کال څخه د ۱۳۹۶ کال تر لیندۍ پورې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د ودې بهیر ښکاره کوي.

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو، پوراینو او پانګې بهیر (په میلیون ډالر)





په څو کلونو کې د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ډلو ونډه
(په میلیون ډالر)




### ۱.۱.۱ د ټولیزه شتمنیو وده

په ۱۳۹۵ کال کې د بانکي نظام ټولیزه شتمنیو نوساني بهیر درلودلی، خو د ۱۳۹۶ کال په لیندۍ میاشت کې یې ۳.۷۷ سلنه زیاتوالی موندلی چې اصلي لاملونه یې په خزانه کې د نغدو پیسو زیاتوالی او د افغانستان بانک باندې طلبات چې د افغانستان بانک سره په جاري حسابونو کې د پام وړ دي، د بانکونو ترمنځ طلبات او خالصه پورونه رانغاړي.

ګراف ( ۱۱ ) د بانکي نظام د شتمنیو د ودې تفصیل ښکاره کوي



### ۱.۲ ټولیزه پورونه

د بانکي نظام ناخالص پورونه د ۱۳۹۶ کال په لیندۍ ( ۲۰۱۷ ډیسمبر) کې ۴۱.۸۰ میلیارده افغانی (۶۱۴ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۳.۲۳ سلنه جوړوي. ټولیزه ناخالصه پورونه چې په تېره دوره ( ۲۰۱۶ ډیسمبر) کې ۱۳.۸۰ سلنه ته رسیږي، ۹.۱۴ سلنه راټیټه شوې ده. په اوسني دوره کې (۱۳۹۶ لیندۍ) ټولیزه پورونه ۱.۳۱ سلنه زیات شوي چې دا زیاتوالی په عمده توګه د پورونو د ورکړې او د ډالر نرخ د لوړوالي له امله رامنځ ته شوی دی.


د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو له ډلې د افغانی پورونه ۱۳.۱۳ میلیارده افغانی (۱۸۹ میلیون ډالر) دي چې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۳۱.۴۱ سلنه او د ټولیزه شتمنیو ۴.۱۶ سلنه جوړوي چې د تېرې دورې (۱۳۹۵ لیندۍ) په پرتله ۳.۴۱ سلنه لوړوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام ډالري پورونه ۲۹.۵۸ میلیارده

افغانی (۴۱۱ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د ټولیزه پورونو ۷۰.۷۷ سلنه او د ټولیزه شتمنیو ۹.۰۴ سلنه جوړوي او د ډالرو نرخ د لوړېدو له امله د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ میاشتې په پرتله ۳.۷۸ سلنه لوړوالی موندلی دی، دا په داسې حال کې ده چې په یاده دوره کې ډالري پورونه راکم شوي دي. خصوصي بانکونه په هېواد کې د پور ورکولو په برخه کې د ټولیزه پورونو د ۸۹.۸۴ سلنه ونډې په لرلو سره مخکښه دي، دولتي بانکونه د ۹.۱۶ سلنې ونډې سره په دویمه درجه او په پای کې د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ د ۰.۱۳ سلنې ونډې سره په وروستي درجه کې راځي.

**۱.۲.۱ د ټولیزه پورونو د ودې میاشتنی پرتله**

سره له دې چې د بانکي نظام پورونو د ۱۳۹۵ کال په اوږدو کې نوساني بهیر درلودلی، خو د ۱۳۹۶ لیندۍ میاشت کې ۴.۵۱ سلنه زیاتوالی موندلی چې د دې لوړوالي اصلي لاملونه د نویو پورونو ورکړه او د اسعارو د مبادلې نرخ لوړوالی ښودل شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې د دې میاشتې په اوږدو کې یو شمېر پورونه تصفیه او د بانکونو له بیلانس شیټونو څخه ایستل شوي دي.

(۱۲) ګراف د بانکي نظام د ټولیزه پورونو د ودې بهیر ښکاره کوي، د ۱۳۹۳ لیندۍ تر ۱۳۹۶ لیندۍ




(۸) جدول د بانکي نظام د ټولیزه پورونو ډله بندي ښکاره کوي

| اقلام | د ۲۰۱۶ ډیسمبر د ۱۳۹۵ لیندۍ | د ۲۰۱۷ سپتمبر د ۱۳۹۶ وږی | د ۲۰۱۷ ډیسمبر د ۱۳۹۶ لیندۍ | د ټولیزه ناخالصه پورونو په اساس سلنه | د درې میاشتني ودې سلنه | د کلني ودې سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| صعب الحصول پورونه[1] | ۵،۲۲۶ | ۷،۲۸۶ | ۵،۱۹۲ | ۱۲.۴۲ | −۲۸.۷۴ | −۰.۶۵ |
| معکوسه ډله بندي شوي پورونه[2] | ۱۱،۲۲۶ | ۱۰،۸۷۷ | ۸،۵۷۹ | ۲۰.۵۲ | −۲۱.۱۲ | −۲۳.۵۷ |
| په نظر وړ کټګورۍ کې پورونه[3] | ۳،۸۹۸ | ۳،۷۸۰ | ۴،۸۱۵ | ۱۱.۵۱ | ۲۷.۳۸ | ۲۳.۵۲ |
| په خساره کټګورۍ کې پورونه[4] | ۵۵۶ | ۶۲ | ۹۵۹ | ۲.۲۹ | ۱،۴۴۶.۷۷ | ۷۲.۴۸ |

۱.صعب الحصول پورونه: هغه صعب الحصول پورونه او مخکې ورکړې چې د هغه د ټکټانې اصلي مبلغ د ۹۱ –۳۶۰ ورځو لپاره وصول شوي نه وي او (مشکوک) پاتې شي

۲.معکوس ډله بندي شوي پورونه: هغه شتمنی چې د شتمنی اصلي مبلغ یا یې ټکټانه د ۹۰– ۳۱ ورځو لپاره وصول نه شي او (تحت المعیار) پاتې شي، صعب الحصول پورونه او یا مخکې ورکړې چې د هغه د ټکټانې اصلي مبلغ د ۹۱ –۳۶۰ ورځو لپاره وصول شوي نه وي او (مشکوکې) پاتې وي

۳.په نظر وړ کټګورۍ کې پورونه: هغه شتمنی چې د شتمنی اصلي مبلغ یا ټکټانه یې د ۱ـ ۳۰ ورځو لپاره وصول شوي نه وي او (تحت نظر) پاتې وي

۴.په خساره کټګورۍ کې پورونه: هغه صعب الحصول پورونه او مخکې ورکړې چې اصلي مبلغ یا ټکټانه یې ۳۶۱ ورځو یا له دې زیاتو ورځو لپاره ورکړل شوي نه وي (خساره).

په ټولیزه توګه د بانکي نظام د شتمنیو کیفیت د ۱۳۹۶ مالي کال په پای کې ډېره کمزوره ارزول شوی، څرنګه چې په پورته جدول کې تر سترګو کیږي، صعب الحصول پورونه د ټولیزه ناخالصه پورونو ۱۲.۴۲ سلنه خالصه پورونه جوړوي چې د تېر کال د ۱۲.۶۷ سلنې په پرتله ۰.۲۵ سلنه ټیټوالي موندلی دی چې د ټولیزه ناخالصه پورونو د زیاتوالي او د پورونو د حذف او تصفیې په پایله کې رامنځ ته شوی دی. خو په دې دوره کې د دریو بانکونو د صعب الحصول پورونه زیات شوي چې د دغو پورونو د کیفیت د خرابوالي ښکارندوي کوي. همدا ډول د پنځو نورو بانکونو د صعب الحصول پورونه د پورونو د تصفیې او حذفولو له امله ټیټېدونکی بهیر درلودلی دی. د صعب الحصول پورونو د ۱۲.۴۲ سلنې څخه ۱۱.۸۵ سلنه یې پنځو بانکونو پورې تړلې دی. د دې ترڅنګ، دغه بانکونه په ټولیزه توګه ۶۸.۶۰ سلنه ټولیزه ناخالصه پورونه او ۵۰.۰۴ سلنه مقرراتي پانګه رانغاړي.

**کوچني پورونه د یو بانک لخوا او متوسطه پورونه د پنځو بانکونو لخوا ورکړل شوي دي.**


**(۹) جدول د متوسطه او کوچني پورونو د ورکړې سلنه ښکاره کوي**

| اقلام | د ۲۰۱۶ ډیسمبر د ۱۳۹۵ لیندۍ | د ۲۰۱۷ سپتمبر د ۱۳۹۶ وږی | د ۲۰۱۷ ډیسمبر د ۱۳۹۶ لیندۍ | د ټولیزه ناخالصه پورونو په اساس سلنه | د درې میاشتني ودې سلنه | د کلني ودې سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| متوسطه پورونه | ۲,۵۹۵ | ۲,۷۲۰ | ۲,۴۳۶ | ۵.۸۳ | – ۱۰.۴۴ | – ۶.۱۲ |
| کوچني پورونه | ۴,۰۷۹ | ۴,۷۷۲ | ۴,۵۴۰ | ۱۰.۸۶ | – ۴.۸۶ | ۱۱.۳۰ |

(۱۰) جدول د ۱۳۹۶ د لیندۍ میاشتې له مخې د بانکي نظام د ناخالصه پورونو ویش ښکاره کوي

| بانک | ناخالصه پورونه ( شمیرې په میلیون افغانۍ) |
|---|---|
| دولتي بانکونه | ۳,۸۳۰.۳۸ |
| خصوصي بانکونه | ۳۷,۵۵۵.۵۵ |
| د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ | ۴۱۵.۰۵ |
| **ټولیزه** | **٤١,٨٠٠.٩٨** |

(۱۳) ګراف د ټولیزه ناخالصه پورونو په وړاندې د صعب الحصول پورونو نسبت ښکاره کوي



د ۱۳۹۶ کال د لیندۍ میاشتې د احصائیې پر بنسټ، په بېلابېلو سکتورونو کې د نورو سوداګریزو پورونو وېش ۳۰ سکتورونو ته وېشل شوي دي.[۵] د بانکي نظام د پورونو په جغرافیایي او اداري وېش کې تنوع راغلی نه دی، خو تمه کیږي چې د وخت په تېریدو سره به د پورونو وېش متنوع شي.

## (۱۱) جدول په ولایتونو کې (له جغرافیایي پلوه) د پورونو وېش ښکاره کوي

| شمېره | ولایتونه | د پور مبلغ (په میلیون افغانی) | ټولیزه پورونو د سلنې په اساس |
|---|---|---|---|
| ۱ | کابل | ۲۸،۶۸۳.۵۴ | ۶۸.۶۲ |
| ۲ | بلخ | ۳،۷۲۳.۶۱ | ۸.۹۱ |
| ۳ | هرات | ۳،۶۴۴.۴۷ | ۸.۷۲ |
| ٤ | کندهار | ۱،۸۶۹.۸۸ | ۴.۴۷ |
| ٥ | بادغیس | ۱،۰۹۲.۶۰ | ۲.۶۱ |
| ٦ | بغلان | ۵۲۴.۰۵ | ۱.۲۵ |
| ۷ | بدخشان | ۴۵۷.۱۵ | ۱.۰۹ |
| ۸ | ننګرهار | ۳۲۵.۷۰ | ۰.۷۸ |
| ۹ | سرپل | ۲۷۹.۱۰ | ۰.۶۷ |
| ۱۰ | تخار | ۲۴۷.۸۳ | ۰.۵۹ |
| ۱۱ | بامیان | ۲۴۵.۰۴ | ۰.۵۹ |
| ۱۲ | فاریاب | ۲۱۷.۶۷ | ۰.۵۲ |
| ۱۳ | جوزجان | ۱۵۱.۶۱ | ۰.۳۶ |
| ۱٤ | پروان | ۱۴۴.۹۸ | ۰.۳۵ |
| ۱٥ | سمنګان | ۱۲۷.۸۸ | ۰.۳۱ |
| ۱٦ | کندز | ۶۳.۵۶ | ۰.۱۵ |
| ۱۷ | نور | ۲.۳۱ | ۰.۰۱ |
| | ټولیزه | ٤۱،۸۰۰.۹۸ | ۱۰۰.۰۰ |

[۵] د ۰۱/۹۳ ګڼې او د ۲٦/٦/۱۳۹۳ نېټې د محاسبې او راپور ورکونې متحدالمال

( ۱۲ ) جـدول د پورونو سکتوري ويش ښکاره کـوي، د ۱۳۹۶ کال د لينډۍ مياشت

| | سکتور | د ټوليزه پورونو په اساس سلنه |
|---|---|---|
| ۱ | **رهني او ودانيز** | |
| | ودانيز | ۸.۷۰ |
| ۲ | **بيخ بنسټيزه پروژې** | – |
| | انرژي | ۰.۴۰ |
| | سړک او د اورګاډي پټلۍ | ۱.۳۲ |
| | بندونه | – |
| | کان | ۰.۴۸ |
| | نور بيخ بنسټيزه پروژې | ۳.۴۶ |
| ۳ | **توليدات او صنعت** | – |
| | فلزي، چرمي، پلاستيکي، لاستيکي، د لرګو او کاغذي توليدات | ۲.۶۷ |
| | د خدمتونو ماشيني توليدات او صنايع | ۳.۱۶ |
| | سمنټ او نور ودانيزه توکي | ۳.۵۲ |
| ٤ | **سوداګري** | – |
| | نساجي | ۱.۵۴ |
| | عمده سوداګري | ۴.۶۷ |
| | ماشين آلات | ۰.۰۹ |
| | پطروليم او روغنيات | ۱۰.۷۸ |
| | پرزه جات | ۱.۳۹ |
| | الکترونيکي وسايل | ۲.۷۶ |
| | سمنټ او ودانيزه توکي | ۲.۵۷ |
| | خوراکي توکي | ۷.۲۷ |
| | نور اقلام | ۳.۲۸ |
| | کوچنۍ سوداګرۍ | ۸.۱۵ |
| ٥ | **خدمتونه** | – |
| | ښوونه او روزنه | ۰.۰۰ |
| | هوټل او رستورانټ | ۲.۰۴ |
| | مخابرات | ۵.۵۲ |
| | ځمکنۍ ټرانسپورټ | ۱.۸۶ |
| | هوايي ټرانسپورټ | ۲.۹۰ |
| | روغتيا | ۱.۷۳ |
| | خپروني، رسنۍ او چاپخانې | ۱.۱۸ |
| | نور خدمتونه | ۱۲.۲۶ |
| ٦ | **کرنه، مالداري او فارم** | – |
| | کرنه | ۳.۹۴ |
| | مالداري او فارم | ۰.۲۳ |
| ۷ | **لګښتيزه پورونه** | ۰.۸۶ |
| ۸ | **انفرادي اشخاصو ته استوګنيزه رهني پورونه** | ۰.۷۱ |
| ۹ | **ټول نور پورونه** | ۰.۵۷ |
| | **ټوليزه** | ٪۱۰۰.۰۰ |

( ۱۳ ) جدول د ۱۳۹۶ کال د لينډۍ مياشت کې په مرکز، ولايتونو او ناحيو کې د مؤسسو د شمېر له پلوه په هېواد کې د مسفا د شريکانو عمومي جزئيات او د دې ترڅنګ د پېرودونکو، پوروړو، د پور د مبلغونو، د ښځينه پېرودونکو د سلنې، ښځينه پوروړو او داسې نور جزئيات وړاندې کوي.

| | |
|---|---|
| د مسفا د شريکانو شمېره | ۴ |
| ولايتونه | ۱۴ |
| ولسوالۍ ګانې | ۸۰ |
| مشتريان | ۲۳۲،۶۲۳ |
| پوروړي | ۱۲۷،۲۵۸ |
| د ورکړل شويو پورونو شمېره | ۱،۱۷۷،۶۲۰ |
| د ورکړل شويو پورونو شمېره (په ميليارد افغانۍ) | ۷۷.۶۳ |
| د پاتې پورونو شمېره | ۱۲۷،۲۵۳ |
| د پاتې ناخالصه پورونو ټوليزه (ميليارد افغانۍ) | ۸.۰۹ |
| د مشتريانو په خپلې خوښې پاتې سپماوې (ميليارد افغانۍ) | ۱.۹۰ |
| د ښځينه مشتريانو سلنه | ۲۷ |
| ښځينه پور وړي | ۴۲،۰۸۲ |
| په کلو او بانډو کې پورونه (په ميليارد افغانۍ) | ۱.۶۹ |
| په ښارونو کې پورونه (په ميليارد افغانۍ) | ۶.۴۰ |
| **سرچينه/ ماخذ** | www.misfa.org.af |


## ۱.۳ ټولیزه امانتونه

امانتونه د بانکي نظام د تمویل او پورواینو تر ټولو لویه برخه جوړوي. امانتونه د ۱۳۹۶ کال لینۍ میاشت کې ۲۷۰.۲۵ میلیارده افغانۍ (۳.۸۸ میلیارده ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه پوراینو ۹۶.۴۲ سلنه جوړوي او د تیرې دورې (۱۳۹۵ لینۍ) د ۲۵۴.۹۵ میلیارده افغانۍ (۳.۸۲ میلیارده ډالرو) او ۷.۵۷ سلنه ودې په پرتله ۶.۰۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. دا زیاتوالی په عمده توګه په جاري امانتونو (۹.۹۴ میلیارده افغانۍ یا ۵.۲۱ سلنه زیاتوالی) او موده ایزه امانتونو (۳.۹۰ میلیارده افغانۍ یا ۲۸.۴۳ سلنه زیاتوالی) کې رامنځ ته شوی او د سپما امانتونو په دې دوره کې ۱.۴۶ میلیارده افغانۍ یا ۲.۸۸ سلنه زیاتوالی موندلی دی. د ویلو وړ ده چې دا زیاتوالی په عمده توګه په افغانۍ کې رامنځ ته شوی، په داسې حال کې چې ډالرو کموالی موندلی دی.

د بانکي نظام افغانۍ امانتونه ۹۰.۰۱ میلیارده افغانۍ (۱.۲۹ میلیارده ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۳۳.۳۰ سلنه جوړوي او د مخکنۍ دورې (۱۳۹۵ لینۍ) په پرتله ۱۴.۱۵ سلنه زیات شوي دي. د بانکي نظام ډالري امانتونه ۱۶۰.۸۳ میلیارده افغانۍ (۲.۳۱ میلیارده ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۵۹.۵۱ سلنه جوړوي او د تیرې دورې (۱۳۹۵ لینۍ) په پرتله ۰.۵۵ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي چې اصلي لامل يې د ډالري امانتونو کموالی دی.

خصوصي بانکونه د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو تر ټولو ډېره یعنې ۶۴.۱۳ سلنه ونډه جوړوي او د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د دولتي بانکونو او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډې په ترتیب سره ۲۷.۹۵ سلنه او ۷.۹۲ سلنه جوړوي.


(۱۴) ګراف د بانکي نظام د ټولیزه پورونو او امانتونو بهیر ښکاره کوي




### ۱.۳.۱ د ټولیزه امانتونو د ودې میاشتنۍ پرتله

په ۱۳۹۵ مالي کال کې د بانکي نظام ټولیزه امانتونو نوساني بهیر درلودلی، خو د ۱۳۹۶ کال په لینۍ میاشت کې ۴.۵۲ سلنه زیاتوالی موندلی چې یو شمېر بانکونو پورې تړلی دی. په جاري امانتونو او سپما امانتونو کې زیاتوالی چې د ټولیزه امانتونو په ترتیب سره ۷۴.۲۴ او ۱۹.۲۴ سلنه رانغاړي، په افغانۍ او ډالرو کې رامنځ ته شوی، په داسې حال کې چې موده ایزه امانتونه د ۱۳۹۶ کال په لینۍ میاشت کې ټیټېدونکی بهیر درلودلی دی.

(۱۵) ګراف د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو د ودې بهیر ښکاره کوي




(۱۴) جدول د ۱۳۹۶ کال د لینۍ میاشتې په پای کې د ټولیزه امانتونو ترکیب ښکاره کوي


| د ټولیزه امانتونو ترکیب، د ۱۳۹۶ لینۍ میاشتې پای (په میلیون افغانۍ) | |
|---|---|
| جاري | ۲۰۰،۶۳۳.۷۲ |
| موده ایز | ۱۷،۶۳۴.۲۴ |
| سپما | ۵۱،۹۸۸.۵۰ |
| **ټولیزه** | **۲۷۰،۲٥٦.٤٦** |

### ۱.۴ ټولیزه پانګه

بانکي نظام کافي پانګه لري. د بانکي نظام پانګه د ۱۳۹۶ کال لیندۍ میاشت کې ۳۵.۷۲ میلیارده افغانۍ (۵۱۳.۲۲ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د تیرې دورې (۱۳۹۵ لیندۍ) د ۳۳.۹۱ میلیارده افغانۍ (۵۰۹ میلیونه ډالرو) په پرتله ۵.۳۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د پانګې په کچه کې د زیاتوالي عمده لامل د کال په اوږدو کې د نغدي پیسو او ګټې تزریق په ګوته شوی دی. د بانکي نظام د مقرراتي پانګې نسبت د ۱۳۹۶ کال د لیندۍ په اوږدو کې ۲۹.۹۲ سلنه ثبت شوی چې د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ د ۲۷.۶۸ سلنې په پرتله ۲.۲۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۶ کال په لیندۍ کې د یو بانک مالي پانګه د افغانستان بانک له ټاکل شوي حدودو څخه ټیټه ده، خو د یو بانک پرته د ټولو نورو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت بیا د مرکزي بانک د تر ټولو ټیټ حد (د خطر په اساس د عیار شوي شتمنۍ په سلو کې ۱۲) څخه لوړ دی.

(۱۶) ګراف د بانکي نظام ټولیزه پانګه ښکاره کوي




### ۱.۵ ګټه

بانکي نظام د رواني میاشتې (۱۳۹۶ لیندۍ– ۲۰۱۷ ډیسمبر) په اوږدو کې ۲۰۳ میلیونه افغانۍ ګټه کړې ده، حال دا چې تیره میاشت (۱۳۹۶ لړم) یې ۴۷ میلیونه افغانۍ خالصه زیان کړی ؤ. د ۱۵ بانکونو له ډلې څخه لسو بانکونو د ۱۳۹۶ کال لیندۍ کې ۵۷۶ میلیونه افغانۍ زیان کړی چې په تیره میاشت (۱۳۹۶ لړم) کې دا شمېر دریو بانکونو ته رسیده چې ۴۵۸ میلیونه افغانۍ زیان یې درلوده. د ۱۳۹۶ کال په لیندۍ میاشت کې د بانکي نظام د ګټې اصلي لامل له ټکټانې پرته د ګټې د پام وړ زیاتوالی چې زیاته برخه یې د بیلانس شیټ څخه بهر اقلامو فیس او کمیشن، د اسعارو بیاځلي ارزښت ټاکنه او د بهرته ګرځېدلي خسارې جبران جوړوي. همدا رنګه، د مالیاتو لګښتونه او عملیاتي لګښتونه چې د معاشاتو لګښتونه او داسې نور لګښتونه رانغاړي، د ۱۳۹۶ کال په لیندۍ میاشت کې زیاتوالی موندلی دی.

میډیان یا منځنی ارزښت (Spread) یا د بانکي نظام د پورونو د ټکټانې او د نوي امانتونو د ټکټانې ترمنځ توپیر ۱۱.۵۱ سلنه دی چې د مخکنۍ میاشتې ( ۱۳۹۶ لړم) د ۸.۰۶ سلنې په پرتله یې زیاتوالی موندلی دی. د ۱۳۹۶ کال لیندۍ میاشت کې د دریو بانکونو میډیان یا منځنی ارزښت (Spread) د بانکي نظام له منځني ارزښت څخه ټیټ ؤ او د اتو بانکونو منځني ارزښت (Spread) د محاسبې وړ نه دی[6]. د ۱۳۹۶ کال لیندۍ میاشت کې د بانکي نظام د اغېزناکۍ (Efficiency) منځنی حد ۰.۹۲ سلنې ته رسیږي چې د تیرې میاشتې په پرتله ۰.۲۸ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. سربېره پر دې، په بانکي نظام کې اووه بانکونه د اغېزناکۍ (مثمریت) له منځني حد څخه ټیټ واقع دي.

په ۱۳۹۶ مالي کال کې په ټولیزه توګه بانکي نظام ګټه تجربه کړې ده. په دې دوره کې بانکي نظام ۱.۷۶ میلیارده افغانۍ (۲۵.۴۰ میلیونه ډالره) خالصه ګټه کړې ده، خو د تېرې دورې (۱۳۹۵ لیندۍ) د ۴.۲۹ میلیارده افغانۍ خالصې ګټې په پرتله په اوسني دوره کې خالصه ګټه ټیټوالی ښکاره کوي. په پایله کې له شتمنیو څخه د ترلاسه شوې ګټې نسبت د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ د ۱.۵۶ سلنې په پرتله ۰.۶۴ سلنې (۱۳۹۶ لیندۍ) ته راټیټه شوې ده. د یادولو وړ ده چې د تېر کال د بانکي سکتور ډېره ګټه د سوداګریزو شتمنیو د بیا ارزښت ټاکنې له پلوه رامنځ ته شوې


[6] منځنی ارزښت ( د بانکي نظام د پورونو د ټکټانې او د نوي امانتونو د ټکټانې ترمنځ توپیر) په میاشتنۍ توګه محاسبه کیږي. له همدې امله که چېرې یو بانک د یو میاشت په ترڅ کې هیڅ پور یا نوي امانتونه او یا دواړه یې درلودلي نه وي، د هغه بانک یا بانکونو منځنی ارزښت (سپرید) د محاسبې وړ نه دی.

چې د یو دولتي بانک د اسلامي بانکدارۍ په څانګه کې رامنځ ته شوې ده.

په دې دوره کې د بانکي نظام د ګټې د کمېدو عمده لامل له ټکتاني پرته د ګټې د پام وړ کموالی ښودل شوی دی. نور عوامل چې د بانکي نظام د ګټې په کموالي کې ونډه لري هغه د عملیاتي لګښتونو، مالیاتي لګښتونو زیاتوالی او د خالصه ټکتاني د ګټې کموالی دي. دا په داسې حال کې ده چې د اسعارو د بیاځلی ارزښت ټاکنې له پلوه رامنځ ته شوی زیان په ګټې باندې بدل شوی او د خسارې د جبران لګښتونه راکم شوي دي. په ټولیزه توګه دوو بانکونو د ۷۹۰ میلیارده افغانۍ په ارزښت زیان کړی دی، دا په داسې حال کې ده چې په تېره دوره (۱۳۹۵ لینډۍ) کې ټولیزه زیان درېو بانکونو پورې اړه درلوده او ارزښت یې ۱.۱۸ میلیارده افغانۍ ته رسېده. د یادولو وړ ده چې د اساسي عاید یا Core Income پر بنسټ څلور بانکونه په زیان کې قرار لري چې په تېره دوره کې درې بانکونه ؤ.

(۱۷) ګراف د بانکي نظام د ډلو ټولیزه ګټه او زیان وړاندې کوي

د بانکي نظام د بانکي ډلو ټولیزه ګټه او زیان




### ۱.۶ سیالیت

د ټولو بانکونو د سیالیت نسبت د افغانستان بانک د سیالیت لپاره د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد (د سیالیت پراخه نسبت ۱۵ سلنه او د سیالیت چټک نسبت ۲۰ سلنه) څخه لوړ دی. د ۱۳۹۶ کال د لینډۍ میاشتې له مخې د بانکي نظام د سیالیت پراخه نسبت د منځنۍ ارزښت له پلوه ۶۵.۹۲ سلنه دی چې د تیرې دورې (۱۳۹۵ لینډۍ) د ۶۷.۷۴ سلنې په پرتله ۱.۸۲ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۶ کال د لینډۍ د میاشتې د شمېرو پر بنسټ، په سترو امانتونو باندې (هغه امانتونه چې له ۵ میلیونو افغانۍ زیات وي) د بانکي نظام د امانتونو د ډېر تمرکز په هکله اندېښنې شتون لري. دا ستر امانتونه د ټولیزه امانتونو شاوخوا ۵۹.۹۱ سلنه جوړوي او ۵،۵۴۸ حسابونه رانغاړي چې د نقدینه ګۍ له پلوه ډېره مهمه او د تنبتیدونکې پوراینو (مفر بدیهیو) له اقلامو څخه شمېرل کیږي. سر بېره پردې د سترو امانتونو منځنی حد ۵۳۲ میلیونه افغانۍ دی چې د تېرې ربعې د ۴۷۳ میلیونه افغانۍ په پرتله یې زیاتوالی موندلی دی.

### ۱.۷ د اسعارو پرانیستی وضعیت

پرته له اوو بانکونو څخه چې د عمومي او انفرادي پرانیستي وضعیت (د ډالرو اوږد مهاله وضعیت) لپاره یې له ټاکلي حد څخه سرغړونه کړې، نور ټول بانکونه په ټولیزه توګه د افغانستان بانک د اسعارو عمومي پرانیستي وضعیت (۴۰± سلنه) او د اسعارو انفرادي پرانیستي وضعیت (۲۰± سلنې) لپاره د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې قرار لري.

(۱۵) جدول د ۱۳۹۶ کال د لینډۍ میاشتې له مخې د کارکوونکو، پوروړو، امانت اېښودونکو او نورو پیریدونکو د شمېر احصائیه وړاندې کوي

| څانګړنې | شمېر |
|---|---|
| داخلي کارکوونکي | ۹،۲۰۱ |
| بهرني کارکوونکي | ۸۹ |
| پوروړي | ۶۴،۱۰۳ |
| امانت اېښودونکي | ۳،۳۹۶،۶۲۱ |
| نور مشتریان[۷] | ۲۰،۸۷۱ |

[۷] نور پیرودونکي هغه پیرودونکي دي چې بانکي تضمینونه، لیتراف کریډټ او نور تضمینونه او ژمنې یې درلودلې وي.

# د اداینو سیستم

## د اداینو سیستم

د افغانستان بانک له بنسټیزو دندو څخه یو هم له نړیوالو معیارونو سره سم د ورکړې د خوندي، سالم، اغیزناکه او د باور وړ سیستمونو طرحه، جوړول او پراختیا جوړوي.


د افغانستان بانک د اداینو لوی آمریت په دوو برخو (عملیاتي او څېړنې او پراختیا) کې فعالیت کوي چې د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې یې لاندې کړنې ترسره کړې دي:

**۱. عملیاتي برخه:** د داخلي او نړیواله سیستمونو د معاملو اجراء کول، د بانکونو ترمنځ د معاملو تسویه او تصفیه او د داخلي چکونو تصفیه د دې برخې مسؤولیتونه ګڼل کیږي چې په لنډه توګه وړاندې کیږي:

### ۱.۱ د بانکونو ترمنځ اداینې

د بانکونو ترمنځ اداینې د هېواد د بانکونو ترمنځ معاملې ترسره کوي، دې برخې په ۱۳۹۶ مالي کال کې ۱۰،۲۱۲۰ افغانۍ معاملې د ۴۹۱،۴۴۹،۲۹۲،۷۴۶.۲۶ میلیارده افغانۍ په ارزښت، ۵۲،۷۴۷ ډالري معاملې د (۴۸۲،۱۶۱،۱۵۵،۲۷۵.۵۲) افغانۍ په ارزښت او ۱۳۹۴ د یورو معاملې د (۱۱،۷۱۵، ۵۷۰، ۳۹۲.۰۰) افغانۍ په ارزښت چې په ټولیزه توګه ۱۵،۶۲۶۱ معاملې کیږي، طی مراحل او اجراء کړې دي. کله چې د بانکونو ترمنځ د معاملو ودې ته وکتل شي، دا انګیرل کیږي چې د افغانۍ انتقالي معاملو لپاره د بانکي سیستم د کارونې کلتور په تدریجي ډول د نغدي معاملو ځای نیولی دی چې د بانکوالۍ د دودیدو، د پیسو د فزیکي لیږد له امله د خطرونو په مخنیوي او د لګښتونو په کموالي کې اغیزناکه دی.

(۱۸) ګراف د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د بانکونو ترمنځ د اداینې د سیستم له لارې د افغانۍ او اسعاري معاملو شمېر ښکاره کوي (ارقام په افغانۍ)





### ۱.۲ د نړیوالې اداینې سیستم (سویفټ)

په دې برخه کې ۱،۸۵۱ ډالري/یورو وارده معاملې د (۱۴۶،۸۲۴،۳۰۲،۵۲۴.۴۸) افغانۍ په ارزښت، ۲،۲۲۹ ډالري/یورو صادره معاملې د (۳۰۹،۸۳۶،۴۰۴،۲۷۵.۳۶) میلیارده افغانۍ په ارزښت ترسره شوي دي.

د یادونې وړ ده چې په دې برخه کې د وارده او صادره معاملو سربېره دFX Deal/IBRD مبادلوي معاملو اړوند ۶۲۷ ډالري معاملې د (۷۵،۱۱۱،۴۷۵،۸۶۸.۶۴) افغانۍ په ارزښت د نړیوالې ادواینو د سیستم (سویفټ)له لارې اجراء او طی مراحل شوي دي.


(۱۹) ګراف د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د ادواینو د سیستم د اسعاري معاملو شمېر ښکاره کوي (ارقام په افغانۍ)



### ۱.۳ د چکونو د تسویې او تصفیې برخه

د کلیرنګ هاوس په برخه کې د افغانی ۲۷۵۳ قطعې چکونه د (۵۷۲،۴۹۸،۲۱۶.۱۰) افغانۍ په ارزښت او ډالري ۱،۷۲۹ قطعې چکونه د (۱،۱۸۷،۰۶۷،۷۵۵.۶۸) افغانۍ په ارزښت او د یورو ۱ قطعه چک د (۱،۵۲۰،۰۰۰) افغانۍ په ارزښت طی مراحل شوي دي.


(۲۰ ) ګراف د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د چکونو د تسویې او تصفیې د برخې د افغانۍ، ډالرو او یورو معاملو شمېر ښکاره کوي




### ۱.۴ د داخلي اداینې سیستم

پــه دې بـــرخــه کــې ۵۹۶ وارده او صــادره مــعــامــلــې د (۹،۷۵۷،۸۲۴،۲۵۹.۸۵) افغانۍ په ارزښت او ۱۹ ډالري معاملې د (۵۴،۶۳۰،۹۹۶.۰۰) افغانۍ په ارزښت د نمایندګیو ترمنځ د اداینې د سیستم، شفر او تلګرام له لارې ترسره شوي دي. په عملیاتي برخه کې د اسعارو د لیلام (افغانۍ او ډالري) معاملې په بشپړه توګه ترسره شوي دي او همدا ډول په ولایتونو کې د سوداګریزو بانکونو د نمایندګیو معاملې یا ICPSS سیستم نوی فعال شوی اړوندو حسابونو ته د دولت د عوایدو په لیږد کې شاملیږي. له همدې لارې ۳۴۱ معاملې چې ارزښت یې (۱۵۲،۱۴۸،۰۱۳.۰۰) افغانۍ ته رسیږي، ترسره شوي دي.

(۲۱) ګراف په ۱۳۹۶ مالي کال کې د افغانۍ او اسعاري معاملو شمېر ښکاره کوي( ارقام په افغانۍ)




### ۲. د څېړنې او پراختیا برخه

د اداینو د آمریت دا برخه د اداینیزو سیستمونو د ودې او پراختیا په برخه کې فعالیت کوي چې د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې یې لاندې کړنې ترسره کړې دي:

۱.۲ د سوداګریزو بانکونو له لارې د بانکونو ترمنځ د اداینې د سیستم په کارولو سره د کابل او هوایي ډګر د ګمرکونو د ګمرکي محصولاتو د عوایدو راټولول په رسمي توګه پیل شوي دي. د دې بهیر پراختیا له سرحدي او ولایتي ګمرکونو څخه پیل او شاوخوا ۱۴ ګمرکونه د بانکونو ترمنځ د اداینې په سیستم کې زیات شوي دي او دا بهیر د مالیې وزارت د ګمرکونو د لوی ریاست د مهال ویش پر بنسټ ټولو ګمرکونو ته پراختیا مومي.

۲.۲ په بریښنایي توګه د ولایتونو په بندرونو کې د عوایدو او ګمرکي محصولاتو د راټولولو د بهیر د اسانتیا، تنظیم او پراختیا په موخه، په دې وروستیو کې د ICPSS یا د ښارونو ترمنځ اداینیز سیستم طرح، ډیزاین او عملي شوې. دا سیستم د سوداګریزو بانکونو نمایندګۍ برلاسي کوي، څو له دې لارې په بندرونو او ولایتونو کې د عوایدو او ګمرکي محصولاتو د تادیه کوونکو معاملې په چټکه توګه ترسره شي.

۲.۳ په افغانستان کې د MICR ماشین له لارې د چکونو د معیاري کولو، تشخیص، پیژندلو او طی مراحلو بهیر مخکې پیل شوی او

ټول بانکونه اړ دي، څو له لیږل شوي ۳۸ پاڼو لرونکي لارښوود سره سم خپل ټول چکونه عیار کړي. له نېکه مرغه د افغانستان د بانکونو د ټولنې د معلوماتو له مخې د دې برخې عملي کار شاوخوا ۹۰ سلنه بشپړ شوی او د ATS پروژې چې یو برخه یې د ACH سیستم جوړوي، عملي کیدو ته چمتو دی. باید یادونه وشي چې د ATS پروژه د ادایني د سیستمونو او پانګه ایزو پاڼو د عصري کولو په موخه د نړیوال بانک په همکارۍ او تمویل پیل شوې ده. د پروژې د میاشتني راپور له مخې چې د CMA کمپنۍ څخه استول کیږي، د ATS/CSD پروژې د عملي کیدو چارې په اکتوبر میاشت کې ۷۲ سلنه پرمختګ درلوده او تمه کیږي چې د ۲۰۱۸ زیږدیز کال د جون تر پای پورې به بشپړ او عملي شي.

د ATS د نوي سیستم پالیسي په ۹۲ پاڼو او د CSD سیستم په ۳۶ پاڼو کې تنظیم او د ګمارل شوې کمیټې لخوا کتل او نهایي شوې. وروسته یادې پالیسۍ د حقوقي مشاوریت د ادارې لخوا د عامه نظرونو لپاره بانکونو ته لیږدول شوې او همدا ډول دري او پښتو ژباړه یې هم بشپړه شوې او په نږدې راتلونکي کې به د منظورۍ په موخه عامل پلاوي او عالي شورا ته وړاندې شي.

# د بازار عمليات

# د بازار عملیات

د اسعاري سیاست طرح، ترلاس لاندې نیول او اجراء کول، د اسعارو ترتیبات او د هېواد د اسعارو د رسمي زېرمو ساتنه د افغانستان بانک له دندو څخه ګڼل کیږي. د افغانستان بانک په همدې موخه د بازار عملیات آمریت ته دنده ورکړې ده، څو د پولي سیاست د اجرائیوي بنسټ په توګه عمل وکړي او د اسعاري زېرمې د مدیریت ترڅنګ وزارتونو او داسې نورو ارګانونو او دولتي ادارو ته لیلراف کریډټونه پرانیزي او د پانګه ایزو پاڼو او د اسعارو لیلام هم په لاره واچوي.

د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د دې آمریت کړنې په لنډه توګه وړاندې کیږي.

**اسعاري شتمنی:** د افغانستان بانک ناخالصه اسعاري شتمنی چې د ۱۳۹۵ مالي کال د مرغومې په لومړیو کې ۷.۳۴۵ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیدې ، د ۱۳۹۶ مالي کال د لیندۍ په ۳۰ نېټه ۸.۱۱۸ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي چې په ټولیزه توګه ۷۷۳ میلیونه امریکایي ډالره زیاتوالی ښکاره کوي.

د افغانستان بانک پانګونې چې د بازار عملیات د آمریت د ریزرف مدیریت لخوا ترسره کیږي، د نړۍ په معتبره بانکونو کې موده ایزه امانتونه او د سترو اقتصادي هېوادونو په دولتي بیه لرونکو پاڼو کې پانګونې رانغاړي. د ډالرو د پانګونې وضعیت د استرلینګ پونډ او یورو په پرتله چې تر اوسه پورې د پانګونې په نړیوال بازار کې له ښه وضعیت څخه برخمن دی، د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې یې لوړېدونکی بهیر درلودلی دی.

**لیټراف کریډټونه**

د لیټراف کریډټونو مدیریت د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې شاوخوا ۲۵ وارداتي لیټراف کریډټونه د وزارتونو او نورو دولتي ارګانونو او ادارو د اړتیا وړ توکو (سامان آلاتو او تجهیزاتو) د وارداتو په موخه له بهرنیو او کورنیو کمپنیو څخه د اړونده ارګانونو په فرمایش او د مالیې وزارت په موافقه له عادي او پراختیایي بودجې څخه او د نړیوال بانک او د آسیا پرمختیایي بانک د ۲۸،۶۳۷،۱۸۰.۶۵ ډالره مرستې په کارونې سره د وزارتونو د اړوندو کمپنیو په وجه د بهرنیو او کورنیو معامله لرونکو بانکونو له لارې په مختلفو اسعارو پرانیستلي دي چې د یو مالي کال د راپور توحید یې د لاندې اسعارو په تفکیک سره وړاندې کیږي:

۲۵ لیټراف کریډټونه په امریکایي ډالرو پرانیستل شوي چې ټولیزه ارزښت یې ۷،۳۲۵،۶۸۸۹/۵۱ ډالره کیږي


۲ لیټراف کریډټونه په افغانی پرانیستل شوي چې ټولیز ارزښت یې ۱۹،۰۶۸،۶۳۲/۰۰ افغانی کیږي

۳ لیټراف کریډټونه په یورو پرانیستل شوی چې ټولیزه ارزښت یې ۶۳۹،۲۴۲/۰۰ یورو کیږي


**د بیه لرونکو پاڼو لیلام:** پانګه ایزې پاڼې د اسعارو ترڅنګ د پولي سیاست یو بل ابزار دی چې د لومړي ځل لپاره په ۲۰۰۴ زیږدیز کال کې د افغانستان بانک لخوا بازار ته وړاندې شو چې د پیرلو داوطلبان یې سوداګریز بانکونه، صرافان او د سوداګریز بانکونو پیرودونکي دي. د افغانستان بانک اوس مهال په خپلو اونیزو لیلامونو کې ۷ ورځني، یو میاشتني، درې میاشتني، شپږ میاشتني او یو کلن پانګه ایزې پاڼې پلوري.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۶ مالي کال له پیل څخه تر پایه پورې په اونۍ کې یو ځل د پانګه ایزو پاڼو لیلام په لاره اچولی دی چې د ۴۹ ځله لیلام په اوږدو کې پورته پانګه ایزې پاڼې پلورل شوي دي چې په هغه کې ټولیزه پانګونې ۲۱۲،۱۸۴،۰۰۰.۰۰۰ افغانی ته رسیږي.


(۲۲) ګراف د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د پانګه ایزو پاڼو د پلور مبلغونه او د سررسید په تفکیک هغه ته تقاضا ښکاره کوي.




(۲۳) ګراف د ۱۳۹۶ مالي کال په ترخ کې د عرضې او تقاضا پر بنسټ د پانګه ایزو پانو او د شپې د امانتونو د ټکټاني د نرخ نوسانونه




(۲۴) ګراف د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د ټولیزه ناتصفیه شویو پانګه ایزو پاڼو بهیر ښکاره کوي




د اسعارو لیلام: د اسعارو لیلام د افغانستان بانک د پولي سیاست له ابزارونو څخه ګڼل کیږي چې د کورنیو بیو د ثبات او د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانی د مبادلې نرخ د زیاتو نوسانونو د مخنیوی په موخه کارول کیږي. د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۱۴۰ ځله د اسعارو لیلامونه ترسره شوی دی چې په ترڅ کې یې په ټولیزه توګه ۲،۱۰۱،۳۵۰،۰۰۰ امریکایي ډالره چې معادل یې ۱۴۴،۳۲۵،۶۰۳،۰۵۵.۶۹ افغانی کیږي، بازار ته وړاندې شوي دي.

# د عامه اعتبارونو د ثبت عمومي آمريت

# د عامه اعتبارونو د ثبت عمومي آمریت

د افغانستان بانک د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت چې د منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت او د اعتبارونو د ثبت سیستمونه رانغاړي، چې د اعتبارونو د ثبت مدیریت، د معلوماتي تکنالوژۍ، د سوداګریزې پرمختیا مدیریت او اداري او مالي مدیریت د منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت د دې آمریت برخې جوړوي.

د ۱۳۹۶ مالي کال کې د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت د بیلابیلو برخو کړنې د دندو په تفکیک سره لاندې وړاندې کیږي:

د منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت مدیریت: دا مدیریت د منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت سیستم پورې اړوندې چارې تنظیموي. دا سیستم په بانکي معاملو کې د منقولو مالونو د رهن د قانون او د منقولو مالونو د رهني حقونو د خبرتیاوو د ثبت د مقررې د حکمونو په رڼا کې د نړیوالو معیارونو سره سم جوړ شوی دی. د دې سیستم موخه؛ د رهني حقونو د تقدم تثبیت او د دریم شخص د پوهاوي په موخه د رهني خبرتیاوو خپرول رانغاړي.

دا راپور له ۲۰۱۳/۰۳/۱۹ څخه تر ۲۰۱۷/۱۲/۳۱ نیټې پورې د منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت سیستم پر بنسټ اخیستل شوی دی.

- تر اوسه پورې په دې سیستم کې ۷،۲۷۷ رهني خبرتیاوې ثبت شوي دي چې لومړنۍ، اصلاحي، تمدیدي، اعتراضي او فسخي خبرتیاوې رانغاړي او د تېر کال په پرتله ۸۴۰ خبرتیاوې زیاتوالی ښکاره کوي.
- د منقولو مالونو په وړاندې د ورکړل شویو پورونو ټولیزه شمېره ۴،۱۷۰ ته رسیږي چې له دې ډلې ۳،۴۷۶ یې هغو شرکتونو ته ورکړل شوي چې له ۱۵ لږ کارکوونکي لري، په داسې حال کې چې ۴۵۲ نور پورونه یې هغو شرکتونو ته ورکړل شوي چې د کارکوونکو شمېر یې ۱۵ < ۳۰ دی. همدا ډول ۱۳۱ پورونه هغو شرکتونو ته ورکړل شوي چې د کارکوونکو شمېر یې ۳۰ < ۵۰ ته رسیږي او ۵۱ نور یې د ۳۰ < ۱۰۰ کارکوونکو لرونکو شرکتونو ته ورکړل شوي. په پای کې د ټولیزه ورکړل شویو پورونو څخه ۶۰ یې هغو کارکوونکو ته ورکړل شوي چې د کارکوونکو شمېر یې له ۱۰۰ څخه زیات وي.

د ټولیزه ۴،۱۷۰ پورونو څخه ۴،۱۱۷ یې هغو شرکتونو ته چې مالکان یې نارینه دي، ۳۹ یې هغو شرکتونو ته چې مالکان یې دواړه نارینه او ښځینه دي او پاتې ۱۴ یې هغو شرکتونو ته چې خاوندان یې یوازې ښځینه دي، ورکړل شوي دي.

- له دې سیستم څخه د انټرنټ له لارې د خلکو د لیدنې شمېر په تېر کال کې ۱،۵۳۷۰ او په روان کال کې ۱،۹۴۸۰ ته رسیږي چې د ۴،۱۱۰ ځله زیاتوالی ښکاره کوي.
- د ۱۳۹۶ کال د مرغومې په ۲۶ نیټه کې د منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت له سیستم څخه د ګټې اخیستنې په موخه پنځو کوچنیو مالي ادارو سره تړون لاسلیک شو چې یادې کوچنې مالي اداري د افغانستان اکسس مؤسسه، د اکسچنجر زون مؤسسه، د افغانستان فنکا مؤسسه، د ایفسي ګروپ مؤسسه او د افغانستان متحده مؤسسه رانغاړي.

د عامه اعتبارونو د ثبت مدیریت: د عامه اعتبارونو د ثبت مدیریت د اعتباري معلوماتو د راټولولو او د مالي مؤسسو، سوداګریزو بانکونو، مخابراتي شرکتونو او اړوندو ادارو لپاره د

مطلوبه اعتباري خدمتونو د وړاندې کولو په موخه جوړ شوی دی. د اعتبارونو د ثبت سیستم له اسانتیاوو څخه په ګټې اخیستنې سره مالي مؤسسې کولای شي چې د مشتریانو د مراجعې په وخت کې د هغوی د اعتباري سوابقو په اړه معلومات ترلاسه کړي. په بانکي سکتور کې د دې سیستم جوړول ډېرې مستقیمې او غیر مستقیمې ګټې او اغیزې لري او په هېواد کې د اقتصادي پرمختګ او ودې لپاره لاره هواروي.

دې مدیریت د ۱۳۹۶ کال په زمري میاشت کې له دوو کوچنیو مالي مؤسسو (اکسچنجر زون او IIFC) سره د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم د کارولو په موخه هوکړه لیکونه لاسلیک کړي دي.

(۱۶) جدول د عامه اعتبارونو د ثبت په سیستم کې ټولیزه تړونونه ښکاره کوي

| | |
|---|---|
| د پرانیستې تړونونو شمېر | ۹۳،۵۲۷ |
| د تړلو تړونونو شمېر | ۱۹۲،۱۲۳ |
| ټولیزه | ۲۸۵،۶۵۰ |
| | |

(۱۷) جدول د هغو اشخاصو او شرکتونو شمېر ښکاره کوي چې تړونونه یې په سیستم کې ثبت شوي دي

| | |
|---|---|
| د شرکتونو شمېر | ۵،۸۶۱ |
| د اشخاصو شمېر | ۱۹۷،۵۶۶ |
| ټولیزه | ۲۰۳،۴۲۷ |

دا مدیریت هڅه کوي چې د دې سیستم د پراختیا په موخه خپل پراختیایي پروګرام عملي کړي او د خپلو کاروونکو لپاره لازیاتې اسانتیاوې رامنځ ته کړي.

د معلوماتي تکنالوژۍ په برخه کې د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت د مشترکینو لپاره د اړیکو د معیاري ابزار په توګه ټلیفوني اسانتیاوې رامنځ ته کړي چې خدمتونو ته پراختیا ورکوي او د مشتریانو د لا خوښۍ لامل کېږي. له بلې خوا، د ویب پاڼو د امنیت، خوندیتوب او ښه والي لپاره اړینه تدابیر په پام کې نیول شوي او د PCR ویب پاڼه ډیزاین شوې ده، چې د عامه اعتبارونو د ثبت د آمریت دواړو لاسته راوړنو د مشترکینو لپاره زیاتې اسانتیاوې رامنځ ته کړي دي او د معلوماتو غوښتونکي کولای شي چې هره ورځ څلورویشت ساعته په انلاین توګه د اړتیا وړ معلومات ترلاسه کړي.

د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت اړوند اداري او مالي مدیریت په خپل وار د هغه تړون پر بنسټ هره میاشت فیس راټولوي چې د افغانستان بانک او د سوداګریزو بانکونو او کوچنیو مالي ادارو ترمنځ لاسلیک شوی، چې دغه عواید هم د منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت سیستم او هم د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم پورې اړه لري. په ۱۳۹۶ کال کې له دواړو سیستمونو څخه ټولیزه ترلاسه شوي عواید ۲،۵۷۲،۰۷۵ افغانۍ ته رسېږي.

- د منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت سیستم لپاره د سوداګریزو بانکونو لخوا د ورکړل شوي میاشتني فیس عاید ۲۹۱،۱۵۰ افغانۍ ته رسېږي
- په ۱۳۹۶ کال کې د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم لپاره له سوداګریزو بانکونو څخه ټولیزه ترلاسه شوي عواید ۱،۹۳۳،۴۲۵ افغانۍ ته رسېږي
- په ۱۳۹۶ کال کې د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم لپاره له کوچنیو مالي مؤسسو څخه ټولیزه ترلاسه شوی عاید ۲۶۰،۰۰۰ ته رسېږي
- په ۱۳۹۶ کال کې د سوداګریزو بانکونو د جرمونو له پلوه د اعتبارونو د ثبت سیستم ټولیزه عاید ۸۷، ۵۰۰ افغانۍ ته رسېږي

په ټوليزه توګه ۲،۵۷۲،۰۷۵ ميليون افغانۍ د مياشتني فيس او د سوداګريزو بانکونو د جرمونو له پلوه د مرکزي بانک د عوايدو حساب کې جمع شوي چې د مالي او محاسبې آمريت له لارې لېږدول شوي دي.

د عامه اعتبارونو د ثبت آمريت د سوداګريزې پراختيا د مديريت په برخه کې هم ځانګړې کړنې ترسره کړي چې په لنډه توګه وړاندې کيږي:

د نړيوال بانک په مالي مرستې او همکارۍ سره د ورکشاپونو د تطبيقولو له لارې د پور ورکړې د کوچنيو مالي ادارو لپاره د اعتبارونو د ثبت سيستمونو په اړه تخنيکي معرفي ترسره شوې ده. دا ورکشاپونه د هرات، کندهار، ننګرهار او باميان په ولايتونو کې د متشبثينو، ملي سوداګرو، صنعت کارانو، د حرفې خاوندانو، د کوچنيو پورونو مؤسسو او محصلينو لپاره جوړ شوي چې موخه يې ګډون کوونکو ته د اعتبارونو د ثبت سيستمونو د ګټو او اسانتياوو وړپېژندل دي.

# د افغان امانتونو د بیمې اداره

## د افغان امانتونو د بیمې اداره

د بانکي نظامونو په اړه له کره څېړنو څخه چې اوس مهال د نړۍ په کچه ترسره کېږي، دا جوته کیږي چې بانکونه او مالي اداري د خلکو د امانتونو د خوندیتوب او ملاتړ په موخه د بنسټیزو او قانوني طریقو او روشونو په کارولو سره توانیدلي دي څو امانت اېښودونکو ته د امانتونو د بیمې د اداري تر سرلیک لاندې د یو اداري په جوړولو سره د باور او اعتبار فضاء رامنځ ته کړي.

افغانستان له ۱۳۸۰ کال وروسته توانیدلی دی چې په ټولو برخو په ځانګړې توګه د هېواد په بانکي سیستم کې نوې پاڼه پرانیزي چې پر بنسټ یې، بانکونو یو په بل پسې د افغانستان بانک څخه د کار جوازونه ترلاسه او په فعالیت یې پیل وکړ او وتوانیده چې پانګوالو، خصوصي متشبثینو، مشتریانو او خلکو لپاره د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې اسانتیاوې برابرې کړي. د وخت په تیریدو او په هېواد کې د سوداګریزو بانکونو د فعالیتونو په پیلیدو سره د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او د افغانستان بانک پریکړه وکړه څو په بانکونو کې د امانت اېښودونکو د امانتونو د خوندیتوب او ساتلو په موخه یوه اداره جوړه کړي چې په پایله کې د دې کار د عملي کولو په موخه د افغانستان بانک په اډانه کې د افغان امانتونو د بیمې اداره پرانیستل شوه. د افغان امانتونو د بیمې د اداري د پرانیستل کیدو موخه په سواګریزو بانکونو کې د خلکو د امانتونو ملاتړ، د بانکونو د ټیکاو ساتل، له مالي او اقتصادي کړکیچ څخه مخنیوی، د سپماوو د زیاتیدو په موخه د امانت اېښودونکو هڅول او د هېواد په بانکي نظام باندې د خلکو د باور جلبول ګڼل کیږي چې د دې موخو پلي کیدل؛ د هېواد په مالي سیستم باندې د خلکو باور زیاتوي.

د افغان امانتونو د بیمې اداره د یو سوداګریز بانک د دیوالي کیدو په صورت کې د هېواد په کچه د خلکو د امانتونو د بیا ورکړې په پروسه کې بنسټیزه ونډه او مهم رول لوبوي. د افغانستان بانک په جوړښت کې د دې اداري جوړیدل د پورته موخو د عملي کولو لپاره، ځانګړی ارزښت لري چې بې له شکه د هېواد په بانکي نظام باندې د خلکو د اعتماد او اعتبار کچه زیاتوي او په سوداګریزو بانکونو کې د امانتونو د خوندیتوب په برخه کې د امانت اېښودونکو د ډاډ لامل کېږي.

- **د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د افغان امانتونو د بیمې د اداري غړي سوداګریز بانکونه**

د تیر کال په څیر، په ۱۳۹۶ مالي کال کې هم د هېواد ۱۴ سوداګریزو بانکونه چې د کار او فعالیت جواز یې د افغانستان بانک څخه ترلاسه کړی دی؛ د افغان امانتونو د بیمې اداري غړیتوب درلودلی چې له دې بانکونو څخه هر یو د بانکي کړنو او د خدمتونو د وړاندې کولو سربېره، له خپلو پیسو څخه یو اندازه پیسې هر کال په ربعواره توګه دې اداري ته حق البیمه (Premium) ورکوي چې ( عزیزي بانک، آرین بانک، د افغانستان نړیوال بانک، د کوچنیو پورونو لومړنی بانک، نشنل بانک اف پاکستان، الفلاح لمیټډ بانک، حبیب لمیټډ بانک، افغان یونایټډ بانک، افغان ملي بانک، پښتني بانک، د افغانستان سوداګریز بانک، میوند بانک، غضنفر بانک او باختر بانک) رانغاړي.

- **د افغان امانتونو د بیمې اداري پولي سرچینې**

د افغان امانتونو د بیمې د اداري پانګه ایزه او عایداتي سرچینې څلور مرجعې (د افغانستان بانک او د مالیې وزارت څخه ترلاسه شوې لومړنۍ او دوراني پانګه، له سوداګریزو بانکونو څخه ترلاسه شوی حق العضویت، له سوداګریزو بانکونو څخه د حق البیمې (Premium) راټولول او د دې اداري د پیسو د پانګونې

پروسه او له دې پانګې ترلاسه شوی عاید) جوړوي چې په (۱۸) جدول کې وړاندې کيږي:

| شماره | د افغان امانتونو د بيمې د ادارې د پيسو سرچينې |
|---|---|
| ۱ | لومړنۍ او دوراني پانګه |
| ۲ | يو ځل لپاره له سوداګريزو بانکونو څخه د غړيتوب حق |
| ۳ | په کال کې څلور ځله له سوداګريزو بانکونو څخه حق البيمه (Premium) |
| ۴ | د دې ادارې د پيسو پانګونه |

- **له سوداګريزو بانکونو څخه د حق البيمې د وضع کولو طريقه**

د افغان امانتونو د بيمې اداره د دې ادارې له ټولو غړو بانکونو څخه کلنۍ حق البيمه په ربعواره توګه د ټاکلي فورمول له مخې وضع کوي. د يادونې وړ ده چې اوس مهال ټول سوداګريز بانکونه د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې د لوی آمريت لخوا څارل او څېړل کيږي چې دا بانکونه د خپلو کړنو د کچې له مخې په بيلابيلو کټګوريو (CAMEL Rating) ډله بندي شوي دي چې د همدې ډله بندۍ پر بنسټ، د افغان امانتونو د بيمې اداره د کال د څلورو ربعو په اوږدو کې خپله حق البيمه د دې بانکونو له حسابونو څخه وضع کوي.

د ادارې د موخو د ترلاسه کولو، د رقابتي کړنو د انګيزې او د بانکونو ترمنځ د خطرونو د کچې د کمولو په موخه؛ دې ادارې د حق البيمې وضع کول د (۱۹) جدول له مخې د هر واحد کميل ريټينګ د ټاکلې سلنې له ډله بندۍ سره ترلاسه کړی دی:

| د بانکونو ډله بندي (CAMEL Rating) | د حق البيمې د وضع کولو سلنه |
|---|---|
| ۱ | ۰.۱۰٪ |
| ۲ | ۰.۱۵٪ |
| ۳ | ۰.۲۰٪ |
| ۴ | ۰.۳۰٪ |
| ۵ | ۰.۳۵٪ |


څرنګه چې په پورته جدول کې ليدل کيږي؛ هغه بانکونه چې د خطر د کچې سلنه يې کمه وي، د افغان امانتونو د بيمې ادارې (ADIC) ته لږه سلنه حق البيمه ورکوي، خو هغه بانکونه چې د خطر د کچې سلنه يې ډېره وي؛ دې ادارې ته بايد ډېره سلنه حق البيمه ورکړي. همدا ډول د يادونې وړ ده چې لږه سلنه (۰.۱۰٪) او زياته سلنه (۰.۳۵٪) جوړوي.

- **د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې له سوداګريزو بانکونو څخه د راټولې شوې حق البيمې کچه**

د افغان امانتونو د بيمې اداره په کال کې څلور ځلې په ربعواره توګه د ټاکلي فورمول په کارولو سره له سوداګريزو بانکونو څخه حق البيمه وضع کوي. له همدې امله دې ادارې د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې (۴۸۱،۱۵۰،۳۸۵) څلوره سوه او يو اتيا ميليونه او يو سلو پنځوس زره او درې سوه پنځه اتيا افغانۍ د سوداګريزو بانکونو له حساب څخه د حق البيمې له درکه خپل حساب ته راټولې کړې دي چې د لا وضاحت لپاره کولای شی د (۲۰) جدول او لاندې ګراف ته مراجعه وکړئ.

| د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د سوداګريزو بانکونو له حسابونو څخه د افغان امانتونو د بيمې ادارې حساب ته ټوليزه وضع شوې حق البيمه | | |
|---|---|---|
| د کال ربعې | مبلغ په افغانۍ | کال |
| څلورمه ربعه | ۱۱۶،۹۱۹،۷۰۵ | د ۲۰۱۷ جنوري، فبروري او مارچ |
| لومړۍ ربعه | ۱۱۵،۰۰۹،۱۰۹ | د ۲۰۱۷ اپريل، مې او جون |
| دويمه ربعه | ۱۲۰،۶۳۱،۳۷۳ | د ۲۰۱۷ جولای، اګست او سپټمبر |
| دريمه ربعه | ۱۲۸،۵۹۰،۱۹۸ | د ۲۰۱۷ اکتوبر، نومبر او ډيسمبر |
| **ټوليز** | **٤۸۱،۱۵۰،۳۸۵** | |

(۲۵) ګراف د ۱۳۹۵ او ۱۳۹۶ مالي کلونو د راټولو شویو حق البیمو پرتله




څرنګه چې په (۲) ګراف په پرتلیزه توګه لیدل کیږي، په ۱۳۹۵ مالي کال کې (۴۳۴،۷۰۳،۵۱۳) افغانی او په ۱۳۹۶ مالي کال کې (۴۸۱،۱۵۰،۳۸۵) افغانی حق البیمه راټوله شوې ده چې د ۱۳۹۵مالي کال په پرتله په ۱۳۹۶ مالي کال کې شاوخوا (۴۶،۴۴۶،۸۷۲ ) افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي.

- **د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک په بیه لرونکو پاڼو کې د دې ادارې د پانګه اچونې د فعالیت کچه**

د یو بانک د دیوالي کیدو پر مهال د امانت ایښودونکو د پیسو د بیا ورکړې په موخه په خوندي ځایونو کې د دې ادارې د پیسو پولي خوندیتوب او پانګونه، د افغان امانتونو د بیمې د ادارې له بنسټیزو او ستراتیژیکو دندو څخه ګڼل کیږي. د ستراتیژیکو موخو د پلي کولو لپاره، دې ادارې په خپل حساب کې د پیسو د درلودلو پر مهال، د پولي زېرمو د زیاتولو او پیاوړتیا او د دې ادارې د پیسو د راکد پاتې کیدو د مخنیوي په موخه په سوداګریزو بانکونو کې د ثانوني بازار (Secondary Market) د ګډون له لارې په تناوبي ډول د پانګونې په پروسه کې پانګونه کړې ده. دې ادارې د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې ۲۸ ځله له سوداګریزو بانکونو سره د ثانوي بازار په بیه لرونکو پاڼو کې پانګه اچونه کړې چې د هغه په پام کې نیولو سره او په ثانوي بازار کې د پانګونې د پروسې د روڼتیا په موخه لومړی د سوداګریزو بانکونو غوښتنلیک تر څیړنې او مطالعې لاندې نیسي او ورپسې په دې اړه لازمه پریکړه کوي. د افغان امانتونو د بیمې ادارې ۲۸ ځلې د پانګه ایزو پاڼو(کپیټل نوټ) په پانګونه کې ګډون کړی دی او د ۱۳۹۶ مالي کال له پیل څخه تر پای پورې یې په ټولیزه توګه (۳۹،۹۸۹،۷۶۸.۸۷ ) نهه دېرش میلیونه او نهه سوه نهه اتیا زره او اووه سوه اته شپېته اعشاریه اووه اتیا افغانۍ ګټه کړې ده.

# د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز

# د افغانستان د مالي معاملو او راپوررونو د څېړنې مرکز

د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو پر وړاندې د مبارزې قانون پر بنسټ، د افغانستان د مالي معاملو او راپوررونو د څېړنې مرکز په خپلو کړنو، دندو او فعالیتونو کې یو خپلواکه اداره ده. د افغانستان د مالي معاملو او راپوررونو د څېړنې مرکز د مالي چارو د څاروونکو، د قانون پلي کوونکو ادارو او له لوېې څارنوالۍ سره یو ځای د پیسو د وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل د کړنو د پېژندلو او مبارزې په موخه د یوه مناسبه چاپېریال د رامنځ ته کولو او ساتلو لپاره هلې ځلې کوي.

د **۱۳۹۶** مالي کال په اوږدو کې د افغانستان د مالي معاملو او راپوررونو د څېړنې مرکز د کړنو او لاسته راوړنه لنډیز لاندې وړاندې کیږي:

**د مالي اقداماتو د نړیوالې ډلې له خړ لست څخه د افغانستان د نوم ویستل:**

د مالي اقداماتو نړیواله ډله د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې رژیم د پیاوړتیا په موخه د افغانستان د پام وړ پرمختګ څخه هرکلی کوي او لیکي چې افغانستان د هغو ستراتیژیکو نیمګړتیاوو په تړاوو چې په **۲۰۱۲** کال کې دغه اداره په نښه کړې ؤ، د خپلو ژمنو د عملي کولو لپاره حقوقي او څارنیزه کاري اډانه جوړه کړې ده. له همدې کبله، افغانستان نور د مالي اقداماتو د نړیوالې ډلې لخوا د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل په تړاو تر څارنې او دوامداره پاملرنې لاندې نه نیول کیږي.

افغانستان د ارام اقیانوس له ډلې سره د دوه اړخیزه ارزونې په راپور کې د پېژندل شویو ټکو او موضوعاتو په تړاو چې د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل او په ځانګړې توګه د افغانستان په ځمکني پولو کې د پیسو، اسعارو او د بې نومه معاملې وړ سندونو د لېږد د کنټرول او راپور ورکولو مقررې د بشپړ تطبیق په اړه همکاري ته دوام ورکوي.

**د راپور ورکوونکو ادارو څخه د لویو معاملو په اړه د راپوررونو ترلاسه کول:**


د پیسو د وینځلو، د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې د قانون او د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل په وړاندې د مسؤولیتونو او مخنیوی کوونکو اقداماتو له مقررې سره سم، بانکي مؤسسې اړې دي څو د هغو معاملو په اړه چې ارزښت یې له (۱،۰۰۰،۰۰۰) افغانۍ څخه زیات یا معادل یې په نورو اسعارو وي، د راتلونکي میاشتې تر پنځمې کاري ورځې پورې د مالي استخباراتو ادارې ته راپور ورکړي.

همدا ډول هغه معاملې چې په دوه پر له پسې ورځو کې یې ټولیزه ارزښت (۱،۰۰۰،۰۰۰) افغانۍ یا له دې زیاتې شي، باید د مالي استخباراتو ادارې ته یې راپور ولیږل شي.

(۲۱) جدول د لویو نغدي معاملو راپوررونه چې د **۱۳۹۶** مالي کال په اوږدو کې د بانکي مؤسسو لخوا وړاندې شوي دي، ښکاره کوي.

| میاشت | جنوري | فبروري | مارچ | اپریل | می | جون | جولای | آګست | سپتمبر | اکتوبر | نومبر | ډیسمبر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰۱۶ | ۱۲۶،۴۱۱ | ۱۱۷،۲۸۸ | ۱۲۵،۰۹۰ | ۱۲۰،۹۹۲ | ۱۴۱،۰۱۵ | ۱۰۵،۹۵۰ | ۹۱،۷۱۶ | ۱۱۵،۱۰۰ | ۸۷،۹۲۰ | ۱۱۶،۴۸۵ | ۱۲۵،۴۲۲ | ۱۱۵،۵۷۹ |
| ۲۰۱۷ | ۱۰۵،۱۹۲ | ۸۸،۴۷۰ | ۸۷،۴۴۹ | ۱۰۸،۸۴۸ | ۱۰۴،۹۶۳ | ۶۹،۴۰۸ | ۱۱۱،۵۹۰ | ۱۱۱،۰۲۴ | ۸۷،۹۲۶ | ۱۰۶،۱۷۰ | ۱۰۰،۹۱۳ | ۰ |

(۲۶) د لویو معاملو راپور چې د میاشتو د شمېر پر بنسټ وېشل شوي دي




د ۱۳۹۶ مالي کال په پام کې نیولو سره د ۲۰۱۷ د ډیسمبر میاشتې په راپور کې پورته راپور شامل نه دی.

**د پولي خدمتونو (حوالې) وړاندې کوونکي**


د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو په سکتور کې د پیسو وینځل او د ترهګرۍ تمویل د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز لپاره یوه ستره اندېښنه ګڼل کېږي، له همدې امله یادې اداري په دې برخه کې د خطرونو د کمولو لپاره د ۱۳۹۶ (۲۰۱۷) کال په اوږدو کې لاندې اقدامات ترسره کړي دي:


- د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو لپاره د دوامداره روزنیزو او علمي پروګرامونو برابرول؛
- په ټول هېواد کې د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د ۲۵ جوازونو فسخ کول؛
- د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د فعالیت د اتو (۸) جوازونو ځنډول؛
- په ټولیزه توګه د ۳.۸ میلیونه افغانۍ د نغدي جریمو وضع کول؛
- د پولي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د انفرادي حسابونو د کارونې منع کول؛
- د ۴ خبرداریو صادرول؛
- د مالي استخباراتو د اداري په ویب پاڼه کې د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د فسخ شویو جوازونو د لست خپرول؛
- د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د ۷۲ سلنه راپور ورکونې الکترونیکي کول؛

**د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د سترو معاملو راپور**

د ۲۰۱۷ کال له پلان سره سم، د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز په ټول هېواد کې د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو لپاره ۲۰ روزنیزه پروګرامونه په لاره اچولي، څو د هغوی د راپور ورکولو کاري اډانه الکترونیکي بڼې ته واوړي. اوسمهال، له ۹۵۵ ټولیزه وړاندې کوونکو څخه ۶۹۵ یې په الکترونیکي بڼه راپور ورکوي چې د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د سکتور ۷۲ سلنه جوړوي.

(۲۷) او (۲۸) ګرافونه په ترتیب سره د زونونو د شمېر په اساس د وېشل شویو شکمنو معاملو راپورونه او د میاشتو د شمېر له مخې د وېشل شویو شکمنو معاملو راپور ښکاره کوي






## د ساحې دننه څارنه

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې آمریت سره د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو او صرافانو په بازار کې د ساحې دننه څارنې په موخه هره اړخیزه همکاري کړې ده. د یادولو وړ ده چې په ۱۳۹۶ مالي کال کې په لسو ولایتونو کې لس (۱۰) د ساحې دننه څارنې ترسره شوې دي.


## د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو ټولیزه بانکي حسابونه

د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو او د صرافانو د کړنو د تنظیم د مقررې له مخې، ټول صرافان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي اړ دي چې سوداګریزه بانکي حسابونه پرانیزي او خپلې ټولې معاملې له هغه لارې ترسره کړي. د روڼتیا څخه د ډاډ ترلاسه کولو او د سوداګریزه موخو لپاره د شخصي حسابونو د کارولو څخه د مخنیوي په موخه د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز په ټول هېواد کې په ټولیزه توګه ۱،۹۱۱ جواز لرونکي بانکي حسابونه پېژندلي دي.

## د شکمنو معاملو د راپورونو ترلاسه کول

د تېرو کلونو په پرتله په ۱۳۹۶ مالي کال کې د سوداګریزو بانکونو لخوا د استول شویو شکمنو معاملو د راپورونو کیفیت د پام وړ ښه والی موندلی چې دا بدلون د هر سوداګریز بانک د قوانینو او مقررو د رعایتولو د آمریت له مسوولینو سره د حضوري غونډو او مستقیمو خبرو اترو په پایله کې رامنځ ته شوی دی.

(۲۹) ګراف په ۱۳۹۶ مالي کال کې د ۴۵۹ شکمنو معاملو راپورونه د سوداګریزو بانکونو لخوا لېږل شوي چې په (۲۹) ګراف کې ښودل شوی دی




یادداښت: د ۱۳۹۶ مالي کال ته په کتو سره د ۲۰۱۷ ډیسمبر میاشتې راپور کې دا راپور شامل نه دی.

## په سرحدي ګمرکونو کې د پیسو، اسعارو او د معاملې وړ بې نومه سندونو د لېږد کنټرولول

د پیسو، اسعارو او د معاملې وړ بې نومه سندونو د لېږد د کنټرول او راپور ورکولو مقررې د تصویبېدو سره سم د افغانستان د ګمرکونو اداري د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز په همکارۍ سره اړینه اقدامات ترسره کړي څو یاده مقرره او د مالي اقداماتو د نړیوالې ډلې ۳۲ شمېره سپارښتنه تطبیق کړي. د دې کار په پایله کې د فزیکي پیسو، اسعارو او د معاملې وړ بې نومه سندونو د لېږد د کنټرول او راپور ورکولو بهیر د هېواد په څلورو نړیوالو هوایي ډګرونو (کابل، هرات، قندهار او مزار شریف) او د دې ترڅنګ د اسلام قلعه، تورغوندۍ او د تورخم په سرحدي سیمو کې پیل شوی دی.

د دې ترڅنګ د یادې مقررې د ۱۲ مادې د لومړۍ فقرې په پام

کې نیولو سره، د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د کارکوونکو د ظرفیت او وړتیا د لوړولو، د مقرري د غوره تطبیق او د پیسو د اظهار لیک فورمونو بهیر د پیلولو، د اړتیا وړ فني همکاریو او د ګمرکاتو د کارکوونکو، پولیسو، ملي امنیت او نورو اړوندو دولتي ادارو لپاره د کار په ساحه کې د عملي روزنو په برخه کې اقدامات ترسره کړي دي.

همدا ډول، د ګمرک کارکوونکو او د اړوندو ادارو استازو د ملګرو ملتونو لخوا او د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز په همکارۍ د کابل په نړیوال هوايي ډګر کې د پیسو د قاچاق څخه د مخنیوي او راکمولو په اړه عملي روزنې ترلاسه کړي دي.

سربېره پردې، د ګمرکونو اداري نوي اظهارلیکونه چاپ، د بلبورډونو له لارې د عامه پوهاوی پروګرامونه چې مقرراتي معلومات هم رانغاړي، په لاره اچولي او په نړیوالو هوايي ډګرونو او د هېواد په سرحدي سیمو کې د ASYCUDA سیستمونه لګولي دي چې له دې لارې معلومات په الکترونیکي بڼه د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز کې د لاسرسي وړ دي.

**په سرحدي ګمرکونو کې د پیسو، اسعارو او د معاملې وړ بې نومه سندونو د اظهار لیکونو ثبتول**


د افغانستان د اسلامي جمهوریت په سرحدي ګمرکونو کې د پیسو، اسعارو او د معاملې وړ بې نومه سندونو د لېږد د کنټرول او راپور ورکولو مقررې پر بنسټ، د ګمرکونو اداره د دغه مقررې د پلي کولو واک لرونکي اداره ده او د ګمرک کارکوونکي اړ دی چې د مسافرینو څخه اظهارلیک ترلاسه کړي. د دې ترڅنګ، د ګمرک اداره اړ ده چې په درېیو کاري ورځو کې د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز ته د اظهارلیکونو په اړه راپور ورکړي.

ځوک چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت څخه بهر یا دننه کیږي او پیسې، اسعار، د معاملې وړ بې نومه سندونه، سره زر یا نور قیمتي فلزونه یا کریمه احجار چې ارزښت یې له لسو زرو امریکايي ډالرو (۱۰۰۰۰) څخه زیات یا معادل یې په نورو اسعارو له ځان سره لېږدوي یا دا چې د بار د حمل او نقل، د پست د لېږلو له لارې یا نورو طریقو په مرسته یې لېږدوي، اړ دي چې اړوند اظهارلیکونه ډک او د ګمرک کارکوونکي ته یې وسپاري.

د اړوندې مقررې پر بنسټ، په ۲۰۱۷ کال کې د ګمرکونو اداري لاندې په (۲۲) جدول کې د ښودل شویو کورنیو او بهرنیو اظهارلیکونو په اړه د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز ته راپور ورکړی دی:

| شمېره | میاشت | د راپور شمېره | د پیسو مقدار په ډالرو |
|---|---|---|---|
| ۱ | جنوري | ۳۶۱ | ۶۴،۴۶۹،۶۲۱.۰۹ |
| ۲ | فبروري | ۳۴۱ | ۵،۷۳۲،۴۹۸.۶ |
| ۳ | مارچ | ۲۴۱ | ۴،۳۴۴،۳۸۷.۴۳ |
| ۴ | اپریل | ۲۴۹ | ۴،۵۲۵،۳۶۰ |
| ۵ | می | ۲۴۱ | ۴،۳۱۰،۶۳۱ |
| ۶ | جون | ۱۳۴ | ۲،۲۶۰،۹۶۰.۹ |
| ۷ | جولای | ۲۱۱ | ۳،۶۹۸،۱۹۸.۹۵ |
| ۸ | آګست | ۱۴۵ | ۳،۷۹۶،۰۱۷ |
| ۹ | سپتمبر | ۱۲۰ | ۲،۳۳۰،۰۰۸ |
| ۱۰ | اکتوبر | ۱۶۰ | ۳،۸۷۸،۶۹۶ |
| ۱۱ | نومبر | ۱۸۱ | ۳،۱۳۸،۴۴۳.۲۶ |
| ۱۲ | ډیسمبر | – | ۰ |
| ټولیزه | | ۲،۳۸۴ | ۴۳،۴۸۴،۸۲۲.۰۰ |

(۳۰) ګراف په سرحدي ګمرکونو کې د پیسو، اسعارو او د معاملې وړ بې نومه سندونو راپور ښکاره کوي




## د لېږد ممنوعیت او د قانون تنفیذول

څوک چې د افغانستان اسلامي جمهوریت له خاورې څخه ووځي، پیسې، اسعار، د معاملې وړ بې نومه سندونه، سره زر یا نور قیمتي فلزونه یا کریمه احجار چې ارزښت یې له ۲۰۰۰۰ امریکایي ډالرو څخه زیات یا یې معادل په نوراسعارو له ځان سره لیږدولی نه شي او یا د دومره مبلغ بهر ته لیږلو لپاره د بار او توکو د حمل نقل لارو چارو، پستي لیږد او داسې نورو فزیکي لیږد لارو څخه کار اخیستی نه شي.


که چیرې څوک د ۱۰۰۰۰ امریکایي ډالرو څخه زیاتې پیسې یا د معادل ارزښت لرونکو توکو په اړه د معلوماتو له ورکولو څخه ډډه وکړي یا ناسمه معلومات ورکړي، په دې صورت کې واک لرونکې کارکوونکی اړ دی چې د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي قانون د خلورمې مادې پر بنسټ دا پیسې ضبطي کړي او اړوند شخص عدلي مراجعو ته وسپاري څو د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل جرم یې تشخیص او د پیسو وینځلو جرم شکمنتیا یې وڅېړل شي.

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز په ۱۳۹۶ مالي کال کې د ګمرکونو عمومي ریاست څخه د پیسو او سرو زرو د ضبطولو ۱۴ پیښې ترلاسه کړې چې له دې ډلې ۴ پېښې یې په بشپړه توګه کتل شوي او پر سرغړوونکو باندې ۹۴۴۶۷۸۹ افغانۍ جریمه وضع شوې ده.

د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو پر وړاندې د مبارزې قانون د ۲۵ مادې پر بنسټ، د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د شکمنو معاملو د راپورونو او د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل اړوندو معلوماتو د ترلاسه کولو، شننې او څېړنې او د قانون د حکمونو سره سم د یادو راپورونو د څېړنیزو پایلو د خپرولو یوازینی مسوولہ اداره ده.

د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د شکمنو معاملو ۴۳۸ راپورونه له راپور ورکوونکو مرجعو څخه ترلاسه کړي او د شکمنو معاملو ۷۷ راپورونه یې تر شننې لاندې نیولي دي. دا په داسې حال کې ده چې د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د ۴۵۹ ټولیزه راپورونو له ډلې ۵۹ د شکمنو معاملو راپورونه یې ترلاسه کړي او هغه یې د لومړیتوب په اساس کتلي او څېړلي دي.

د (۲۳) او (۲۴) جدولونه په ۱۳۹۵ او ۱۳۹۶ مالي کلونو کې د ترلاسه شویو شکمن معاملو راپورونه ښکاره کوي






د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي قانون د ۳۶ مادې پر بنسټ، د شکمنو معاملو د شننې وړ پیښې (قضیې) د څېړنې او کتنې په موخه د قانون تطبیقوونکو داخلي مراجعو ته لیږل شوي دي.

(۲۵) جدول د قانون پلي کوونکو داخلي مراجعو ته د ليږل شويو شکمنو معاملو شمېر ښکاره کوي

| شمېره | د قضيې ډول | اصلي جرم | د شکمنو معاملو شمېر | د اشخاصو شمېر (حقيقي او حکمي) | مرجع |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | مخنيوی کوونکی | له جواز پرته فعاليت | – | ۱۳۹ | د افغانستان بانک، د ملي امنيت رياست او د کورنيو چارو وزارت |
| ۲ | استراتيژيک | د پيسو وينځل | ۷ | ۱۴ | د ملي امنيت عمومي رياست |
| ۳ | انفعالی | د ترهګرۍ تمويل | ۲ | ۱ | د ملي امنيت عمومي رياست |
| ۴ | انفعالی | د ترهګرۍ تمويل | ۱ | ۱ | د لويې څارنوالی اداره |
| ۵ | انفعالی | د پيسو وينځل | ۱ | ۱ | د لويې څارنوالی اداره |
| ۶ | انفعالی | د ترهګرۍ تمويل | ۱ | ۱ | د ملي امنيت عمومي رياست |
| ۷ | انفعالی | د نشه يي توکو قاچاق | ۱ | ۱ | د کورنيو چارو وزارت |
| ۸ | انفعالی | د ترهګرۍ تمويل | ۱ | ۱ | د ملي امنيت عمومي رياست |
| ۹ | انفعالی | له مالياتو تيښته | ۵ | ۲ | د ماليې وزارت |
| ۱۰ | استراتيژيک | فريب کاری | ۶ | ۲۱ | د ملي امنيت عمومي رياست |
| ۱۱ | انفعالی | غلا کول | ۱ | ۱ | د لويې څارنوالی اداره |
| ۱۲ | انفعالی | د ترهګرۍ تمويل | ۲ | ۱۲ | د ملي امنيت عمومي رياست |
| ۱۳ | انفعالی | خيالی پوليس | ۱ | ۱ | د کورنيو چارو وزارت د استخباراتو اداره |
| ۱۴ | استراتيژيک | د پيسو وينځل | ۱۱ | ۲۷ | د ملي امنيت عمومي رياست |
| ۱۵ | استراتيژيک | د پيسو وينځل | ۲ | ۷ | د کورنيو چارو وزارت |
| ۱۶ | استراتيژيک | له مالياتو تيښته | ۱ | ۳ | د کورنيو چارو وزارت |
| ۱۷ | انفعالی | خيالی پوليس | ۱ | ۱ | د لويې څارنوالی اداره |
| ۱۸ | انفعالی | د ترهګرۍ تمويل | ۱ | ۱ | د ملي امنيت عمومي رياست |
| ۱۹ | انفعالی | تښتول | – | ۱ | د ملي امنيت عمومي رياست |
| ۲۰ | انفعالی | د ترهګرۍ تمويل | ۱ | ۱ | د کورنيو چارو وزارت |
| ۲۱ | انفعالی | خيالی پوليس | ۲ | ۵ | د لويې څارنوالی اداره |
| ۲۲ | انفعالی | له مالياتو تيښته | ۲ | ۲ | د ماليې وزارت |
| ۲۳ | د غوښتنې په اساس | د نشه يي توکو قاچاق | – | ۲ | د لويې څارنوالی اداره |
| ۲۴ | مخنيوی کوونکی | د پيسو وينځل | – | ۱ | د کورنيو چارو وزارت |
| ۲۵ | مخنيوی کوونکی | د پيسو وينځل | – | ۱ | د کورنيو چارو وزارت |
| ۲۶ | د غوښتنې په اساس | د پيسو وينځل | ۲ | ۱ | د کورنيو چارو وزارت |
| ۲۷ | انفعالی | د پيسو وينځل | ۱ | ۲ | د کورنيو چارو وزارت |
| ۲۸ | انفعالی | د پيسو وينځل | ۱ | ۱ | د کورنيو چارو وزارت |

د (۳۱) او (۳۲) ګرافونه اصلي جرمونه او د شکمنو معاملو په اتومات ډول خپاره شوي راپورونه ښکاره کوي




## د قوانينو د رعايتولو په موخه تنفيذي اقدامات

د قوانينو د لا ښه تطبيق او رعايتولو په موخه د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز په ۱۳۹۶ مالي کال کې لاندني اقدامات ترسره کړي دي.

### د فعاليت د جوازونو فسخ او ځنډول

د پيسو وينځلو او د ترهګرۍ د تمويل خطرونو د راکمولو په موخه د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د يو شمېر پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د فعاليت جوازونه فسخ او ځنډولي دي چې (۲۶) جدول کې وړاندې کيږي؛


| | |
|---|---|
| د فعاليت جواز فسخ کول (د پولي خدمتونو وړاندې کوونکی) | ۲۵ |
| د فعاليت جواز ځنډول (د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي) | ۸ |

### د نغدي جريمو وضع کول

(۲۷) جدول د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز لخوا په راپور ورکوونکو ادارو باندې نغدي جريمې رانغاړي

| | |
|---|---|
| د پولي خدمتونو پر وړاندې کوونکو باندې وضع شوي جرمونه | ۳،۷۹۱،۸۰۰.۰۰ |
| پر خصوصي/سوداګريزو بانکونو باندې وضع شوي جرمونه | ۳،۵۵۰،۰۰۰.۰۰ |
| ټوليزه، په افغانی | ۷،۳۴۱،۸۰۰.۰۰ |

(۳۳) ګراف د مياشتو د شمېر په اساس حساب شوي مالي جريمې ښکاره کوي





### د لوړ خطر لرونکو حقيقي او حکمي اشخاصو لست


د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز لخوا د لوړ خطر لرونکو حقيقي او حکمي اشخاصو د لست د خپرولو موخه د لوړ خطر لرونکو اشخاصو، د شته ګډوډيو او د پيسو وينځلو د شتون او يا د نورو اصلي جرمونو مشخصول او څرګندول ګڼل کيږي.

د دې مرکز د لوړ خطر لرونکو اشخاصو په لست کې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د بندیزونو لست، د امریکې د خزانه دارۍ د بهرنیو شتمنیو د کنټرول د ادارې لست او د بهرنیو بندیزونو داسې نور لستونه شامل نه دي. دا لست د بهرنیو بندیزونو د رژیم او د نورو داخلي ادارو لخوا د صادر شویو لاربښوونو په برخه کې د مالي مؤسسو مسوولیت نه اغېزمنه کوي. مالي مؤسسې اړې دي چې د داخلي مراجعو او نړیوالو ادارو سره د خپلو دوه اړخیزو ژمنو پر بنسټ داخلي قوانین، مقررې او پالیسۍ رعایت کړي. د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د لوړ خطر لرونکو حقیقي او حکمي اشخاصو په لست کې د درج شویو ټکو احصائیه لاندې وړاندې کېږي چې د پنځو خبرتیاوو له لارې لېږل شوې دي.

د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د لوړ خطر لرونکو حقیقي او حکمي اشخاصو د لست د عملي کولو په تړاو ترلاسه شوې احصائیه او شمېرې

۳۴ او ۳۵ ګرافونه: د لوړ خطر لرونکو حقیقي او حکمي اشخاصو د لست د عملي کولو په تړاو ترلاسه شوې احصائیه او شمېرې په ګوته کوي




( ۲۸ ) جدول د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د لوړ خطر لرونکو حقیقي او حکمي اشخاصو د لست د عملي کولو په تړاو ترلاسه شوې احصائیه او شمېرې ښکاره کوي

| شمېره | کړنې | توضیحات |
|---|---|---|
| ۱ | د بانکي حسابونو کنګلول | ۷ حسابونه کنګل شوي دي |
| ۲ | د بانکي حسابونو بندول | ۱۹ حسابونه تړل شوي دي |
| ۳ | د لوړ خطر لرونکی کټګورۍ | په لوړ خطر لرونکي کټګورۍ کې ۳۶ حقیقي او حکمي اشخاص لست شوي دي |
| ۴ | د منځني خطر لرونکی کټګورۍ | په منځنی خطر لرونکي کټګورۍ کې ۵ حقیقي او حکمي اشخاص لست شوي دي |
| ۵ | د شکمنې معاملې راپور | د شکمنو معاملو ۶ راپورونه ورکړل شوي دي |
| ۶ | نه واریز کول "No Credit" | د نه واریز کولو په کټګورۍ کې ۲۰ حسابونه لست شوي دي |

## مخنیوی کوونکي اقدامات

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز داخلي کمیټه (اجرائیوي کمیټه) د ۱۳۹۵ مالي کال (۲۰۱۶) کې ۹ ناستې ترسره کړې او د دې مرکز د لاسته راوړنو په اړه په کې خبرې اترې شوي دي. په ټولیزه توګه ۲۶ څېړنیزې پېښې لکه د پیسو وینځلو، د ترهګرۍ د تمویل، د نشه یي توکو د قاچاق، فساد او داسې نور اصلي جرمونه تائید شوي او د لوېې څارنوالۍ او د قانون نورو پلي کوونکو مراجعو ته لېږل شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې د ۱۳۹۶ مالي کال (۲۰۱۷) کې داخلي کمیټې ۲۲ ناستې کړې او ۲۸ پېښې یې تائید او د لوېې څارنوالۍ او د قانون نورو مراجعو ته یې راجع کړې دي.

د کمیټې د لاسته راوړنو د تفصیلاتو په پام کې نیولو سره او د پېښو په تړاو د قوانینو د پلي کولو او د ځانګړو تدابیرو او کړنو د اتخاذولو په اړه د پیسو وینځلو او د جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو قانون د ۲۴ مادې پر بنسټ، دې مرکز د غیر قانوني مالي

سیستم د کارونې په وړاندې لاندني مخنیوي کوونکي اقدامات لاس لاندې نیولي دي:

- د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د سوداګریزو موخو لپاره د شخصي حسابونو کارول منع کړي څو له مالیاتي تیښتې څخه مخنیوی وکړي او د پیسو په تعقیب کې اسانتیا رامنځ ته کړي. په پایله کې په ۱۳۹۶ مالي کال کې ۱۷۷۶ انفرادي حسابونه چې د سوداګریزو موخو لپاره کارول کېدل، بند یا په سوداګریز حساب باندې اړول شوي دي.
- د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د ۲۰۱۷ کال په جولای میاشت کې د لوړ خطر لرونکو حقیقي او حکمي اشخاصو لست په لاره واچاوه. د همدې کال تر پایه پورې ۱۹۳ حقیقي او حکمي اشخاص د پیسو وینځلو، نشه یي توکو د قاچاق، مالیاتي جرمونو او داسې نورو اصلي جرمونو باندې د شکمنتیا له امله په دې لست کې شامل شوي چې د بانکي سکتور سره شریک شوی دی. په پایله کې بانکي سکتور له ۱۹ حقیقي او حکمي اشخاصو سره خپلې سوداګریزې اړیکې ختمې کړې دي. د دې لست موخه د بانکي حسابونو انجماد یا ځنډول نه دی، بلکې له مالي سکتور څخه غواړي چې د مشتري د ښه پېژندلو لپاره د پیسو وینځلو او د جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي قانون ۱۲ ماده عملي کړي. که چیرې د مشتري په دقیقه پېژندنه کې پاتې راشي نو اړ دي چې د یاد قانون د ۱۳ مادې سره سم د مشتري سره خپلې اړیکې وځنډوي او د هغه د شکمنې معاملې راپور درج کړي.
- د پولي خدمتونو بیلابیل وړاندې کوونکي پېژندل شوي، سوداګریزه جوازونه یې فسخ او لست یې په عامه توګه خپور شوی دی. دا د مخنیوي یو ګټوره اقدام دی او د قوانینو رعایت او مطابقت رژیم پیاوړی کوي.
- په اوو ولایتونو کې د جواز نه لرونکو پولي خدمتونو وړاندې کوونکي پېژندل شوي او د خطر لرونکي اشخاصو په توګه مشخص شوي او لس یې د بانکي او څارنیزه سکتور سره شریک شوي دي. د دې ترڅنګ د ملي امنیت له عمومي ریاست څخه غوښتل شوی چې د هغوی سوداګریزه فعالیتونه بند کړي. دې مرکز په ښکاره توګه مشخص کړی چې د جواز نه لرونکي پولي خدمتونو وړاندې کوونکي نه یوازې غیر قانوني عمل ترسره کړی، بلکې له مالیاتو څخه تیښتې لپاره یې لاره برابره کړې ده.
- ترلاسه شوي معلومات د ګمرکاتو او صلاحیت لرونکو مالیاتي ادارو سره هم شریکه شوې چې د مالیاتي ادارو سره دا شریک شوي معلومات مرسته کوي چې له مالیاتو څخه د پلان شوې تیښتې بهیر ګډوډ شي. په ۱۳۹۶ مالي کال کې د ۴۳ سوداګریو په اړه معلومات له مالیاتي ادارو سره شریک شوي دي.
- د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د فعالو، تړل شویو او پرېښودل شویو سوداګریو په اړه معلومات د خپل الکترونیکي پاڼې (وب سایټ) له لارې خپروي. له دې لارې د بانکي سکتور لخوا د اړوندو خواوو پېژندنه ډېره اسانه شوې او د پولي خدمتونو سرغړوونکو خواوو سره تر پېژندل کېدو ژر وروسته د قانون سره سم عمل کېږي.
- د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو مقررې سره سم، پولي خدمتونه باید سوداګریزه بانکي حسابونه ولري او خپل خدمتونه د دغو بانکي حسابونو له لارې اجرا کړي. د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز دا کار کړی او

د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د بانکي حسابونو لستونه یې راټول کړي دي. په ټولیزه توګه ۱،۹۱۱ بانکي حسابونه راټول شوي او د سرغړونې د تشخیص کېدنې په صورت کې پرتله ایزه شننه او کتنه ترسره کېږي.


- د شکمنو معاملو راټولول، تحلیلول او خپرول د دې مرکز لپاره یوه حتمي قانوني دنده ده. د لویې ښارنوالۍ اداري او د قانون نورو پلي کوونکو ارګانونو ته د راپور د خپرولو سربېره، دا مرکز د لوړ خطر لرونکو اشخاصو په نوم د راپورونو محتوا خپروي. په ۱۳۹۶ مالي کال کې د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مدیریت ۸۶ حقیقي او حکمي اشخاص په لست کې شامل کړي دي. په لست کې شامل موارد یوازې هغه وخت له لست څخه لرې کېږي چې د قانون د پلي کوونکو ارګانونو څخه ځواب (Feedback) ترلاسه شي. د قانون پلي کوونکو ارګانونو څخه د دا شان ځوابونو راټولول به د لوړ خطر لرونکو موارد په وړاندې د بانکي سکتور پوهه او وخبرتیا زیاته کړي.

۲۹ جدول: د جرایمو پر بنسټ داخلي غوښتنلیکونه

**ملي همکاري**

| شمېره | اداري | د غوښتنو ټولیزه شمېره |
|---|---|---|
| ۱ | د لویې ښارنوالۍ اداره – د مسکراتو او نشه یي توکو جرمونو په وړاندې د مبارزې عدلي او قضایي مرکز او د اداري فساد په وړاندې د مبارزې عدلي او قضایي مرکز سره | ۶۹ |
| ۲ | د کورنیو چارو وزارت (پولیس) | ۵۰ |
| ۳ | د مالیې وزارت | ۱۴ |
| ۴ | د ملي امنیت ریاست | ۳۵ |
| ۵ | د تفتیش عالي اداره | ۳ |
| ۶ | داسې نور | ۹ |
| ټولیزه ترلاسه شوي غوښتنې (غوښتنلیکونه) | | ۱۸۰ |
| ټولیزه وړاندې شوي ځوابونه (د ځوابونو سلنه ۹۲ ده) | | ۱۶۶ |
| د حقیقي او حکمي اشخاصو شمېر | | ۶۶۶ |

(۳۶) ګراف د جرمونو پر بنسټ داخلي غوښتنلیکونه ښکاره کوي




## داخلي غوښتنلیکونه

د پیسو وینځلو او د جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي قانون له ۲۸ مادې سره سم د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د مالیاتو، د وارداتو او صادراتو د جزئیاتو، د سوداګریزه جوازونو د تائیدۍ، د تذکرو د تائیدۍ او د داسې نورو په اړه په ټولیزه توګه ۲۸ غوښتنلیکونه د مالیې وزارت، د کورنیو چارو وزارت، کار او ټولنیزو چارو وزارت او د ملي امنیت ریاست سره صادر او وارد کړي دي.

## د اداري فساد سره د مبارزې د عدلي او قضایي مرکز لخوا د پیسو وینځلو محکومیت

د ۲۰۱۶ کال په جولای میاشت کې د افغانستان د اسلامي جمهوري ولسمشر ښاغلي اشرف غني د یو فرمان په لاسلیک کولو سره د اداري فساد سره د مبارزې عدلي او قضایي مرکز جوړ کړ څو د اداري فساد لویو پېښو او قضیو ته ورسیږي.

د اداري فساد سره د مبارزې عدلي او قضایي مرکز په ۱۳۹۶ مالي کال کې د پیسو وینځلو دوه پېښې محکوم کړې چې دا پېښې په لاندې ډول کتل شوي دي:

۳۰ جدول: په ۱۳۹۶ مالي کال کې د پیسو د وینځلو دوه قضیې ښکاره کوي

| شمېره | تمرینات |
|---|---|
| ۱ | په ۰۳-۱۲-۲۰۱۶ نیټه په بغلان ولایت کې یو صراف د افغان ملي بانک د ۲۴،۴۱۵،۸۱۱ افغانۍ د اختلاس او د ۶،۷۴۰،۰۰۰ افغانۍ د وینځلو په تور نیول شوی دی. د اداري فساد سره د مبارزې د عدلي او قضایي مرکز لومړنۍ محکمې د جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو او د پیسو وینځلو د مخنیوي قانون د ۴، ۵ او ۵۲ مادې پر بنسټ دا شخص د پیسو وینځلو په تور په دوه (۲) کلو تنفیذي حبس، ۵۰،۰۰۰ افغانۍ نغدي جریمې او د وینځل شویو پیسو معادل نغدي پیسو ورکړې باندې محکوم کړی دی. د دې ترځنګ، د ۱۵-۰۱-۲۰۱۷ نیټې باندې د اداري فساد سره د مبارزې د عدلي او قضایي مرکز د استیناف محکمې د لویې څارنوالۍ په غوښتنې د لومړنۍ محکمې پرېکړه د جریمې او د وینځل شویو پیسو د معادل ورکړې پرته، تایید کړې ده. |
| ۲ | د X مورد عمومي محکمه د ۱۵-۰۲-۲۰۱۷ نیټې باندې د اداري فساد سره د مبارزې په عدلي او قضایي مرکز کې جوړه شوه. د جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو او د پیسو وینځلو څخه د مخنیوي قانون د حکمونو پر بنسټ، تورن شخص د پیسو وینځلو په تور د اداري فساد سره د مبارزې د عدلي او قضایي مرکز د لومړنۍ محکمې لخوا په درې کلونو حبس او ۱۰۰،۰۰۰ افغانۍ جریمې باندې محکوم شو. په تورن باندې لګول شوي تورونو کې د ۲۶۰ زرو امریکایي ډالرو، ۲۹۹ زرو پاکستاني روپیو، ۳.۳ میلیون افغانیو او ۳۱۷.۳ ګرام طلا وینځل او تطهیرول شامل دي. دا شخص د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په ۱۸ نیټه باندې له ارزګان ولایت څخه کابل ته د الوتنې په وخت د حامد کرزي په نړیوال هوایي ډګر کې نیول شوی دی. |

سرچینه: د اداري فساد سره د مبارزې عدلي او قضایي مرکز

د اداري فساد سره د مبارزې د عدلي او قضایي مرکز د ۲۰۱۷ کال د نوامبر میاشتې د شپږمې نیټې راپور پر بنسټ، تر اوسه پورې د اداری فساد ۲۳ لوېې قضیې لکه د پیسو وینځلو، د بډو غوښتلو، اختلاس، غصب، د دندې صلاحیتونو څخه ناسمه استفاده، درغلي او داسې نورې پیښې کتل شوي دي. په دغو پیښو کې ۹۱ تنه تورن حقیقي اشخاص، ۸۱۶،۶۴۲،۷۴۳ افغانۍ او ۶،۷۸۷،۹۵۴.۹ امریکایي ډالره نغدي جریمې شاملې دي.

د یادولو وړ ده چې د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د پلټنې پرمهال د کارپوهه پولیسو او یا د اداري فساد سره د مبارزې د عدلي او قضایي مرکز پولیسو سره د یادو پیښو مالي معلومات شریک کړي دي.

**د ترهګرۍ د تمویل محکومیت**

د لوېې څارنوالۍ اداري د ۲۰۱۷ کال د نوامبر د ۲۱ نیټې د وړاندې شوي راپور له مخې، د لوېې څارنوالۍ د داخلي او بهرني امنیتي جرمونو په وړاندې د مبارزې عمومي ریاست د ترهګرۍ د تمویل په تړاو ۷ پیښې اړوندې محکمې ته راجع کړې دي.

د اوو کسانو له ډلې پنځه تنه یې د ترهګرۍ د تمویل څخه د مخنیوي قانون پر بنسټ په ۲۰۱۷ کال کې محکوم شوي دي. چې په (۳۱) جدول کې وړاندې کیږي.

| شمېره | نوم | پته | لومړنۍ محکمه | د استیناف محکمه | د تمیز محکمه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د A مورد | قندهار | ځنډول شوی | ځنډول شوی | ځنډول شوی |
| ۲ | د B مورد | قندهار | ۱۰ میاشتې حبس | د لومړنۍ محکمې پرېکړه تائیده شوه | د استیناف محکمې پرېکړه تائیده شوه |
| ۳ | د C مورد | قندهار | ۱۸ میاشتې حبس | ۶ کاله حبس او ۴۰۰،۰۰۰ افغانۍ جریمه | د استیناف محکمې پرېکړه تائیده شوه |
| ۴ | د D مورد | ننګرهار | ۵ کاله او ۱ میاشت حبس | ۸ کاله حبس او ۵۰۰،۰۰۰ افغانۍ نغدي جریمه | قضیه بیاځلي استیناف محکمې ته رده شوه |
| ۵ | د E مورد | کنړ | ۱ کال او ۶ میاشتې د غړیتوب او ۵ کاله او ۶ میاشتې د ترهګرۍ د تمویل لپاره حبس او ۴۰۰،۰۰۰ افغانۍ جریمه | د لومړنۍ محکمې پرېکړه تائیده شوه | د استیناف محکمې پرېکړه تائیده شوه |
| ۶ | د F مورد | لوګر | ۵ کاله او ۶ میاشتې حبس او ۴۰۰،۰۰۰ افغانۍ نغدي جریمه | د لومړنۍ محکمې پرېکړه تائیده شوه | ځنډول شوی |
| ۷ | د G مورد | کابل | ځنډول شوی | ځنډول شوی | ځنډول شوی |
| ټولیزه جریمه شوي پیسې | | | ۸۰۰،۰۰۰ افغانۍ | ۱،۷۰۰،۰۰۰ افغانۍ | ۸۰۰،۰۰۰ افغانۍ تروسه پورې |

سرچینه: د لوېې څارنوالۍ د داخلي او بهرني امنیتي جرمونو په وړاندې د مبارزې عمومي ریاست

**د مسکراتو او نشه يي توکو د جرمونو په وړاندې د مبارزې عدلي او قضايي مرکز**

د پیسو وينځلو او د جرمونو څخه د ترلاسه شويو عوايدو د مخنيوي قانون د ۲۸ مادې پر بنسټ، د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د مسکراتو او نشه يي توکو سره د مبارزې عدلي او قضايي مرکز سره د ۸۵ ټکو په ګډون د ۶۵ قضيو په اړه مالي معلومات تبادله کړي دي.

د بېرنيو قضيو په هکله د جرمونو څخه د ترلاسه شويو عوايدو او د پيسو وينځلو قانون د ۳۷ مادې د حکم سره سم د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز يو فرمان صادر کړی چې د قاچاق کوونکو پانګه او لېږدونې د لسو ورځو يا له هغې لږې مودې لپاره منجمد شي. په ۱۳۹۶ مالي کال کې دې مرکز په ټوليزه توګه ۲،۱۶۸،۰۸۳ افغانۍ او ۶۰۴،۰۲۹ امريکايي ډالر چې د ۳۲ بانکي حسابونو په درلودلو سره د نشه يي توکو پېر او پلور پورې اړه لري، منجمد کړي دي.

د دې ترڅنګ، د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د مسکراتو او نشه يي توکو سره د مبارزې عدلي او قضايي مرکز سره د پانګې د لېږدونو په برخه کې هره اړخيزه همکاري کړې ده.

په (۳۲) جدول کې ښودل شوي شمېرې، د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ مياشتې څخه تر نوامبر مياشتې پورې په هېواد کې د مسکراتو او نشه يي توکو سره د مبارزې عدلي او قضايي مرکز لخوا ضبط شوي موارد توضيح کوي، چې قضيې يې د مسکراتو او نشه يي توکو سره د مبارزې د عدلي او قضايي مرکز پوليسو ته لېږل شوي دي.

| گزارش مرکز عدلی و قضایی مبارزه علیه جرایم مسکرات و مواد مخدر | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| میاشت | د نشه يي توکو سره د مبارزې د عدلي او قضايي مرکز ته قضيې | د شکمنو اشخاصو شمېر | هيروئين | مورفين | افيون | چرس | کيمياوی پريکاسر | مایع کيمياوی پريکاسر | د سترې محکمې لخوا محکومې شوي قضيې |
| جنوری | ۴۲ | ۴۴ | ۲۰۱.۹۷ | ۳۵۱۰.۸ | ۶،۲۶۲.۳ | ۱۹۷،۳۵۲ | ۱،۰۹۴.۶۸۹ | ۱۸۰ | ۲۱ |
| فبروری | ۳۶ | ۴۸ | ۳۰۴.۶۳۶ | ۳۷.۱۶ | ۶،۰۰۷.۱ | ۲۴۲۰ | ۳۰۷۱.۶ | ۰ | ۱۹ |
| مارچ | ۵۵ | ۵۶ | ۱۲۷.۱۹ | ۸،۴۹۰ | ۸،۷۲۴.۴۲۶ | ۱،۴۳۷.۲۸ | ۲۲۱۰ | ۵۴۰ | ۲۰ |
| اپریل | ۴۰ | ۴۷ | ۲۰۴.۱۶۹ | ۳۰.۸۶ | ۲۲۸.۷ | ۵،۴۸۲.۷۴۵ | ۱.۳۶ | ۰ | ۳۶ |
| می | ۳۵ | ۴۱ | ۳۱۵.۳۴۵ | ۰ | ۲۰۳.۷ | ۳،۵۹۵.۱۲۸ | ۱،۰۱۰.۷ | ۳۰۲.۵ | ۱۷ |
| جون | ۵۱ | ۶۸ | ۲۴۴.۱۳۵ | ۲۵۰۰ | ۱،۳۳۴ | ۳۱۷.۵۲۵ | ۶،۳۴۰.۹ | ۰ | ۱۴ |
| جولای | ۳۵ | ۳۷ | ۳۸.۲۵۶ | ۲،۶۳۴ | ۲،۴۱۹ | ۱،۰۴۳ | ۱۵،۷۹۱ | ۰ | ۱۰ |
| آگست | ۶۰ | ۶۹ | ۲۸۳.۰۹۲ | ۷،۱۶۴.۳ | ۳،۱۶۰.۶ | ۱،۸۸۲.۵ | ۶،۵۳۷.۲۳۳ | ۱۸۰ | ۲۱ |
| سپتمبر | ۳۰ | ۴۳ | ۲۸.۷۳ | ۱۶ | ۱۷۱.۵ | ۱۷۶۱ | ۰ | ۰ | ۸ |
| اکتوبر | ۴۲ | ۵۴ | ۶۱.۱۸۲ | ۵۴.۴۱ | ۱،۰۰۹.۹ | ۲،۳۴۴.۱۲ | ۱۳۱۶ | ۱۶،۲۹۵ | ۱۵ |
| نومبر | ۳۶ | ۵۱ | ۶۱.۳۷۷ | ۳۹ | ۱،۷۸۲.۲ | ۱۵۵۲ | ۰ | ۳۰۴.۶۸ | ۲۴ |
| ټوليزه | ۴۶۲ | ۵۵۸ | ۱،۸۷۰.۰۸۲ | ۲۴،۴۷۶.۵۳ | ۲۹،۵۲۱.۲۲۶ | ۲۱۷،۶۳۵.۲۹۸ | ۳۷،۳۷۳.۴۸۲ | ۱۷،۸۰۲.۱۸ | ۲۰۵ |
| | قضيې | مشکوک اشخاص | کيلوګرام | کيلوګرام | کيلوګرام | کيلوګرام | کيلوګرام | ليتر | قضيې |

سرچينه: د مسکراتو او نشه يي توکو سره د مبارزې عدلي او قضايي مرکز

د مسکراتو او نشه يي توکو سره د مبارزې د عدلي او قضايي مرکز لخوا د برابر شوي پورتني جدول د معلوماتو له مخې، په ټوليزه توګه د ۵۵۸ شکمنو انفرادي اشخاصو په اړه د ټول هېواد څخه د نشه يي توکو پورې تړلو جرمونو ۴۶۲ پېښې ثبت شوي او لومړني پلټنې د نشه يي توکو سره د مبارزې قانون په رڼا کې بشپړې شوي او د لا زياتې څېړنې لپاره د مسکراتو او نشه يي توکو جرمونو سره د مبارزې د عدلي او قضايي مرکز د نشه يي توکو سره د مبارزې اختصاصي څارنوالۍ ته راجع شوي دي. د يادولو وړ ده چې په دې موده کې سترې محکمې د نشه يي توکو په اړه ۲۰۵ قضيې تصويب کړې دي.

**نړيواله همکاري**

د جرمونو څخه د ترلاسه شويو عوايدو او د پيسو وينځلو څخه د مخنيوي قانون د ۳۱ مادې حکم پر بنسټ، د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز په ۱۳۹۶ مالي کال کې د ۳۸ غوښتنو له ډلې ۳۳ تحليلي راپورونه چې ۱۹۴ موارد رانغاړي، د نړيوالو همکارو استخباراتي ادارو سره تبادله کړي دي.

**د اطلاعاتو د تبادلې هوکړه ليکونه**

د نړيوالو منل شويو طريقو د غوره کولو او د ملي قانون د اصولو د عملي کولو لپاره دې مرکز د جرمونو څخه د ترلاسه شويو عوايدو او د پيسو وينځلو څخه د مخنيوي قانون د ۳۱ مادې د حکم په رڼا کې په ۱۳۹۶ مالي کال (۲۰۱۷) کې د نړيوالو همکارو استخباراتي ادارو سره د اطلاعاتو د تبادله کولو درې تفاهم ليکونه لاسليک کړي چې په لاندې ډول دي:

- د اوکراين د مالي چارو د څارنې ملي خدمات (SFMS)؛
- د کوريا د مالي استخباراتو اداره؛ او
- د چين د پيسو وينځلو سره د مبارزې د څارنې او شننې مرکز (CAMLMAC).

دغو تفاهم ليکونو د استخباراتي ادارو ترمنځ د همکارۍ زمينه برابره کړې څو په اتومات ډول يا د غوښتنې سره سم اطلاعات راټول، تحليل او تبادله کړي. دا هوکړه ليکونه د پيسو وينځلو او د ترهګرۍ د تمويل سره د مبارزې په لور د نړيوالې ټولنې سره د يوځای کېدو په موخه د دخيلو خواوو ترمنځ د اړوندو ملي قوانينو په چوکاټ کې د همکارۍ او دوه اړخيزو ګټو د ساتلو لوړې روحيې سره لاسليک شوي دي.

د ويلو وړ ده چې د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د استراليا د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز (AUSTRAC)، د کاناډا د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز (FinTRAC) او د قزاقستان د ماليې وزارت د مالي چارو د څارنې کميټې سره د اطلاعاتو د تبادله کولو تفاهم ليکونو د لاسليک کولو لپاره ټول تدابير نيولي او د پلان سره سم په ۲۰۱۸ کال کې يې لاسليک کوي.

تروسه پورې د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د پيسو وينځلو، اصلي جرمونو او د ترهګرۍ د تمويل په تړاو د اطلاعاتو د تبادله کولو په موخه د ورته بهرنيو استخباراتي ادارو سره ۱۶ تفاهم ليکونه لاسليک کړي دي.

**د ظرفيت لوړولو ورکشاپونه او په نړيوالو ورکشاپونو کې ګډون**

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز کارکوونکو په ۱۳۹۶ (۲۰۱۷) کال کې د هېواد دننه او بهر د پيسو وينځلو او نورو مالي مواردو څخه د مخنيوي په اړه نړيوالو ورکشاپونو، کنفرانسونو او د ظرفيت لوړولو پروګرامونو کې چې شمېر يې ۲۸ پروګرامونو ته رسېږي، ګډون کړی دی.

**د قوانينو د رعايتولو د همغږۍ کميټه**

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز په ۱۳۹۶ (۲۰۱۷) کال کې د قوانينو د رعايت د بيلابيلو موضوعاتو په اړه د خبرو اترو په موخه هر درې مياشتې يوځل له اړوندو ادارو سره د قوانينو د رعايتولو د همغږۍ کميټه جوړه کړې ده.

لومړۍ غونډه د ۲۰۱۷ کال د مارچ میاشتې په ۳۱ نیټه بانـدې د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې په مرکز کې جـوړه شوې چې د ملګرو ملتونو د امـنـیـت شـورا د ۱،۲۶۷ او ۱،۹۸۸ بندیزونو لستونو د عملي کولو، د مشتري د ښه پېژندلو، د شکمنو معاملو د راپورونو لومړنی کتنې، د مشتري د پېژندنې فورمونو او د افغانستان په اړه د مالي اقداماتو د نړیـوالـې ډلـې (FATF) د اعلامیې د نوي او اپډیټ کولو په اړه بحث وشو. دوېمه غونډه د ۲۰۱۷ کال د اګست په شپږمه (۶) نیټه باندې جوړه شوه چې پـه مشخص ډول د مالي اقداماتو د نړیوالې ډلې د قوانینو د رعایتولـو د کنټرول لست څخه د افغانستان نوم د وتلو لپاره جوړ شـوی ؤ او په ترڅ کې یې د راتلونکي پلان، د مالي اقداماتو د نـړیـوالـې ډلې د سپارښتنو او د دې مرکز د لوړ خطر لرونکو حـقـیـقـي او حکمي اشخاصو د لست د عملي کولو په اړه خبرې اترې شـوي دي. درېمه غونډه د ۲۰۱۷ کال د نوامبر په شپږمه نیټه د افغانستان د بانکونو ټولنې په محوطه کې جوړه شوه. په دې ناسته کـې پـه عمده توګه د معامله لرونکو بانکونو، د سیاسي متبارزو اشخـاصـو د پېژندلو لپاره منظمه جوړښت، د مشتري پېژندنـې فـورمـونـو د نوي کولو په لاره کې عملي ستونزو، د صـرافـیـو او د پـولـي خدمتونو د وړاندې کوونکو د جوازونو تائیدولو او پـه انـلایـن توګه د شکمنو معاملو د راپورونو د ثبتولـو پـه اړه د لازیـاتـو اسانتیاوو د برابرولو په اړه خبرې اترې شوي دي.

د قوانینو د رعایتولو د همغږۍ کمیټې څلورمه غونډه د شکـمـنـو معاملو د راپور د لا ښه ثبتولو د څرنګوالي په اړه د قـوانـیـنـو د رعایتولو برخې کارکوونکو ته د روزنیز پروګرام په بـڼـه جـوړه شوې ده.

**د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ تمویل د ملي خطـرونـو د ارزولـو پروسه**

د منظور شوي ستراتیژیک پـلان (۲۰۲۰–۲۰۱۷) سـره سـم، د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنـې مـرکـز د مـالـي استخباراتو د ادارې په توګه د پیسو وینځلو او د تـرهـګـرۍ د تمویل د ملي خطرونو د ارزونې پروسه همغږه کوي. دا پروسه د پنځو کاري ډلو (ګواښونه، زیانمننه، بانکي سکتور، تشـبـثـات او مشخص غیر مالي حرفې، مالي خدمتونو ته د عامه لاسـرسـی او پراختیا او نور مالي ادارې) څخه جوړه شوې چې دا پروسه د ۱۷ دولتي او خصوصي سکتور ادارو څخه د ۴۵ تنو استازو په ګډون سره اجرا کیږي.

د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل د مـلـي خـطـرونـو د ارزونې لومړنی درې ورځنی روزنیز پروګرام د دسمبر میاشتې د ۱۷ تر ۱۹ نیټې پورې په کابل کې د نړیوال بانک په محوطه کې جوړه شوه.

**ګډې کاري کمیټې**

**د مالي استخباراتو ادارې د قضیې پر بنسټ د ګډې کاري کمیټې ټاکل**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت ولسمشر د لارښوونې سره سم، ګډه کاري کمیټه رامنځ ته شوه چې د لوېې څارنـوالـی ادارې، مالیې وزارت، ملي امنیت ریاست او د افغانستان د مالي معـامـلـو او راپورونو د څېړنې مرکز څخه جوړه شوې او مـوخـه یـې د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنـې مـرکـز لـخـوا د څپاره شویو درېو (۳) قضیو کتل او څېړل دی چې په دې قضیو کې ۱۱ سهامي شرکتونه، لکه د پولی خدمتونو سـرغـړوونـکـي وړاندې کوونکي او سرغړوونکي صرافان (دا جرمونه د پـیـسـو وینځل، مالیاتو څخه تېښته، جعل، د مالي منابعو د غیر قـانـونـي سرچینې پټول او د بانک کـارکـوونـکـو تـه د بـډو وړانـدیـز رانغاړي) شامل دي.

دا څپاره شوي قضیې د جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایـدو او د پیسو وینځلو قانون د ۳۶ مادې د حکمونو په رڼـا کـې د دې

مرکز لخوا د ملي امنیت ریاست سره شریک شوي چې د دغو شرکتونو لخوا زیات شمېر پیسې د سوداګریزو توکو د واردولو په موخه له افغانستان څخه بهر لېږدول شوي دي. ګډې کاري کمیټې له دریو قضیو څخه په لومړي قضیې باندې چې درې شرکتونه رانغاړي، کتنه پیل کړې چې د یادو شرکتونو په اړه ترلاسه شوي لاسته راوړنې په لاندې ډول دي:

- یادو شرکتونو زیاته اندازه پیسې له هېواد څخه بهر لېږدولي دي، خو د دولت خزانې ته یې ډېر لږ مالیات ورکړي دي؛
- له هېواد څخه بهر د پیسو د لېږدولو لپاره د ناسمو او ګمراه کوونکو اضافي اسنادو وړاندې کول؛
- د بانک کارکوونکو ته د پیسو وړاندیز کول.

لومړۍ قضیه د کمیټې لخوا بشپړه شوې او د افغانستان د اساسي قانون د ۱۳۴ مادې او د افغانستان د جزا قانون د ۱۴۷ مادې سره سم د پیسو وینځلو، مالیاتو څخه د تیښتې، د بډو وړاندیز کولو او د جعل قضیې لویې څارنوالۍ ته راجع شوي دي.

د یادولو وړ ده چې اوسمهال ګډه کاري کمیټه د مالیاتي ارګانونو څخه د پاتې قضیو په اړه معلومات راټولوي څو لېږدول شوي پیسې د ورکړل شوي مالیاتي پاڼو سره پرتله کړي

**د کانونو او پطرولیم وزارت د تړونونو کتنه**


د افغانستان د اسلامي جمهوریت ولسمشر د لارښوونې سره سم، د اقتصادي، مالي، تخنیکي، قراردادي ژمنو، د مرکزي او ولایتي ادارو، تصدیو، د کانونو او پطرولیم وزارت اړوند پروژو د ګټورتیا او د فعالیتونو د اقتصادي والي په پام کې نیولو سره د قانونمندۍ، د تړونونو په کړنو کې روڼتیا، د تړونونو د عوایدو راټولولو، د جریمو او پورورړتیا تعیینولو او تثبیتولو څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه د کتنې او څېړنې پلاوی ګمارل شوی دی.

د کتنې بشپړه پروسه د لسو مرکزي او ولایتي ادارو په کتنې سره په شپږو میاشتو کې پای ته ورسېده. د کتنې او څېړنې پایلې به د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د مخنیوي کوونکي پیښو لپاره ښه زمینه برابره کړي.

# بودجه او مالي صورت حساب

د افغانستان بانک د بودجې د عوایدو د شقوقو او لګښتونو د ترتیبولو مسئولیت د دې بانک د مالي او محاسبې د لوی آمریت له دندو څخه ګڼل کیږي. د افغانستان بانک عادي او پراختیایي بودجه له بیلابیلو طی مراحلو وروسته په پایله کې د عالي شورا لخوا چې د افغانستان بانک د تصمیم نیولو تر ټولو غوره مرجع ده، تصویبیږي.

(۳۷) ګـراف د ۱۳۹۶ مـالي کال په اوږدو کـې د افغـانسـتان بانک د تصویب شوي او حقیقي بودجې سلنه ښکاره کوي.




**عایداتي شقوق:**

عایداتي شقوق د کمیشنونو عواید، د اسعارو د پانګونې د ټکټانې عواید، د کابل بانک د پور د ټکټانې عواید، د اسعارو لـه پـلـور څخه ترلاسه شوي عواید، د مرستو عواید او نور عواید رانـغـاړي چې لاندې یې په اړه تفصیلات وړاندې کیږي:

**د کمیشنونو عواید:** د عوایدو دا برخه د مالي کنټرول کمیشنونه، د جاري حساب پرانیستل، چک بوک، سویفټ، د پانګې لیږد، د ډالرو او نورو اسعارو د پلور په وړاندې جریمه، د ډالرو د مبادلې په وړاندې جریمه، متفرقه کمیشنونه او داسې نـور رانـغـاړي. د ۱۳۹۶ مالي کال حقیقي شمېرې ښکاره کوي چې د پلان شـوي بودجې د وړاند وینې له مخې د کمیشنونو په عـوایـدو کـې ۴۳ سلنه کموالی راغلی دی. دا کموالی د تیـر کـال پـه پرتلـه د امریکایي څواکونو د معاملو او د سوداګریزو بانکونـو د صـادره معاملو کچو پورې اړه لري او یو بل لامل یـې کـولای شـو پـه ۱۳۹۶ مالي کال کې سوداګریزو بانکونو په ټولو نمایندګیو کې د ډالري حسابونو مسدودول په ګوته کړو.

**د اسعارو د پانګونې د ټکـټانـې عوایـد:** دا بـرخـه د رمپ (RAMP) د پروژې تحقق مونډونکي ډالري عواید، په بهرنیـو او معامله لرونکو بانکونو کې د امانتونو د ټکټانې عواید او د بیـه لرونکو پاڼو په پېرلو کې تخفیف رانغاړي چې د ۱۳۹۶ مالي کال حقیقي شمېره د اسعارو د پانګه اچونې په شقوقو کـې ۸ سـلـنـه زیاتوالی ښکاره کوي او د پلان شوي بودجې په پرتله د پـام وړ بدلون نه ښکاره کوي.

**نور عواید:** د نورو عوایدو برخه د نوي اسـعـاري حسـابـونـو د پرانیستلو فیس، په موافقت لیکونو کې د ځنډ له امله جریـمـه، د مرستو له لارې عواید، د مالي ادارو په وړاندې جریمه، د کرایې عواید، د بانکونو د څارنې فیس، د بانکونو د مـالـي وضـعـیـت کنټرول، د جایدادونو عواید، د فزیکي پیسو د لـېږد فـیـس، د الکترونیکي پیسو د خدمتونو د اداري کلنې عواید او نور عـوایـد رانغاړي. د دې برخې د ۱۳۹۶ مالي کال حقیقي شمېره ۵۳ سلـنـه زیاتوالی ښکاره کوي چې اصلي لامل یې د ۱۳۹۶ مالي کال پـه اوږدو کې د بانکونو د FDX د لایسـنـسـونـو تـمـدیـدول او د جوازونو فسخ په ګوته شوي دي.


**د کابل بانک د پور د ټکټانې عواید:** د دې برخې د ۱۳۹۶ مـالـي کال حقیقي شمېره د پلان شوي بودجې پـه پـرتلـه ۱۳ سـلـنـه کموالی ښکاره کوي چې د کموالي اصلي لامل یې له هـوکـړه لیک سره سم د پور بیا ادایني په ګوته شوي دي چې پر ټکټانې

نيغ په نيغه اغيز لري.

**د اسعارو د پلور عوايد:** دا برخه د اسعارو د پلور عوايد رانغاړي چې د ۱۳۹۶ مالي کال حقيقي شمېره يې د پلان شوي بودجې په پرتله ۷۱ سلنه کموالی په ګوته کوي چې د کموالي اصلي لامل يې د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدوکې د اسعارو د مبادلې په بازار کې د نرخ په کچه کې (زياتوالی/کموالی) په ګوته شوی دی.

**د مرستو عوايد:** دا برخه د مرستې له لارې ترلاسه شوي تجهيزات رانغاړي چې د ۱۳۹۶ مالي کال حقيقي شمېره يې د پلان شوي بودجې په پرتله ۹۰ سلنه زياتوالی ښکاره کوي چې اصلي لامل يې د اړوندو ادارو د وړاند وينو په پرتله د مرستو زياتوالی په ګوته شوی دی.

(۳۸)ګراف د تصويب شوي او حقيقي عوايدو شقوق ښکاره کوي




## لګښتي شقوق

د لګښتونو شقوق، د کارکوونکو د معاشونو او امتيازونو شقوق او استهلاکاتو شقوق رانغاړي چې لاندې يې په اړه هراړخيزه معلومات وړاندې کيږي:


عملياتي احتياطي شقوق او د نه تمې وړ احتمالي پيښو شقوق:

**عملياتي شقوق:** په دې برخه کې عملياتي لګښتونه شامل دي چې د ياد شويو شقوقو حقيقي شمېرې په ۱۳۹۶ مالي کال کې ډيرې وختونه د زياتوالي او کموالي په ګوته کوي چې د پلان شوې بودجې په پرتله په ټوليزه توګه ۱۴ سلنه کموالی ښکاره کوي چې د دې کموالي اصلي لامل يې د وړاندې وينې په پرتله په ۱۳۹۶ مالي کال کې د پانګه ايزو پانو لګښتونه او د انټرنټ د بيلونو نه ادا کول په ګوته شوی دی.

**د کارکوونکو د معاشو او امتيازونو شقوق:** دا برخه معاشونه، اضافه کاري، هڅوونکي امتيازونه، مالي مرستې او د کارکونکو تقاعد رانغاړي چې د ۱۳۹۶ مالي کال حقيقي شمېرې يې د پرسونل په شقوقو کې ۴ سلنه کموالی ښکاره کوي چې د پلان شوي بودجې په پرتله د پام وړ بدلون نه ښکاره کوي.

**استهلاک:** د لګښتونو يوه برخه د توکو استهلاک او زړيدل رانغاړي چې د ۱۳۹۶ مالي کال حقيقي شمېرې يې د پلان شوي بودجې په پرتله ۳۲ سلنه کموالی ښکاره کوي. د دې زياتوالي ستر لامل په ۱۳۹۶ مالي کال کې د ځينو اثاثيو او تجهيزاتو نه پيرل ګڼل کيږي چې پر استهلاک هم نيغ په نيغه اغيز لري.

(۳۹) ګراف پـه ۱۳۹۶ مالي کال کې د تصويب شوي او حقيقي لګښتونو شقوق ښکاره کوي.




**د اثاثيې، تجهيزاتو او تعميراتي پراختيايي لګښتونو شقوق:**

**دا برخه مامورينو ته د پور، پراختيايي احتياطي، تعميراتي او د اثاثيې او تجهيزاتو شقوق رانغاړي.**


**مامورينو ته د پور شقوق:** دا برخه هغه بيلابيل پورونه رانغاړي چې د افغانستان بانک يې خپلو کارکوونکو ته ورکوي. د دې برخې د ۱۳۹۶ مالي کال حقيقي شمېرې د تصويب شوي بودجې په پرتله ۴۷ سلنه کموالی ښکاره کوي چې اصلي لامل يې د پور

د ورکړې په لایحې کې تعدیل په ګوته شوی دی.

**تعمیراتي شقوق:** دا برخه د افغانستان بانک د مرکزي دفتر او په ولایتونو کې د نمایندګیو د جوړولو او احاطې شقوق رانغاړي. د دې برخې د ۱۳۹۶ مالي کال حقیقي شمېرې یې د تصویب شوې بودجې په پرتله ۸۹ سلنه کموالی ښکاره کوي چې اصلي لامل یې د ښار جوړونې د وزارت لخوا د تعمیراتي پلانونو نه تطبیق په ګوته شوی دی.

**د اثاثیې او تجهیزاتو شقوق:** په دې برخه کې د فرنیچر او اثاثیې، بریښنایي وسایلو، موټرو، کمپیوټرونو او پرنټرونو، د تکنالوژیکي وسایلو د تجهیزات، د متفرقه برخو د تجهیزاتو او پوستکالو (سافټ ویرونو) شقوق شامل دي. د دې برخې د ۱۳۹۶ مالي کال حقیقي شمېره د پلان شوې بودجې په پرتله ۶۱ سلنه کموالی په ګوته کوي چې د دې کموالي عمده لامل د بانکنوټونو نه چاپیدل ګڼل کیږي.

(۴۰) ګراف د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د تصویب شوې او حقیقي اثاثیې، تجهیزاتو او تعمیراتو لګښتي شقوق ښکاره کوي.



## دافغانستان بانک

### د نورو عوایدو صورت حساب

**د کال پای، ۱۳۹۶کال د لیندۍ ۳۰ نیټه (د ۲۰۱۷ کال د ډیسمبر ۲۰)**

| | یادداښت | ۱۳۹٦ (۲۰۱۷) | ۱۳۹٥ (۲۰۱٦) |
|---|---|---|---|
| | | (...ارقام په افغانۍ) | |
| **د کال ګټه / زیان** | | **۲۱,٦۳۲,۳۰٦** | (۱۶,۰۳۰,۱۶۸) |
| **نور عواید** | | | |
| **چې په راتلونکې دوره کې د ګټې او زیان په صورت حساب کې بیا ډلبندي کیږي.** | | | |
| د سرو زرو د بیا ارزښت ټاکنې له درکه ګټه / زیان | ۸ | **٦,٥۱۲,٥۹٦** | ۲,۲۴۶,۱۴۶ |
| پلور ته د چمتو شتمنیو له درکه غیر حقیقي ګټه / زیان | | **۱٥۲,٦٤٤** | (۲۰۱,۸۳۸) |
| | | **٦,٦٦٥,۲٤۰** | ۲,۰۴۴,۳۰۸ |
| د کال په اوږدو کې نور هر اړخیزه عواید / زیان | | **٦,٦٦٥,۲٤۰** | ۲,۰۴۴,۳۰۸ |
| **د کال هر اړخیزه ګټه / زیان** | | **۲۸,۲۹۷,٥٤٦** | (۱۳,۹۸۵,۸۶۰) |

**له (۱) څخه تر (۳۸) شمیرې پورې پورته ذکر شوي یادداښتونه د مالي راپور بنسټیزې برخې دي.**

**سید یونس سادات**
**د مالي او حسابي چارو لوی آمر**

**خلیل صدیق**
**د افغانستان بانک د تولو رئیس**

**واحد الله نوشیر**
**د افغانستان بانک لومړی مرستیال**

## دافغانستان بانک

### د ګټې او زیان صورت حساب

### د کال پای، د ۱۳۹۶کال د لیندۍ ۳۰ نیټه (د ۲۰۱۷ کال د ډیسمبر ۲۰)

| | یادداښت | ۱۳۹۶ (۲۰۱۷) | ۱۳۹۵ (۲۰۱۶) |
|---|---|---|---|
| | | (ارقام په افغاني ...) | |
| د ټکټاني عواید | ۲۸ | ۳،۷٦۲،٤۰٤ | ۲،۷۳۷،۲۷۶ |
| د ټکټاني لګښتونه | ۲۹ | (۲،٦۲۹،٦۹۳) | (۲،۸۱۱،۶۵۴) |
| **خالص ټکټانه عواید/لګښتونه** | | ۱،۱۳۲،۷۱۱ | (۷۴،۳۷۸) |
| د فیس او کمیشن عواید | | ۳۱۰،۱۵٦ | ۵۸۰،۵۸۸ |
| د فیس او کمیشن لګښت | | (۱۰۲،۹۰٤) | (۲۴۸،۶۰۸) |
| **د فیس او کمیشن خالصه عواید/لګښت** | | ۲۰۷،۲۵۲ | ۳۳۱،۹۸۰ |
| د اسعاري معاملو خالصه ګټه | | ۳۱۱،٦۸٥ | ۱۷،۶۹۳،۲۸۵ |
| "پلورته چمتو مالي شتمنيو" د پلور خالصه ګټه / زیان | | (٤٦۳،۳۱۸) | (۱۱۲،۷۷۶) |
| نور عواید | ۳۰ | ۱،۰۸۹،۲۹۸ | ۱۸۹،۴۳۹ |
| | | ۹۳۷،٦٦٥ | ۱۷،۷۶۹،۹۴۸ |
| عملیاتي عواید | | ۲،۲۷۷،٦۲۸ | ۱۸،۰۲۷،۵۵۰ |
| د کارکوونکو لګښتونه | ۳۱ | (۱،۳٤٦،۲۲۳) | (۱،۲۶۰،۹۲۵) |
| د بانک نوټونو د چاپ لګښت | ۱۳.۳ | (٥۳،۷۲٦) | - |
| نور لګښتونه | ۳۲ | (۳۰۳،۱٦۱) | (۲۸۵،۴۰۱) |
| د ارزښت کموالي یا استهلاکي لګښتونه | ۱۶ او ۱۵ | (۱۰۳،٥۳٥) | (۹۷،۳۷۰) |
| خالصه عملیاتي عواید | | ٤۷۰،۹۸۳ | ۱۶،۳۸۳،۸۵۴ |
| د اسعارو د ادلون او بدلون غیرې حقیقي ګټه / زیان | | ۲۱،۱٦۱،۳۲۳ | (۳۲،۴۱۴،۰۲۲) |
| **د روان کال ګټه / زیان** | | ۲۱،٦۳۲،۳۰٦ | (۱۶،۰۳۰،۱۶۸) |

**له (۱) څخه تر (۳۸) شمیرې پورې پورته ذکر شوي یادښتونه د مالي راپور بنسټیزې برخې دي.**

**سید یونس سادات**
**د مالي او حسابي چارو لوی آمر**

**خلیل صدیق**
**د افغانستان بانک د ټولو رئیس**

**واحد الله نوشیر**
**د افغانستان بانک لومړی مرستیال**

# دافغانستان بانک

## د پانګې د بدلون صورت حساب

د کال پای، ۱۳۹۶کال د لیندۍ ۳۰ نیټه (د ۲۰۱۷ کال د ډسمبر ۲۰)

| | | | بیا ارزښت موندونکي زیرمې | | | | د پانګې نوري برخې | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | یاددښت | پانګه | پلورته چمتو د مالي شتمنیو د پلور له درکه خالصه ګټه / زیان | ځمکه / ملکیت | سره زر | د زیرمو تولیزه ارزښت ټاکنه | د اسعارو د ادلون او بدلون له درکه زیرمې | د تقاعد پیژندل شوی سیستم | د بیا ارزښت ټاکنې له درکه غیري حقیقي خالصه ګټه | تولیزه نوري هر اړخیزه پانګې | عمومي زیرمې | راټوله شوې ګټه | تولیزه ګټه |
| | | ( ارقام په افغاني ....) | | | | | | | | | | | |
| د ۱۳۹۵ د مرغومی د لومړي نیټې بیلانس ( ۲۰۱۶ د ډسمبر ۲۲) | | ۱۹,۲۶۷,۵۰۰ | ۸,۳۳۱ | ۹۴۷,۲۹۲ | ۳۱,۴۷۹,۷۹۱ | ۳۲,۴۳۵,۴۱۴ | ۱۳۷ | (۱۰,۸۶۸) | ۳۴,۹۸۱,۹۷۱ | ۳۴,۹۷۱,۲۴۰ | ۱۹,۲۶۷,۵۰۰ | - | ۱۰۵,۹۴۱,۶۵۴ |
| د کال تولیز عواید | | | | | | | | | | | | | |
| د کال زیان | | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | (۱۶,۰۳۰,۱۶۸) | (۱۶,۰۳۰,۱۶۸) |
| نور هر اړخیز عواید | | | | | | | | | | | | | |
| پلور ته چمتو د مالي شتمنیو له درکه غیرې حقیقي ګټه | | - | (۲۰۱,۸۳۸) | - | - | (۲۰۱,۸۳۸) | - | - | - | - | - | - | (۲۰۱,۸۳۸) |
| د سرو زرو د زیرمو د بیا ارزښت ټاکنې له درکه ګټه / زیان | | - | - | - | ۲,۲۴۶,۱۴۶ | ۲,۲۴۶,۱۴۶ | - | - | - | - | - | - | ۲,۲۴۶,۱۴۶ |
| هر اړخیزه نور تولیز عواید / زیان | | - | (۲۰۱,۸۳۸) | - | ۲,۲۴۶,۱۴۶ | ۲,۰۴۴,۳۰۸ | - | - | - | - | - | - | ۲,۰۴۴,۳۰۸ |
| د کال تولیز عواید / زیان | | - | (۲۰۱,۸۳۸) | - | ۲,۲۴۶,۱۴۶ | ۲,۰۴۴,۳۰۸ | - | - | - | - | - | (۱۶,۰۳۰,۱۶۸) | (۱۳,۹۸۵,۸۶۰) |
| د ( تقاعد پیژندل شوی سیستم) د بیا سنجش له درکه ګټه / زیان | | - | - | - | - | - | - | ۱۰,۸۶۸ | - | ۱۰,۸۶۸ | - | - | ۱۰,۸۶۸ |
| په پانګه کې په مستقیمه توګه ثبت شوي عواید | | | | | | | | | | | | | |
| د بیا ارزښت موندنې له درکه د غیرې حقیقي خالصې ګټې لیږد | ۲۶.۱ | - | - | - | - | - | - | - | (۱۶,۰۳۰,۱۶۸) | (۱۶,۰۳۰,۱۶۸) | - | ۱۶,۰۳۰,۱۶۸ | - |
| د ۱۳۹۵ د لیندۍ د لومړې نیټې بیلانس ( ۲۰۱۶ د ډسمبر ۲۲) | | ۱۹,۲۶۷,۵۰۰ | (۱۹۳,۵۰۷) | ۹۴۷,۲۹۲ | ۳۳,۷۲۵,۹۳۷ | ۳۴,۴۷۹,۷۲۲ | ۱۳۷ | - | ۱۸,۹۵۱,۸۰۳ | ۱۸,۹۵۱,۹۴۰ | ۱۹,۲۶۷,۵۰۰ | - | ۹۱,۹۶۶,۶۶۲ |
| د ۱۳۹۵ د مرغومی د لومړې نیټې بیلانس ( ۲۰۱۶ د ډسمبر ۲۲) | | ۱۹,۲۶۷,۵۰۰ | (۱۹۳,۵۰۷) | ۹۴۷,۲۹۲ | ۳۳,۷۲۵,۹۳۷ | ۳٤,٤۷۹,۷۲۲ | ۱۳۷ | - | ۱۸,۹۵۱,۸۰۳ | ۱۸,۹۵۱,۹٤۰ | ۱۹,۲٦۷,۵۰۰ | - | ۹۱,۹٦٦,٦٦۲ |
| د کال تولیز عواید | | | | | | | | | | | | | |
| د کال ګټه | | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | ۲۱,٦۳۲,۳۰٦ | ۲۱,٦۳۲,۳۰٦ |
| د کال هر اړخیزه عواید: | | | | | | | | | | | | | |
| پلور ته چمتو د مالي شتمنیو له درکه غیرې حقیقي ګټه | | - | ۱۵۲,٦٤٤ | - | - | ۱۵۲,٦٤٤ | - | - | - | - | - | - | ۱۵۲,٦٤٤ |
| د سرو زرو د زیرمو د بیا ارزښت ټاکنې له درکه ګټه / زیان | | - | - | - | ٦,۵۱۲,۵۹٦ | ٦,۵۱۲,۵۹٦ | - | - | - | - | - | - | ٦,۵۱۲,۵۹٦ |
| هر اړخیزه نور تولیز عواید / زیان | | - | ۱۵۲,٦٤٤ | - | ٦,۵۱۲,۵۹٦ | ٦,٦٦۵,۲٤۰ | - | - | - | - | - | - | ٦,٦٦۵,۲٤۰ |
| د کال تولیز عواید / زیان | | - | ۱۵۲,٦٤٤ | - | ٦,۵۱۲,۵۹٦ | ٦,٦٦۵,۲٤۰ | - | - | - | - | - | ۲۱,٦۳۲,۳۰٦ | ۲۸,۲۹۷,۵٤٦ |
| د ځمکې د بیا ارزښت ټاکنې څخه د لاسته راغلې غیر حقیقي ګټې لیږد راټولې شوې ګټې ته | | - | - | (۱۰,۸۱۵) | - | (۱۰,۸۱۵) | - | - | - | - | - | ۱۰,۸۱۵ | - |
| په پانګه کې په مستقیمه توګه ثبت شوې معاملې: | | | | | | | | | | | | | |
| پانګې ته لیږدونه | ۲٦.۱ | ٤,۵٤۱,۷۵۰ | - | - | - | - | - | - | - | - | - | (٤,۵٤۱,۷۵۰) | - |
| عمومي زیرمو ته لیږدونه | ۲٦.۱ | - | - | - | - | - | - | - | - | - | ٤,۵٤۱,۷۵۰ | (٤,۵٤۱,۷۵۰) | - |
| مالیې وزارت ته لیږدونه | ۲٦.۱ | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |
| د بیا ارزښت ټاکنې له درکه د غیرې حقیقي خالصې ګټې لیږدونه | ۲٦.۱ | - | - | - | - | - | - | - | ۱۲,۵۵۹,٦۲۱ | ۱۲,۵۵۹,٦۲۱ | - | (۱۲,۵۵۹,٦۲۱) | - |
| د ۱۳۹٦ د لیندۍ د ۳۰ نیټې بیلانس ( ۲۰۱۷ د ډسمبر ۲۱) | | ۲۳,۸۰۹,۲۵۰ | (٤۰,۸٦۳) | ۹۳٦,٤۷۷ | ٤۰,۲۳۸,۵۳۳ | ٤۱,۱۳٤,۱٤۷ | ۱۳۷ | - | ۳۱,۵۱۱,٤۲٤ | ۳۱,۵۱۱,۵٦۱ | ۲۳,۸۰۹,۲۵۰ | - | ۱۲۰,۲٦٤,۲۰۸ |

له (۱) څخه تر (۳۸) شمیرې پورې پورته ذکر شوي یادښتونه د مالي راپور بنسټیزې برخې دي.

سید یونس سادات
د مالي او حسابي چارو لوی آمر

خلیل صدیق
د افغانستان بانک د تولو رئیس

واحد الله نوشیر
د افغانستان بانک لومړي مرستیال

# دافغانستان بانک

## د نغدي جريانونو صورت حساب

**د کال پای، د ۱۳۹۶کال د لیندۍ ۳۰ نیټه (د ۲۰۱۷ کال د ډیسمبر ۲۰)**

| | یاددښت | ۱۳۹٦ (۲۰۱۷) | ۱۳۹۵ (۲۰۱٦) |
|---|---|---|---|
| | | ( ارقام په افغاني...) | |
| د عملیاتي کړنو نغدي جریانونه | | | |
| د کال ګټه / زیان | | ۲۱,٦۳۲,۳۰٦ | (۱۶,۰۳۰,۱۶۸) |
| تعدیلات: | | | |
| د ارزښت کمیدنه او استهلاک | ۱۶ او ۱۵ | ۱۰۳,٥۳٥ | ۹۷,۳۷۰ |
| د ټکټاني عواید | ۲۸ | (۳,۷٦۲,٤۰٤) | (۲,۷۳۷,۲۷۶) |
| د ټکټاني لګښتونه | ۲۹ | ۲,٦۲۹,٦۹۳ | ۲,۸۱۱,۶۵۴ |
| د مرستو عواید | ۲۴ | (۳٦,۱۱٦) | (۳۲,۵۴۴) |
| د کارکوونکو د تقاعد د پیاوړتیا لپاره مرسته او همغږي | ۲۳ | – | ۲۳,۶۴۸ |
| د اصلاح شوي پلان له درکه ګټه / زیان | | – | ۱۰,۸۶۸ |
| د سرو زرو د بدلون له درکه غیرې حقیقي ګټه / زیان | | ۹,۰۰۰ | – |
| د سرو زرو د بیا ارزښت ټاکنې له درکه ګټه / زیان | | (۲,۳٥٥,۰۷۹) | ۹۵۸,۳۰۹ |
| | | ۱۸,۲۲۰,۹۳٥ | (۱۴,۸۹۸,۱۳۹) |
| د کاري پانګې تعدیلات: | | | |
| د بانکونو او مالي مؤسسو د حصولونو کموالی / زیاتوالی | ۱۰ | (۲۰,٦۷۷,۲۰۱) | (۸۱,۰۲۸,۱۵۶) |
| د پور ورکونې د وروستۍ مرجع په توګه د مرستې زیاتوالی / کموالی | ۱۲ | ۷,۳٤۳,۰۳۹ | ۶,۳۳۸,۹۴۷ |
| د طلباتو او نورو حصولونو کموالی / زیاتوالی | ۱۳ | (۲۳۳,۸۷۳) | ۸۲۹,۹۵۱ |
| د نورو شتمنیو کموالی / زیاتوالی | ۱۷ | ٥۱۸,۳۷٥ | (۵۳۲,۴۰۷) |
| پر ګردښت کې د پیسو کموالی | ۱۸ | ٥,۰۲۲,٥۰۷ | ۲۱,۴۴۲,۱۴۷ |
| پر بانکونو او مالي مؤسسو باندې په طلباتو کې کموالی / زیاتوالی | ۲۰ | ۲٥,۱۲۸,۸٥٥ | ۱۹,۵۱۶,۱۴۶ |
| د پیرودونکو په طلباتو کې کموالی / زیاتوالی | ۲۱ | ۱۱,۷۱٦,۸۱۰ | (۳,۷۳۳,۱۳۵) |
| د پیسو د نړیوال صندوق په اړونده پوراینو کې کموالی / زیاتوالی | ۲۲ | ۹۷۹,٤٥۱ | ۴۰۳,۱۶۷ |
| پر نوروپوراینو (پرویژنونو) کې کموالی / زیاتوالی | ۲۵ | ۱,۸٤٥,۷۸۰ | (۱۰,۷۵۲,۷۵۶) |
| | | ۳۱,٦٤۳,۷٤۳ | (۴۷,۵۱۶,۰۹۶) |
| | | ٤۹,۸٦٤,٦۷۸ | (۶۲,۴۱۴,۲۳۵) |
| تر لاسه شوې ټکټانه | | ۳,٦٦۰,۷٤۸ | ۲,۴۳۸,۰۵۲ |
| ورکړل شوې ټکټانه | | (۲,٦۲۹,٦۹۳) | (۲,۸۱۱,۶۵۴) |
| تر لاسه شوې مرستې | | ۹,۸٤٦ | ۱۶۴,۸۸۶ |
| د متقاعدینو ونډه او حقوق او کارکونکو ته د هغه ورکړه | ۲۳ | (۱,۳٦۱,۹۲۸) | (۱۲۴,۴۶۶) |
| **په عملیاتي کړنو کې (کارول شوي) خالصه نغدي جریانونه** | | ٤۹,٥٤۳,٦٥۱ | (۶۲,۷۴۷,۴۱۷) |
| **د پانګونې د کړنو له درکه نغدي جریانونه** | | | |
| د کال په اوږدو کې پانګونې | ۱۱ | (٤۲,۳۱۷,۹۲۸) | (۴,۸۷۴,۷۸۴) |
| د ثابتو شتمنیو پیریدل | ۱۵ | (۹٥,۱۹٤) | (۲۷۳,۷۸۳) |
| د نه لیږدیدونکو شتمنیو پیریدل | ۱۶ | (۸,۹۹٥) | (۱۲۶,۳۹۷) |
| د ثابته شتمنیو د پلور له درکه عواید | | ۱۲,۸۰۰ | ۲۷,۶۳۶ |
| **د پانګونې په کړنو کې خالصه نغدي جریانونه** | | (٤۲,٤۰۹,۳۱۷) | (۵,۲۴۷,۳۲۸) |

**د مالي کړنو نغدي جریانونه**

| | | | |
|---|---|---|---|
| په پانګه ایزو پانګو د بیا ورکړې له درکه عواید | ۱۹ | (۳،٦۲۲،۰۱۹) | ۱۰،۸۳۸،۵۹۶ |
| **د مالي کړنو له درکه خالصه نغدي جریانونه** | | **(۳،٦۲۲،۰۱۹)** | ۱۰،۸۳۸،۵۹۶ |
| د نغدو پیسو او د هغه معادل کې زیاتوالی / کموالی | | **۳،٥۱۲،۳۱٥** | (۵۷،۱۵۶،۱۴۹) |
| **د کال په پیل کې نغدې پیسې یا د هغه معادل** | | **۱۹۹،٥۸٤،٦۰۰** | ۲۵۶،۷۴۰،۷۴۹ |
| **د کال په پای کې نغدې پیسې یا د هغه معادل** | ۳۳ | **۲۰۳،۰۹٦،۹۱٥** | ۱۹۹،۵۸۴،۶۰۰ |

**له (۱) څخه تر (۳۸) شمیرې پورې پورته ذکر شوي یادښتونه د مالي راپور بنسټیزې برخې دي.**

**سید یونس سادات**
**د مالي او حسابي چارو لوی آمر**

**خلیل صدیق**
**د افغانستان بانک د تولو رئیس**

**واحد الله نوشیر**
**د افغانستان بانک لومړی مرستیال**

## دافغانستان بانک
## د مالی و ضعیت صورت حساب
**د کال پای، ۱۳۹۶کال د لیندۍ ۳۰ نیټه (د ۲۰۱۷ کال د ډیسمبر ۲۰)**

| | یاددښت | ۱۳۹٦ (۲۰۱۷) | ۱۳۹۵ (۲۰۱٦) |
|---|---|---|---|
| | | ( ارقام په افغاني....) | |
| **شتمنی** | | | |
| د سرو زرو زیرمې | ۸ | ٦١,٦٦٨,٥٧١ | ۵۲,۸۰۰,۸۹۶ |
| د اسعارو نغدی زیرمې | ۹ | ٨٤,٦١٥,٤٧٣ | ۱۰۰,۳۴۹,۳۰۴ |
| د بانکونو او مالی مؤسسو ذمت | ۱۰ | ٢٢٥,٩٦٩,٦٠٦ | ۱۸۶,۰۴۶,۲۵۹ |
| پانګونې | ۱۱ | ١٩٢,٠٠٢,٧٠٣ | ۱۴۹,۵۳۲,۱۳۱ |
| د پور ورکوني د وروستی مرجع په توګه طلبات | ۱۲ | ١٤,٥٨٨,٠٩٦ | ۲۲,۰۹۷,۷۸۸ |
| طلبات او نور د حصول وړ شتمنی | ۱۳ | ١,٦٣٣,٠١٢ | ۱,۳۹۹,۱۳۹ |
| په ملکیتونو کې پانګه اچونه | ۱۴ | – | ۹,۰۰۰ |
| ملکیتونه او اثاثې | ۱۵ | ٥,٢٨٦,٠٩٦ | ۵,۲۷۹,۰۲۳ |
| نه لمس کیدونکي شتمنی (بانکی پوستکالي) | ۱۶ | ٨٦,٣٨١ | ۱۰۵,۶۰۰ |
| نوري شتمنی | ۱۷ | ١٣,٣٠٠,٣٧١ | ۱۳,۵۵۰,۴۳۷ |
| **ټولیزي شتمنی** | | ٥٩٩,١٥٠,٣٠٩ | ۵۳۱,۱۶۹,۵۷۷ |
| **پورايني او پانګې (اکویتی)** | | | |
| **پورايني (بدهي)** | | | |
| په ګردښت کې افغانی پیسې | ۱۸ | ٢٢٨,٦٣٣,٩٥٦ | ۲۲۳,۶۱۱,۴۴۹ |
| د پور سندونه | ۱۹ | ٣٨,٩٦٣,٨٦٢ | ۴۲,۵۸۵,۸۸۱ |
| بانکونو او نورو مالی بنسټونو څخه پوراينې | ۲۰ | ١٠٦,٠٨٤,٦٣٥ | ۸۰,۹۵۵,۷۸۰ |
| د پیرودونکو پوراينې | ۲۱ | ١٠٠,٩٥٩,٩٨٨ | ۸۹,۲۴۳,۱۷۸ |
| د پیسو نړیوال صندوق پوراينې | ۲۲ | ١,٤٠٢,٦٦٦ | ۴۲۳,۲۱۵ |
| د تقاعد زیرمې | ۲۳ | ٣٠١,٥٨٤ | ۱,۶۶۳,۵۱۲ |
| بې بدیله مرستې | ۲۴ | ١١١,٤٢٩ | ۱۳۷,۶۹۹ |
| زیرمې او نورې پوراينې | ۲۵ | ٢,٤٢٧,٩٨١ | ۵۸۲,۲۰۱ |
| **ټولیزي پوراينې** | | ٤٧٨,٨٨٦,١٠١ | ۴۳۹,۲۰۲,۹۱۵ |
| **پانګې (اکویتي)** | | | |
| پانګې | ۲۶ | ٢٣,٨٠٩,٢٥٠ | ۱۹,۲۶۷,۵۰۰ |
| د بیا ارزښت موندنې زیرمې | ۲۶ | ٤١,١٣٤,١٤٧ | ۳۴,۴۷۹,۷۲۲ |
| د پانګې نورې برخې | ۲۶ | ٣١,٥١١,٥٦١ | ۱۸,۹۵۱,۹۴۰ |
| عمومي زیرمې | ۲۶ | ٢٣,٨٠٩,٢٥٠ | ۱۹,۲۶۷,۵۰۰ |
| **ټولیزي پانګې** | | ١٢٠,٢٦٤,٢٠٨ | ۹۱,۹۶۶,۶۶۲ |

| | | |
|---|---|---|
| تولیزې پوراینې او پانګې | ۵۹۹،۱۵۰،۳۰۹ | ۵۳۱،۱۶۹،۵۷۷ |

۲۷

له (۱) څخه تر (۳۸) شمیرې پورې پورته ذکر شوي یادښتونه د مالي راپور بنسټیزې برخې دي.

**سید یونس سادات**
د مالي او حسابي چارو لوی آمر

**خلیل صدیق**
د افغانستان بانک د تولو رئیس

**واحد الله نوشیر**
د افغانستان بانک لومړي مرستیال

# د بانکي عملیاتو لوی آمریت

# د بانکي عملیاتو لوی آمریت

له هغه ځایه چې د افغانستان بانک د دولت او د بانکونو د بانک لرونکي په توګه عمل کوي، د بانکي عملیاتو لوی آمریت د افغانستان بانک په اډانه کې جوړ شوی، څو دولتي ادارو او سوداګریزو بانکونو ته بانکي خدمتونه وړاندې کړي.

دې آمریت د ۱۳۹۶ مالي کال له کاري پلان سره سم وکولای شو چې مخکې ټاکل شوې موخې او کړنې ترلاسه کړي چې له کړنو څخه په لنډه توګه لاندې یادونه کوو.

**د نغدو پیسو او د غیر نغدي معاملو اداره کول**

د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې له یوې معتبرې نړیوالې کمپنۍ سره د نوي بانکنوټونو د سل میلیارده افغانۍ د چاپ تړون لاسلیک شو چې لس میلیارده افغانۍ یې په همدې کال کې چاپ او ولیږدول شوې. پاتې وړې نوي میلیارده (لس، شل، پنځوس او سل افغانۍ بانکنوټونه) په دریو پړاونو کې کابل ته استول او د دولت په خزانه کې شامل شوي چې دا بهیر په ۱۳۹۶ مالي کال کې بشپړ شوی او له یادو بانکنوټونو څخه د دولت د لګښتونو او د هېواد د اقتصاد د نورو پولي اړتیاوو په اداینه کې له اقتصادي ودې سره سم کار اخیستل کیږي.

د نمایندګیو د سیالیت او نقدینه ګۍ د ساتلو، د دولت د پولي لګښتونو د تأمینولو، د سوداګریزو بانکونو د نقدینه ګۍ او د ملي پیوستون پروژو ته د ورکړې په موخه څلورویشت میلیارده او پنځه سوه میلیونه افغانۍ د افغانستان د امنیتي ادارو په مرسته د ځمکې او هوا له لارې ولایتونو ته لیږدول شوي دي. همدا ډول د مرکز د تأمین او د نمایندګیو د پولي انډول (محدودې) د ساتلو په موخه دوه ویشت میلیارده او دوه سوه میلیونه افغانۍ، یو سلو شپږ دېرش میلیونه امریکایي ډالر او اته میلیونه یورو د نمایندګیو زیاتې پیسې په بریالیتوب سره له ولایتونو څخه مرکز ته استول او په مرکزي خزانه کې شامل شوي دي. په هېواد کې له شته امنیتي ننګونو، یو شمېر ولایتونو ته د ملکي او نظامي الوتکو د الوتنو د نه شتون او همدا ډول د فزیکي پیسو د لیږد په برخه کې له یو شمېر نورو ستونزو سره سره، بیا هم هیڅ نمایندګۍ د تیر کال په اوږدو کې د فزیکي پیسو له کمښت سره مخ شوې نه ده او سیالیت له اړتیاوو سره سم په خپل وخت کې تأمین شوی دی.

د منظم او روڼ پولي سیستم د درلودلو او په بازار کې د زړو او مندرسو بانکنوټونو د زیاتیدو د مخنیوي په موخه د افغانستان بانک د سوداګریزو بانکونو په مرسته هر کال د اړوندې لایحې په پام کې نیولو سره زاړه او مندرس بانکنوټونه راټولوي او د دولتي ادارو د ګډ پلاوي تر څار لاندې یې په مرکز او اړوندو زونونو کې سوځوي چې په ۱۳۹۶ مالي کال کې شپږ میلیارده او نهه سوه میلیونه افغانۍ زاړه او له کاره غورځیدلي بانکنوټونه د یاد پلاوي تر څار لاندې له منځه وړل شوي چې په دې کار سره تر یو بریده پورې په بازار کې د زړو بانکنوټونو کچه راکمه شوې ده.

همدا ډول د افغانستان بانک خپله اسعاري ډېریدنه تل د پانګونې په موخه د امریکا فدرال ریزرف بانک ته لیږدوي. د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې یې هم په لومړي پړاو کې دوه سوه او پنځوس میلیونه امریکایي ډالره د خزانه‌دارۍ له طی مراحلو وروسته یاد بانک ته لیږدولي او په هغه بانک کې د افغانستان بانک په حساب کې شامل شوي چې ورپسې د هغه د پانګونې په برخه کې کټلي ګامونه پورته شوي دي.

د بانکي عملیاتو لوی آمریت په چټکه، خوندي او شفافه توګه د بانکي خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې یې هیڅ ډول هڅه

او هاند سیمولی نه دی او د دولت د ۱۳۹۶ مالي کال عواید یې په منظمه توګه په اړوندو حسابونو کې شامل کړي دي. د دولت لګښتونه او پولي اړتیاوې په خپل وخت پوره شوي چې په ټولیزه توګه د دولت، بانکونو او نورو ادارو شاوخوا ( ۱۷۰۰۰۰) یو سلو اویا زره افغانی او اسعاري معاملې په مرکزي دفتر کې پروسس شوي چې د معاملې جزئیات یې د هغه د ارزښت په پام کې نیولو سره په (۳۳) جدول کې وړاندې کیږي.

| د معاملې نوعیت | د اسعارو نوعیت | شمیر | ارزښت (ارقام په میلیارد) |
|---|---|---|---|
| انتقالي معاملې | افغانی | ۶۱،۴۰۰ | ۳۹۵ |
| | ډالري | ۴۰،۰۰۰ | ۱۳.۳ |
| | یورو | ۳۰۰ | ۰.۱۵ |
| نغدي معامې | افغانی | ۶۶،۲۰۰ | ۱۷۵ |
| | ډالري | ۱،۷۰۰ | ۱ |
| | یورو | ۳۶۰ | ۰.۸ |

**اداري او پرمختیایي چارې**

د ملي پیوستون پروګرام د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې په بریالیتوب سره پای ته ورسید او د افغانستان بانک د بانکي خدمتونو د وړاندې کولو لګه؛ د کاري مکانیزمونو د جوړولو، پرمختیایي شوراګانو ته د حسابونو د پرانیستلو، د شتمنیو د لیږد، ساتلو او خوندیتوب او د پرمختیایي پروژو د پولي تأمینولو په برخه کې بنسټیز رول لوبولی چې د ملي پیوستون د پروګرام ځای د بناري تړون ملي پروګرام نیولی. څرنګه چې د دې پروګرام ټولې پولي معاملې لکه د ملي پیوستون د پروګرام په شان په ټولو ولایتونو کې د افغانستان بانک له لارې ترسره کیږي، له همدې آمله د ورکړې د خوندیتوب او د پرمختیایي شوراګانو په حسابونو کې د شتمنیو د خوندیتوب او د بناري میثاق پروژو ته د داسې نورو بانکي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د افغانستان بانک د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت او د سیمه ایزو ارګانونو اداري سره ګډ هوکړه لیک لاسلیک کړی چې ټول بانکي خدمتونه د پورته یاد شوي هوکړه لیک په رڼا کې د یادو ادارو ترمنځ پر مخ ځي څو له دې لارې پرمختیایي پرژوې په ټولو ولایتونو کې په خپل وخت او په خوندي توګه پولي تأمین شي.

په بانکي سکتور کې د ورکړې د سیستم د بنسټیز رول په پام کې نیولو سره د افغانستان بانک د دې سیستم د لا پراختیا او غوړیدا په موخه مهم پروګرامونه او ارزښتناکه ګامونه پورته کړي دي څو دا سیستم له معیارونو سره سم عیار او په بانکي سکتور کې د شتمنیو د لیږد په برخه کې بشپړه اسانتیا، چټکتیا او روڼتیا رامنځ ته کړي. همدا ډول د افغانستان بانک د مالیې وزارت په ګډه همکارۍ دولتي ادارو، سوداګریزو بانکونو، د سوداګرۍ خونې او سوداګرو ته د پوهاوی پروګرام پیل کړی چې تر اوسه پورې دا پروګرام په مرکز او پنځو زونونو کې په بریالیتوب سره عملي شوی دی. باید یادونه وشي چې نور پروګرامونه هم د دې سیستم د پراختیا او معیاري کولو لپاره تر لاس لاندې دي چې د یادو پروګرامونو په عملي کیدو سره به د افغانستان د ورکړې په نظام کې نوی څپرکی رامنځ ته شي.

د افغانستان بانک د قانون د اته اویایمې مادې سره سم، دا بانک اجازه لري څو د دولت د امانتونو د ترلاسه کولو واک نورو مالي مؤسسو ته له یو لړ شرایطو سره سم تفویض کړي. د افغانستان بانک هر کال شاوخوا دوه میلیونه د دولت معاملې ترسره کوي. په یو تدریجي ۵ کلن پروګرام کې سوداګریزو بانکونو ته د دې معاملو د یوې برخې د لیږدولو په صورت کې به له یوې خوا بانکي سکتور ته ښه بازار جوړ شي او له بلې خوا به دولت او خلکو ته د عوایدو په راټولولو کې اسانتیا او چټکتیا رامنځ ته شي.

سربېره پر دې، د افغانستان بانک د سوداګریزو بانکونو له لارې د دولت د عوایدو د راټولولو میکانیزم په ځلورو ځپرکو او ځوارلسو مادو کې ترتیب او په دې اړه یې د عدلیې او مالیې وزارتونو موافقه هم ترلاسه کړې چې په پایله کې سوداګریزو بانکونو ته د دولت د راټول شویو عوایدو د لیږدولو قانوني زمینه برابره شوې او د افغانستان بانک د هغه د عملي کیدو په پړاو کې دی.

# اداره او پراختیا

# اداره او پراختیا

**د ټولو ناظر اداره**

د افغانستان بانک د قانون یو ویشتمه ماده، د افغانستان بانک په اډانه کې د ټولو ناظر د اداري(داخلي څېړنې) جوړېدنه او د ټولو ناظر ټاکنه په ډاګه کوي. د افغانستان بانک د قانون د ۲۱ مادې او ۴ بند سره سم د داخلي څېړنې د اداري دندې او مسؤولیتونه د احتمالي خطرونو د مخنیوي په موخه د کړنلارو د وضع کولو او خوندیتوب ترڅنګ د مناسبو سندونو ساتل او د هغه پر تطبیق باندې څارنه؛ د افغانستان بانک د نافذه قوانینو او مقررو رعایتولو د څارنې په موخه د افغانستان بانک د شعبو د کړنو دوامداره څېړنه، د څېړنو ترسره کول او د افغانستان بانک عالي شورا ته د حسابونو، ریکارډونو، کړنلارو، د افغانستان بانک حسابداری او بودجې کنټرولونه؛ د مالي صورت حسابونو او د افغانستان بانک د نورو اړوندو سندونو منظمه څېړنه او ورته لاسرسی او د سموالي (صحت) په صورت کې د تصدیق پاڼې صادرول؛ د افغانستان بانک د عالي شورا او عامل پلاوي د تصمیمونو له رغنده اجراء او سالم تطبیق څخه څارنه او د عالي شورا او لوی رئیس لخوا ورته نورې ورسپارل شوې دندې او مکلفیتونه ګډل کیږي.

د ټولو ناظر د اداري د کلني تصویب شوي پلان پلي کول او د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د دې اداري غیر پلاني اجراات په لاندې ډول وړاندې کیږي.

د افغانستان بانک د ټولو ناظر اداري د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د ۷۰ ساحو (پلان شویو شعبو) له ډلې څخه چې مرکزي شعبې، ښاري څانګې، اوه زونونه او د ولایتونو نمایندګۍ رانغاړي، ۵۵ شعبې چې د پلان شویو ساحو ۷۸ سلنه جوړوي، په بشپړه توګه څېړلي دي. څو محدودو ساحو ته د نه لاسرسی لامل نا امني او د لارې په اوږدو کې امنیتي ستونزې په ګوته شوي دي. د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د پلان شویو ساحو ترڅنګ د افغانستان د اداینو د سیستم اداره (Afghanistan Payment System)هم له پلانه بهر څېړل شوې او په اړه یې مشر تابه پلاوي ته راپور وړاندې شوی دی. باید یادونه وشي چې د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې دوه مورده ځانګړي موضوعات هم د پلټنې ټیم ته ورسپارل شوي دي چې په دې برخه کې د لومړنیو څېړنو راپور بشپړ او مشرتابه پلاوي (عامل پلاوي او د داخلي څېړنې کمیټې) ته د لازمې پریکړې په موخه وړاندې شوی دی.

د څېړنې لاندې ساحو څخه د څېړنې د ټیمونو موندنې د جلا راپورونو له لارې د مشاهدې په توګه د مترقبه خطرونو د توضیح کولو او د ډله بندۍ او سپارښتنې په پام کې نیولو سره په رسمي توګه د افغانستان بانک د لوی ریاست مقام ته وړاندې شوي دي. همدا ډول د ټولو ناظر د اداري د راپورونو پر بنسټ، لوی ریاست لازمه حکمونه او لارښوونې اړوندو شعبو ته صادروي. له ټاکلې مودې وروسته په لېږل شویو راپورونو کې د سپارښتونو د تطبیق او نه تطبیق له څرانګوالي څخه د ډاډ د ترلاسه کولو په موخه د کیفیت د ډاډمنتیا مدیریت د هغه تعقیبي څېړنه په لاره اچوي. د هغه شمېر سپارښتنو په برخه کې چې د بېلابېلو دلیلونو له امله پلي شوي نه دي، د ټاکلې مودې له ځانګړې کولو وروسته د تعقیبي ټیم لخوا ورته د دویم ځل لپاره وخت ورکول کیږي. که چېرې بیا هم د پام وړ مشاهده تحقق ونه مومي، دا موضوع د څېړنې رتلونکي ټیم ته راجع کیږي.

باید یادونه وشي چې د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک د عالي شورا ۴۵ تصویبونه او د عامل پلاوي ۴۴۶ تصویبونه

د کیفیت د اطمینان د تیم لخوا تعقیب او په اړه یې مشر تابه پلاوي ته راپور وړاندې شوی دی. د دې ترڅنګ له ۵۵ څیړل شویو تعقیبي شعبو څخه ۲۱ شعبې چې موده یې بشپړه شوې، تعقیب شوي دي.

د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د داخلي څېړنې تصدیق شوی پروګرام (Certified Internal Auditor) چې د پیسو د نړیوال صندوق له سپارښتنو څخه هم ګڼل کیږي، پیل او د ټول ناظر د اداري ۱۶ تنه کارکوونکي ور وپیژندل شو.

**د اسنادو او اړیکو لوی آمریت**

د اسنادو او اړیکو لوی آمریت د افغانستان بانک د اړیکو یوازینی مسؤول دی. دا آمریت د دوو معاونیتونو (د خپرونو او اړیکو/ د سندونو او پروتوکول) په اړانه کې خپلې دندې او مسؤولیتونه پر مخ وړي. څکه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ادارو د کړنو په اړه معلوماتو ته لاسرسي د هر وګړي حق دی، له همدې امله دې آمریت د افغانستان بانک د کړنو په اړه د کره، پر خپل وخت او رڼو معلوماتو په خپرولو کې تل هڅه کړې ده.

دې آمریت د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د اداري چارو د پرمخ بیولو ترڅنګ د افغانستان بانک د چاپي خپرونو، سایټونو او ټولنیزو شبکو له لارې د افغانستان بانک د کړنو او لاسته راوړنو په انعکاسولو کې مهم رول لوبولی دی چې دلته یې لنډیز د خپرونو، اړیکو او ژباړې د برخو په تفکیک سره وړاندې کیږي:

**خپرونې**

د اسنادو او اړیکو د آمریت د خپرونو مدیریت تل هڅه کړې ده څو د افغانستان بانک کړنې، لاسته راوړنې او پیغام په بېلابېلو برخو کې د افغانستان بانک د میاشتنی (مجلې)، دري میاشتنی بولټنونو، کلني راپورونو او داسې نورو خپرونو له لارې د عامه پوهاوی په موخه اکادمیکې ټولنې، محصلینو او رسنیو ته خپرې کړي. دې مدیریت د مجلې، انځوریزو رسالو او جزوو له لارې د افغانۍ د دودیدو او د بانکنوټونو د ساتلو په برخه کې د تبلیغاتو په خپرولو سره عامه ذهنونو هم روښانه کړي دي.

د خپرونو مدیریت د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې توانیدلی دی څو د بانک ۱۲ ګڼې میاشتنی مجلې هره میاشت ۲۰۰۰ جلده چې داخلي او د نړۍ اقتصادي مقالې او د افغانستان بانک د رسمي غونډو راپورونه رانغاړي، د هېواد په دوو رسمي پښتو او دري ژبو خپرې او د مینه والو په واک کې یې ورکړي. د ۱۳۹۵ مالي کال کلنی راپور چې د پولي سیاست، بازار عملیات، اداینو سیستم، د افغانستان د بانکي نظام، د افغان امانتونو د بیمې، د افغانستان د معاملو او مالي راپورونو د څېړنې د مرکز، د عامه اعتبارونو د ثبت، د نړۍ د اقتصاد او اداري او پراختیا کړنې رانغاړي، د ۱۳۹۶ کال په اوږدو کې په دریو ژبو پښتو، دري او انګلیسي جوړ شوی او د بانک د سیاستونو د ذینفع شریکانو په واک کې ورکړل شوی دی. دې مدیریت د افغانۍ د دودیدو له طرحې او تبلیغاتو سره سم د افغانستان بانک کلیزه په دیوالي او سرمیزي بڼه د تبلیغاتي وسیلې په توګه جوړه او خپره کړې ده چې د افغانۍ د دودیدو او د افغانۍ بانکنوټونو د سمې کارونې او ساتلو په برخه کې اعلانونه رانغاړي.

په ورته وخت کې د خپرونو مدیریت د ۱۳۹۶ مالي کال د دریمې ربعې اقتصادي او احصائیوي بولټن چې د هېواد پولي او مالي مسایل او همدا ډول د نړۍ اقتصادي موضوعات رانغاړي، په پښتو او دري ژبو جوړ او خپور کړی دی.

همدا ډول دې مدیریت له پلان سره سم د عامه ذهنونو د روښانولو په موخه په اقتصادي معاملو کې د افغانۍ د دودیدو په اړه دوه بوکلیټونه په دري او پښتو ژبه جوړ کړي دي.

د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې شاوخوا د ۷۰ کنفرانسونو، ورکشاپونو او ټولنيزو شبکو، د افغانستان بانک سايټ او مجلې ته د افغانستان بانک د داسې نورو رسمي غونډو د خبري راپورونو جوړول، د ۳۶ رسمي غونډو (کنفرانسونو، د زړو پيسو د سوځولو د پروسو، له رسنيو سره د عامل پلاوي د مرکو او عملياتي او اداري غونډو) فلمبرداري او عکاسي، د خپرونو د مديريت په نشراتي آرشيف کې د افغانستان بانک د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د رسمي غونډو د ویډیوګانو، مجلو، بولټنونو او کلني راپورونو آرشيفول، د خلکو د مرکو د ویډیويي کليپونو جوړول او همدا ډول د افغانۍ د دوديدو او ساتلو په موخه فيس بوک، ټويټر او داسې نورو ټولنيزو شبکو ته د انځورونو برابرول د دې مديريت کړنې ګڼل کيږي.

**اړيکې**

معلوماتو ته د لاسرسۍ د اصل په پام کې نيولو سره، د اسنادو او اړيکو د لوی آمريت د اړيکو مديريت د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د ويب پاڼو، ټولنيزو شبکو لکه؛ فيسبوک، ګوګل پلس، ټويټر او يوټيوب او همدا ډول د کنفرانسونو، سيمينارونو او ورکشاپونو د جوړيدو له لارې د افغانستان بانک د عمومي موخو، دندو، سياستونو او کړنو په خپرولو کې هڅه کړې ده.

دلته په لنډه توګه د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک د اسنادو او اړيکو د لوی آمريت د اړيکو د مديريت له کړنې څخه يادونه کوو:

دې مديريت د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د هېواد د بانکي نظام او پولي وضعيت په اړه د مشر تابه پلاوي د بېلابېلو پريکړو په اړه ۱۲ خبري کنفرانسونه او د بانک د عمومي موخو، دندو او سياستونو په اړه د خلکو د پوهاوۍ لپاره لږ ترلږه ۷ ورکشاپونه او سيمينارونه په لاره اچولي دي. سربېره پر دې، د اړيکو مديريت د عامه پوهاوۍ په موخه د سايټ او ټولنيزو شبکو له لارې د عملياتي او اداري غونډو په شمول د مشرتابه پلاوي شاوخوا د ۷۰ غونډو او د عالي شورا د ۴ غونډو راپورونه خپاره کړي دي. دې مديريت يوازې د داخلي کانالونو له لارې د خبر پاڼو په خپرولو بسنه کړې نه ده، بلکې يادې خبر پاڼې يې د رسنيو د پوهاوۍ لپاره د ايميل له لارې هم استولي دي. د افغانستان بانک د مشرتابه پلاوي د ۱۵ پيغامونو خپرول، د افغانستان بانک د ارتباطي مجراء له لارې د افغانستان بانک د نشراتي موادو او د بانک انفو ته د راليږل شويو ايميلونو کتل هغه موارد دي چې د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې دې مديريت ترسره کړي دي.

دې برخې، د افغانۍ د دوديدو او د تنويري کړنو د تبليغاتو د طرحې په اډانه کې په لګښتي او غير لګښتي برخو کې يو لړ کارونه ترسره کړي چې د افغانستان بانک د ټولنيزو شبکو له لارې ۲۰۰ ليکلي او انځوريزه پيغامونه، په مرکز او ولايتونو کې شاوخوا د ۵۰ غږيزو او انځوريزو رسنيو له لارې ۸ انځوريزه او ۸ غږيزه اعلانونه او همدا ډول زده کوونکو ته د کابل ښار په ۱۵ ښوونځيو کې حضوري پوهاوی، د بلبورډونو نصبول او د تبليغاتي پاڼو ويشل رانغاړي چې په ورته وخت کې د هغه له خپرولو څخه ځارنه هم شوې ده.

د پورته دندو ترڅنګ دې مديريت د نورو آمريتونو په همکارۍ د سايټونو د بډاينې لپاره داخلي او بهرني سايټونه اپډيټ کړي دي چې له دې ډلې يې د دې آمريت د خپرونو د مديريت ډېرى نشراتي مواد (بوکليټونه، مياشتنۍ مجله، درې مياشتني بولټنونه، کلنی راپور او داسې نورو نشراتي مواد) د داخلي او خارجي سايټونو او ټولنيزو شبکو له لارې خپاره کړي دي.

**د ژباړې بورډ**

د اسنادو او اړيکو د لوی آمريت د ژباړې بورد له يوې ژبې

څخه بلې ژبې ته د نشراتي موادو، قوانينو، مقررو او داسې نورو مهمو سندونو د ژباړلو دنده په غاړه لري. د اسنادو او اړيکو لوی آمريت د دې لپاره چې د افغانستان بانک موخې، سياستونه، دندې او لاسته راوړنې يې عامه خلکو او د افغانستان بانک شريکانو ته په ښه توګه رسولي وي، هڅه کړې ده څو نشراتي او ارتباطي چارې په ملي ژبو (دري او پښتو) او همدا ډول انګليسي ژبه وژباړي او د عامه ذهنونو د روښانه کولو لپاره يې چاپ او خپرې کړي. د دې آمريت د ژباړې بورډ سربېره پر دې چې د نشراتي او ارتباطي موادو ( مجلې، کلنۍ راپور، اقتصادي او احصائيوي بولټونو، ټولنيزې شبکو او داخلي او بهرني ويب پاڼو) له لارې د افغانستان بانک د اطلاعاتو او معلوماتو د خپرولو په برخه کې ښه همکار دی، د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې يې يو شمېر مقررې، پاليسۍ، قوانين، کړنلارې، تړون ليکونه او داسې نور اسناد هم ژباړلي دي.

**د حقوقي مشاوريت اداره**

د حقوقي مشاوريت اداره چې د افغانستان بانک د داخلي تقنيني سندونو، مقررو، پاليسيو او کړنلارو د طرحه کولو، تسويد، تعديل او طی مراحلو مسووليت پرغاړه لري. د حقوقي مشاوريت اداره د خپلو اړتياوو او طرحه شوي کاري پلان پر بنسټ د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د قوانينو او مقررو، پاليسيو او کړنلارو د طرحې، تدوين او تعديل په برخو کې بيلابيلې کړنې ترسره کړي دي چې لاندې ترې په لنډه توګه يادونه کوو:

۱. د افغانستان بانک په قانون کې د تعديلاتو د طرحې تدوينول چې د افغانستان بانک او نورو اړوندو ادارو لخوا د هغه د تقنيني طی مراحلو پړاو نهايي شوی او د تصويب لپاره ملي شورا ته استول شوی دی.

۲. له دويم ستراتيژيک پلان (۱۳۹۶ ـ ۱۳۹۹) سره سم او د وخت د غوښتنو په پام کې نيولو سره د افغانستان د مالي نظام د عيارولو په موخه د افغانستان بانک د غير منقولو اموالو د رهن د قانون د موادو د تعديلاتو د طرحې تدوينول.

۳. له دويم ستراتيژيک پلان (۱۳۹۶ ـ ۱۳۹۹) سره سم او په مالي او بانکي نظام کې د وخت د غوښتنو په پام کې نيولو سره د ياد قانون د همغږۍ په موخه په بانکي معاملو کې د غير منقولو اموالو د رهن قانون د موادو د تعديلاتو د طرحې تدوينول چې د ۱۳۸۸ کال په ۹۹۰ ګڼې جريده کې هم خپور شوی دی.

۴. د صرافانو او د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د کړنو د تنظيم په مقرره کې د تعديلاتو د طرحې تدوينول چې د عالي شورا د ۱۹ ګڼې، د ۱۳۹۶/۱۰/۱۶ نېټې مصوبې له لارې منظوره شوې ده.

۵. د پور ورکونې (د کور/ اپارتمان د پور) په مقرره کې د تعديلاتو د طرحې جوړول چې د عالي شورا د ۲۴ ګڼې، ۱۳۹۶/۱۰/۱۶ نېټې تصويب پر بنسټ منظوره شوې ده.

۶. د شتمنيو د ډله بندۍ او د خسارې د جبران د تشکيل په مقرره کې د تعديلاتو د طرحې جوړول چې د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۸ ګڼې، ۱۳۹۶/۴/۱۳ نېټې تصويب له لارې منظوره شوې ده.

۷. د افغانستان بانک د کارکوونکو د تقاعد د حقونو په مقرره کې د تعديلاتو د طرحې تدوينول چې د افغانستان بانک د عالي شورا د ۸ ګڼې، ۱۳۹۶/۴/۱۳ نېټې مصوبې پر بنسټ منظوره شوې ده.

۸. د الزامي زېرمو په مقرره کې د تعديلاتو د طرحې تدوينول چې د عالي شورا د ۹ ګڼې، ۱۳۹۶/۴/۱۳ نېټې تصويب له لارې منظوره شوې ده.

۹. د اسعارو د ليلام په مقرره کې د تعديلاتو د طرحې تدوينول چې د عالي شورا د ۴۳ ګڼې، د ۴۳/۱۰/۱۷ نېټې تصويب له لارې منظور شوې ده.

**د بشري منابع لوی آمريت**

ګمارنې، د سوانحو ترتيبول، تشکيلاتي جوړښت، د ظرفيت د لوړولو په موخه د روزنيزو پروګرامونو جوړول، ترتيبول او په لاره اچول او د کارکوونکو اړوند نورې چارې د بشري منابع د آمريت له کړنو څخه ګڼل کيږي.

د بشري منابع لوی آمريت هڅه کوي څو د اغيزمنتيا د زياتيدو او د کارکوونکو د ودې لپاره د ښې زمينې په برابرولو سره، د شته پاليسيو او لوايحو په طرحې او تعديل سره د بشري منابع د مديريت سيستم، د کارکوونکو لپاره د روزنيزو فرصتونو برابرولو او د هڅوونکو پروګرامونو جوړولو ته ښه والی وبخښي. له همدې امله د افغانستان بانک د استراتيژيک پلان د اووم اصل پر بنسټ دا آمريت د درې مهمو کړنو لکه د پاليسيو د طرحې او تدوين ( د تشکيلاتي جوړښت، معاشونو او د کارکوونکو د ظرفيت سمون او بيا کتنه، د بشري منابع د آمريت د کاري پروسې برېښنايي کول او د معلوماتي تکنالوژۍ او د مالي نظام د ټينګښت د پروژې د آمريتونو په همغږۍ سره په مرکز کې د برېښنايي حاضرۍ لګول او د کارکوونکو د ځای ناستې د پلان جوړول(Succession Plan)، د کارکوونکو ظرفيت لوړول( د بېلابېلو ډولونو د روزنيزو پروګرامونو پياوړتيا او پراختيا، البته د تخصصي پروګرامونو په ځانګړې توګه د حرفوي مديريت (Professional Leadership) پراختيا او له نورو مرکزي بانکونو او داخلي روزنيزو مرکزونو سره د اړيکو ټينګول) او له کارکوونکو سره د اړيکو د لوړولو ( د روغتيايي بيمې د ميکانيزم طرحه او جوړول، د سپورت د مناسبو فرصتونو برابرول او کارکوونکو لپاره د هڅوونکو پروګرامونو د جوړولو) په ترسره کولو اړ دی.

دا آمريت د افغانستان بانک د پنځه کلن کاري پلان په پام کې نيولو سره اړ دی څو تشکيلاتي ريفورم او کاري پروسې طرحه او تطبيق، د بشري منابع مقررې طرحه او ترتيب، د بشري منابع د فرعي کميټې کاري کړنلاره طرحه او ترتيب او د کارکوونکو د ځای ناستی پلان جوړ کړي چې په يادو برخو کې يې له عمده کړنو څخه لاندې يادونه کوو:

**د تشکيلاتي ريفورم او کاري پروسو طرحه او پلي کول**

د بشري منابع لوی آمريت د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د تشکيلاتي ريفورم او کاري پروسو د طرحې او تطبيقولو په برخه کې يو لړ اجراات عملي کړي دي چې له امله يې د بشري منابع لوی آمريت او داسې نورو شعبو کاري پروسې پياوړي شوي دي.

د نړيوال او سيمه ايز اقتصاد د څېرنې د همغږۍ د واحدونو ( د دوو بستونو) جوړول او د اسيستانټ او همغږي کوونکو په بست باندې د لوی آمر د اسيستانټ د بست بدلول، د سي بي اس د مسؤول بست د سي بي اس د مرستيال بست ته لوړول، د ژباړې د بورډ په توګه د اسناد او اړيکو د يو تن ژباړن د بست لوړول، د بانکي عملياتو د دوو بستونو له منځه وړل او د ادراينې د آمريت په تشکيل کې د هغه زياتول، د معلوماتي تکنالوژۍ د آمريت په تشکيل کې د شپږ سيمه ايزه تخنيکي بستونو جوړول، د خطرونو د آمريت د نوې تشکيلاتي طرحې وړاندې کول؛ د مالي خدمتونو د پراختيا، تدارکاتو، د مالي جارو د څارنې، پولي سياست د آمريتونو، ښاري څانګو او د ولايتونو د نمايندګيو د نوي تشکيلاتي چارټ طرحه ترتيبول او وړاندې کول، راتلونکو پنځو کلونو لپاره د آمريتونو او معاونيتونو د معاشونو د اسکيل

طرحه، ترتیبول او منظوري او د ټولو کارکوونکو د معاشونو په جوړښت باندې بیا کتنه چې ښايي د ۱۳۹۷ مالي کال په لومړیو کې نهايي شي، د تشکیلاتو په برخه کې د دې آمریت له کارونو څخه ګڼل کیږي.

**د بشري منابع د مقررې طرحه او ترتیبول**

د ۱۳۹۷ مالي کال په لومړیو کې د بشري منابع مقرره جوړه او نهايي شوه چې د بشري منابع ټولې چارې به په هغه کې تسجیل شي. د بشري منابع د مقررې درج شوي څپرکي د کارکوونکو اصول او سلوک، د کارکوونکو دندې او مکلفیتونه، د ګټو تضاد، د بشري منابع د پلان جوړول، د دندو لایحې، د دندې او تکیلاتو شننه، د دندو ډله بندي او د بستونو سرلیکونه، ګمارنې، د ګمارنې د بهیر ازمویني، د کارکوونکو رزونه او وده، د کارکوونکي د اجراآتو ارزونه، ارتقاء، حقوق او امتیازونه، مکافات، د کارکوونکو ځای پر ځای کول، روغتیا او خوندیتوب (روغتیایي بیمه) تقاعد، د بشري منابع کمیټې او داسې نور متفرقه موارد رانغاړي.

**د کارکوونکو روزنه او وده**

د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک کارکوونکو لپاره له هېوادو بهر په ټولیزه توګه ۱۲۵ روزنیز پروګرامونه په پام کې نیول شوي ؤ چې ۲۲۱ تنه نارینه او ښځینه کارکوونکو ترې ګټه پورته کړې ده. د یادو پروګرامونو له ډلې ۱۸ پروګرامونه د افغانستان بانک لخوا تمویل شوي او پاتې ۱۰۷ پروګرامونه یې د نړیوالو ادارو لکه: IMF, METC, UNODC TCMB, World Bank, AFI او داسې نورو همکارو انسټیټیوټونو لخوا تمویل شوي دي.

همدا ډول د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک کارکوونکو لپاره په ټولیزه توګه ۳۰ داخلي روزنیز پروګرامونه په پام کې نیول شوي چې په ټولیزه توګه تطبیق شوي دي. له دې پروګرامونو څخه ۷۷۵ تنه ښځینه او نارینه کارکوونکو ګټه پورته کړې ده.

باید وویل شي چې د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د بانک کارکوونکو لپاره ۶۱ د سوداګرۍ د شریکولو او له هېواده بهر د روزنیزو پروګرامونو د لاسته راوړنو پروګرامونه ترسره کړي دي چې دا پروګرامونه د هغو کارکوونکو لخوا په لاره اچول شوي دي چې له هېواد څخه بهر روزنیزو پروګرامونو لپاره استول شوي ؤ. له یادو پروګرامونو څخه په ټولیزه توګه ۵۱۹ تنه نارینه او ښځینه کارکوونکو ګټه ترلاسه کړې ده.

د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو، د بشري منابع د لوی آمریت د کارکوونکو د روزنې او ودې معاونیت د بانکوالۍ او مالي چارو اړوند څانګو کې د لیسانس او ماسټرۍ په کچه د دې بانک ۴۲ تنه کارکوونکو ته د لوړو زده کړو زمینې برابرې کړې دي.

**ګمارنې او سوانح**

د افغانستان بانک د بشري منابع لوی آمریت د اړتیا وړ بستونو لپاره د وړ او مناسبو اشخاصو د پیژندنې او ګمارنې په برخه کې بنسټیزې کړنې ترسره کړې دي چې په ټولیزه توګه یې ۱۴۱ تنه مقرر، ۱۳۴ تنه تبدیل، ۹۶ تنه ارتقاء او ۹۱ تنه تقاعد، لرې، استعفاء او منفکۍ ته سوق کړي دي.

د بشري منابع د لوی آمریت د سوانح برخې د بشري منابع د معلوماتو د نوي سیستم یا HRMIS په فعالیدو سره په ډیټابیس کې په برېښنایي توکه د کارکوونکو د مخښینې(سوابقو) د ثبت په برخه کې لاندې کړنې ترسره کړې دي.

د بشري منابع په نوي سیستم کې د نوي مقرر شویو ۱۴۱ تنو کارکوونکو د سوانحو د معلوماتو درجول او هغوی لپاره د سوانحو د کتاب ترتیبول، د حاضرۍ د برېښنايي سیستم د فعالیدو

د بهیر پر مخ بیول، د هویت د ۸۰۰ قطعو کارتونو ترتیبول او ویشل، د ۵۷ تنه کارکوونکو د اکرامیې او تفریحي رخصتی اجراء کول، ټاکلي حساب ته د تقاعد حقونو د لیږد په موخه د ۲،۳۶۰ تنه کارکوونکو د خدمت د مودو سنجول، د شاوخوا ۱۲۷ تنه نوي مقرره شویو کارکوونکو د تحصیلي امتیاز د مکاتیبو اجراء کول او د ۲،۳۶۴ تنه کارکوونکو د TIN یا د مالیاتو د پیژندنې د نمبر طی مراحل د دې برخې له نورو کړنو څخه شمېرل کیږي.

**حقونه او امتیازونه**

د حقونو او امتیازونو د اجراء کولو پروسه د بشري منابع له دندې څخه ګڼل کیږي چې د بشري منابع په اداره او مدیریت کې کلیدي رول ترسره کوي. د بشري منابع لوی آمریت د حقونو او امتیازونو د اجراء په برخه کې د کارکوونکو له اجرااتو سره سم کړنې ترسره کړي دي.

د استثنایي امتیازونو د پالیسی تعدیلول، د کړنو د ارزونې د پالیسی تعدیلول، د ۲۰۱۷ـ ۲۰۲۰ کلونو لپاره د بشري منابع د لوی آمریت د کاري پلان ترتیبول، د ۱۳۹۵ کال د ۱،۹۶۵ تنو کارکوونکو د کړنو د ارزونې بشپړول، د روغتیایي بیمې د جوړولو طرحه او ترتیبول چې تر اوسه پورې د افغانستان بانک ۹۲ تنو کارکوونکو د روغتیایي بیمې غړیتوب ترلاسه کړی دی، د ۱۰۱ تنو کارکوونکو د تقاعد د حقونو اجراء کول چې د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې یې خپل تقاعد ترلاسه کړی دی، د ټولو کارکوونکو حسابونو ته د تقاعد د حقونو د لیږد پروژه د دې برخې د له بنسټیزو دندې څخه ګڼل کیږي.

**د مالي نظام د ټینګښت پروژې**

د مالي نظام د ټینګښت د پروژو اداري د مالي سکتور د عاجل ځواب د پروژې په پلي کولو سره، ـ له ۲۰۰۹کال څخه د۲۰۱۷ زیږدیز کال تر پای پورې د عامه اعتبارونو د ثبت او د منقولو اموالو د ثبت د سیستمونو، د مالي انسټیټیوټ د ملاتړ، د بشري منابع د مکانیزه کولو، په کارت او موبایل سره د ورکړې د سیستم د جوړول او نصبولو، د افغانستان بانک د ادایتو د سیستم د جوړولو او نصبولو او په داسې نورو برخو کې د پام وړ پرمختګونه درلودلي دي چې لاندې په لنډه توګه د۱۳۹۶مالي کال په اوږدو کې د دې پروژې له ترسره شویو کړنو څخه یادونه کوو:

- **د افغانستان بانک د خطرونو د اداري او تدارکاتو د آمریتونو لپاره د نړیواله سلاکارانو ګمارل**

د۱۳۹۶مالي کال په اوږدو کې د مالي نظام د ټینګښت د پروژو اداري د مالي سکتور د عاجل ځواب تر پروژې لاندې د تدارکاتو او تړونونو د آمریت نړیوال سلاکار (پون اندرا ناراین ورما) د مشورتي خدمتونو د وړاندې کولو او تدارکاتي چارو د پرمخ بیولو لپاره وګماره.

همدا ډول د یادې پروژې لاندې د افغانستان بانک د خطرونو آمریت لپاره نړیوال سلاکار ښاغلی ویلنتاین هم ګمارل شوی چې د یاد سلاکار د خطرونو د اداري د اړتیا وړ خدمتونه وړاندې کوي.

- **د مالي چارو د څارنې د آمریت د کاري ظرفیت لوړول**

د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې د آمریت د کاري ظرفیت د لوړولو په موخه د مشورتي شرکت د ګمارنې لپاره تدارکاتي پروسه د ۲۰۱۴ زیږدیز کال په پای کې ملي او نړیوالې پرانیستې داوطلبی لپاره اعلان ته ورکړل شوه

چې د تدارکاتي پروسې او د تړون د خبرو اترو په پایله کې، د UNICON LTD نړیوال مشورتي شرکت ګټونکی شو. په ۱۳۹۶مالي کال کې د یاد تړون مسوده د ملي تدارکاتو د ادارې او نړیوال بانک لخوا منظوره او د پورته یاد شوي مشورتي شرکت سره لاسلیک شوه چې د یاد تړون پلي کول دوام لري.

- **د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستم جوړول او نصبول**

د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم چې د کریډټ انفو شرکت لخوا په ۱۳۹۳کال کې فعال شوی دی، په ۱۳۹۶مالي کال کې د مالي ټینګښت د پروژو ادارې د یاد سیستم د ساتلو او مراقبت په موخه د خدمتونو د وړاندې کولو تړون له پورته یاد شویو شرکت سره تمدید کړی ؤ، اوس مهال پلان لري چې د۳راتلونکو کلونو لپاره یې بیا تمدید کړي، څو په بشپړه توګه له سیستم څخه ساتنه وشي. د یادونې وړ ده چې دا سیستم په بشپړه توګه الکترونیکي او د نړیوالو معیارونو سره سم عیار دی چې دې سیستم په هېواد کې مالي پیسو ته د لاسرسي اسانتیاوې زیاتې کړي دي. هغه مشتریان چې د مالي پیسو غوښتنې لري د دې سیستم له خدمتونو څخه ګټه پورته کولای شي او په پایله کې دا سیستم له بانکونه او مالي مؤسسو سره د پور ورکولو په کره پریکړه کې مرسته کوي او ورته په کره او چټکه توګه اعتباري معلومات برابروي.

همدا ډول په ۱۳۹۶مالي کال کې د مالي نظام د ټینګښت د پروژو ادارې د FSRRP پروژې لاندې د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت د معلوماتو مرکز لپاره د سختکالي (هارډویر) د جوړولو او نصبولو تدارکاتی پروسه بشپړه کړې چې په پایله کې اړوند سختکالي د قراردادي شرکت لخوا جوړ او په یاد شوي آمریت کې نصب او ګټې اخیستنې ته سپارل شوی دی.

- **د افغانستان د بانکدارۍ او مالي انسټیټیوټ مالي ملاتړ**

د افغانستان د بانکدارۍ او مالي انسټیټیوټ په ۲۰۱۰ کال کې د افغانستان بانک لخوا د مسفاء ادارې او د افغانستان د بانکونو د ټولنې( AFGHANISTAN BANKING ASSOCIATION) په همکارۍ د افغانستان د مالي او بانکي سکتور لپاره د تعلیمي خدمتونو، روزنیزو او څېړنیزو پروګرامونو د وړاندې کولو په موخه تأ سیس شوی دی. د مالي نظام د ټینګښت د پروژو ادارې د نړیوال بانك په موافقې د خپلې پروژې له لارې یې تر ۲۰۱۷ زیږدیز کال پورې د دې انسټیټیوټ توکي، تخنیکي خدمتونه، معاشونه او عملیاتي متفرقه لګښتونه تادیه کړي دي. د درې میاشتنیو راپورونو له مخې، دې انسټیټیوټ له تأسیسیدو څخه د ۲۰۱۷ کال تر څلورمې ربعې پورې په ټولیزه توګه د سوداګریزو بانکونو او کوچنیو مالي مؤسسو ۷۸۷۳ تنه کارکوونکي او داسې نور کار زده کوونکي چې ۱۴۲۵ تنه یې ښځینه کارکوونکي رانغاړي، په بېلابېلو عملي پروګرامونو کې روزلي دي.

- **د افغانستان د ورکړې سیستم په اداره کې له کارت او مبایل سره د ورکړې د سیستم جوړول او نصبول**

د ورکړې د ملي سیستمونو جوړول او عصري کول د مالي سکتور د عاجل ځواب د پروژو دویمه او مهمه برخه ده چې د هغه په پلي کیدو سره په ملي او نړیواله ورکړو کې بشپړه چټکتیا او روڼتیا رامنځ کیږي او د پیسو د فزیکي جریان له امله اوسنی ستونزو راکموي. د ۲۰۱۳کال په اوږدو کې د افغانستان بانک د دې ادارې تر پروژې لاندې او د تدارکاتي

پروسې له بشپړیدو وروسته د افغانستان د ورکړې د سیستم اداري ( AFGHANISTAN PAYMENTS SYSTEM, APS) لپاره له کارت او مبایل سره د ورکړې د سیستم د جوړولو، نصبولو او پلي کولو په موخه له BANKING PRODUCTION CENTER, BPC شرکت سره تړون لاسلیک کړی ؤ چې دا سیستم د یاد شرکت لخوا له جوړیدو او نصبولو وروسته ګټې اخیستنې ته وړاندې شوی دی. په ۱۳۹۶مالي کال کې د دریو کلونو لپاره د تخنیکي خدمتونو د ترلاسه کولو موافقه له پورته یاد شوي شرکت سره نهایي او لاسلیک شوې چې پلي کیدل یې جریان لري.

- **د افغانستان بانک د ادایني د سیستم جوړول او نصبول**

د افغانستان د ورکړو د ملي سیستمونو د عصري کیدو په لړ کې د افغانستان بانک د اداینو د سیستمونو ( RTGS, CSD, ACH AND DAB RELATED LINKAGES) جوړول او نصبول هم د مالي سکتور د عاجل ځواب د پروژې مهمه برخه ده چې د هېواد په مالي او بانکي سیستم کې حیاتي او مهمه برخه ګڼل کیږي.

د ۲۰۱۶ کال په اپریل میاشت کې د افغانستان بانک د مالي سکتور د عاجل ځواب تر پروژې لاندې یې د افغانستان بانک د اداینو د سیستمونو (RRGS, CSD, ACH) د جوړیدو، نصب او تطبیق په موخه له CMA SMALL SYSTEMSشرکت سره تړون لاسلیک کړ چې تر اوسه پورې ۴۰ سلنه تړون پلي شوی او په پام کې ده چې د ۲۰۱۸کال د جون تر میاشتې پورې په بشپړه توګه تطبیق شي.

- **د بانکونو ترمنځ د اړیکو د سیستم جوړول او نصبول**

د مالي نظام د ټینګښت د پروژو اداري د مالي سکتور د عاجل ځواب د پروژې له تدارکاتي پلان سره سم، د بانکونو ترمنځ د اړیکو د سیستم د جوړولو او نصبولو او د افغانستان د ورکړې سیستم (APS) د دفتر د شبکه کولو په موخه تدارکاتي پروسه د دریم ځل لپاره په ۱۳۹۶کال کې د ازادې داوطلبی له لارې اعلان کړه چې په وروستي پړاو کې ده او ډېر ژر به د افغانستان بانک او قراردادي شرکت ترمنځ لاسلیک او عملي شي.

- **د افغانستان بانک مرکزي بانکي سیستم ( CORE BANKING SYSTEM)**

د مالي نظام د ټینګښت د پروژو اداري په ۱۳۹۶ مالي کال کې د افغانستان بانک د مرکزي بانکي سیستم د تمویل او تدارک لپاره د نړیوال بانک د اضافي فنډ مرستې د رسمي هوکړو په ترڅ کې ترلاسه کړې او په خپل تدارکاتي پلان کې یې ځای پر ځای کړې دې. د پورته یاد شوي سیستم لپاره د تخنیکي ځانګړتیاوو مصوبه د ګمارل شوي تخنیکي کمیټې لخوا ترتیب شوې او ډېر ژر به نهایي شي چې راتلونکی پړاو یې د تدارکاتي پروسې پیل دی.

- **د افغانستان بانک کارکوونکو لپاره د لوړو زده کړو پروګرام**

د افغانستان بانک کارکوونکو لپاره د لوړو زده کړو د پروګرام جوړولو په موخه د مالي اټکل سندونه او راپور جوړ شوی او نړیوال بانک هم منظور کړی دی چې دا پروګرام به په نوي کال کې په عملي توګه پیل شي.

- **د افغانستان بانک کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو د لګښتونو برابرول**

په ۱۳۹۶مالي کال کې، دې اداري د مالي سکتور د عاجل ځواب تر پروژې لاندې د افغانستان بانک کارکوونکو لپاره د بېلابېلو روزنیزو پروګرامونو لګښتونه له هېواد بهر تادیه کړي دي. همدا ډول د تدارکاتو نړیوال سلاکار هم د افغانستان بانک د بېلابېلو آمریتونو کارکوونکو ته د عامه تدارکاتو په برخه کې روزنیز پروګرامونه جوړ کړي دي.

**د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت**

د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت د افغانستان بانک له مهمو آمریتونو څخه ګڼل کیږي چې د وخت د تکنالوژیکي اسانتیاوو د برابرولو او د بانکي سیستمونو لکه؛ Core Banking Solutions، SWIFT، ACSS, AFTS, Auction د معیاري کولو په برخه کې مهم رول لوبوي. دا آمریت په عصري تکنالوژۍ سمبال دی او د شته ابزارونو له لارې یې د افغانستان بانک د سیستمونو د اتوماتولو لپاره ډېرې اسانتیاوې برابرې کړې دي.

د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د دې آمریت د کړنو لنډ راپور د کاري برخو په تفکیک سره په لاندې ډول وړاندې کیږي:

**د شبکې مدیریت:**

دا برخه د معلوماتي تکنالوژۍ د آمریت له مهمو برخو څخه ګڼل کیږي چې د شبکې E1 او په مرکز او د افغانستان بانک په ټولو نمایندګیو کې د انټرنټ، د مخابراتو په وزارت او دبی ښار کې د افغانستان بانک له پیښو څخه د خوندیتوب د دوو سایټونو د نښلولو او په مرکز او نمایندګیو کې د شبکوي سیستمونو د مدیریت دنده په غاړه لري.

په مرکز کې د افغانستان بانک ټولو نمایندګیو لپاره په معیاري توګه د نوي دیټاسنټر جوړول چې په سرووکو سیستمونو، منظمې برېښنا او شبکوي خدمتونو E1 باندې سمبال وي، د افغانستان بانک په مرکز، زونونو او نمایندګیو کې د انټرنیټي خدمتونو برابرول، په مرکز کې د شبکې د سیستمونو نوي کول او نصبول، په عصري سیستم باندې د مرکز او په کابل کې د افغانستان بانک د یو شمېر ادارو د سیستمونو او داخلي تیلفونونو نوي کول، د ښې کارونې په موخه په آمریتونو او مدیریتونو کې د VLAN سیستم جوړول او د فایبر نوري له اوسني ډیټاسنټر سره د مخکني ډیټاسنټر نښلول د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د شبکې د مدیریت له کړنو څخه شمېره کیږي.

**د معلوماتو د ساتنې مدیریت:**

دا مدیریت د معلوماتي تکنالوژۍ د آمریت یو بله برخه ده چې په مرکز او نمایندګیو کې د افغانستان بانک د شبکې، سرورونو، ویب پاڼو او داسې نورو سیستمونو د امنیت مسؤولیت په غاړه لري. همدا ډول دا برخه د ادراینو د درې ګونو سیستمونو لکه؛ د سویفټ سیستم، د مخابراتو په وزارت کې له افتونو څخه د خوندیتوب د ډیټا سنټر او د دبی د ډیټاسنټر د امنیت د ساتنې دنده هم لري. د پورته دندو ترڅنګ، د ټولو بانکي سیستمونو او شبکې د مانیټورینګ مسؤولیت هم په غاړه لري. دې مدیریت د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د بانکي سیستمونو د ښه والي او معیاري کولو لپاره لاندې دندې ترسره کړي دي:

- د مانیټورینګ د منظم سیستم نصبول
- له نویو وایروسونو لکه؛ Ransomwar,Phishing, warm malware etc… د افغانستان بانک د سیستمونو د فایلونو د ساتلو په موخه د انټي وایروس د پالیسیو نوي کول
- د ISO 27001 په استنډرډ سره د معلوماتي تکنالوژۍ د آمریت د بیلابېلو برخو بیا کتنه (Audit)
- د ادراینې او د سویفټ د سیستم د درې ګونو سیستمونو د

کارولو مدیریت

- په سویفټ سیستم کې د Self attestations ترسره کول
- د سویفټ په سیستمونو کې د CSP تطبیقول چې د سویفټ د شرکت لخوا په لاره اچول شوی ؤ

**د اپلکیشن مدیریت**

دا مدیریت د افغانستان بانک د بنسټیزو سیستمونو د جوړښتونو له ډلې څخه ګڼل کیږي چې د افغانستان بانک د اړتیا وړ سیستونو لکه: Auction, ACSS, DAB Website او داسې نورو سیستمونو د ترتیبولو مسؤولیت په غاړه لري.

د ډیټابیسونو فعالول، د دیټابیسونو د معلوماتو همغږي کول او د حاضرۍ د اپلکشنونو تنظیمول، د افغانستان بانک د اسعارو د نرخ ورکونې د سیستم نوی کول، د رسمي کار لپاره موټر ته د افغانستان بانک د کارکوونکو د اړتیا په صورت کې د ټرانسپورټ مدیریت لپاره د نوي سیستم ترتیبول چې د منظمې راپور ورکونې وړتیا ولري، په انلاین ډول په بانک کې د شاملیدو د ازموینې د اخیستلو په موخه د منابع بشري آمریت ته د یو نوي سیستم ترتیبول، د ACSS په سیستم کې د ICPS سیستم ترتیبول چې د بانکونو ترمنځ معاملو لپاره کارول کیږي او د DMS سیستم نوی کول چې په دې سیستم سره ټول آمریتونه او مدیریتونه مستقیماً له خپلو اسنادو سره وصل کوي، د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د دې برخې له مهمو کړنو څخه ګڼل کیږي.

**د ډیټابیس برخه:**

د افغانستان بانک د اړتیا وړ ډیټابیسونو لکه؛ Auction, ACSS, AFTS او د افغانستان بانک د داسې نورو سیستمونو ترتیبول د دې برخې له بنسټیزو دندو او مسؤولیتونو څخه شمېرل کیږي.

د معلوماتي تکنالوژۍ د ډیټابیس برخې د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې ځینې کړنې ترسره کړي دي چې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

- د دیسک له عامل سیستم Windows Server 2012 څخه Linux سیستم ته د PAT 2 سیستم لیږدول او له Oracle 11g څخه Oracle 12c ته د هغه د ډیټابیس لوړول او همدا ډول په معیاري روشونو سره د سیستم د کاري محیط عیارول؛
- د حاضرۍ د سیستم نصبول، فعالول او د کاري چاپیریال عیارول د بېلګې په توګه د ماشین د سرور عیارول، د Widows Server 2012 نصبول او د Attendance Module د فعالولو لپاره د ZKTeco پوستکالي عیارول.
- له عامل دیسک سیستم CentOS څخه Fedora Server 25 سیستم ته د ACSS د تجدید شوي دیټابیس نصبول، فعالول او د کاري چاپیریال عیارول او همدا ډول د هغه د ډیټابیس د Replication فعالولو؛
- د معیاري روشونو د پلي کولو او د یاد سیستمونو د لا خوندیتوب په موخه بېلابېلو سرورونو ته د اپلکیشنونو او د داخلي پرمختللو سرورونو د ډیټابیس جلا کول.
- د Oracle ډیټابیس فایلونه د Multiplexing په عیارولو سره د PAT 2 سیستم د کاري روش معیاري کول، د Linux سیستم Shell **Scripting** او همدا ډول RMAN په کارونې سره د Flashback او په اتومات سیستم باندې د هغه د بک آپ عیارول

**د سویفټ برخه**

د نړیوالو ادارینو د سیستم برخه یا سویفټ د افغانستان بانک مهمه او بنسټیزه برخه ګڼل کیږي چې د دولتي ادارو او نړیوالو مالي مؤسسو د بهرنیو (وارده او صادره ) معاملو لپار کارول کیږي چې د ټولو تخنیکي مواردو ساتنه یې اړینه ده.

د معلوماتي تکنالوژۍ د آمریت دې برخې د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې لاندې کړنې ترسره کړي دي:

- د سویفت په سرورونو کې د Deploying) Alliance (Web platform نصبول او تنظیم چې یوزرونه کولای شي د Browser له لارې یاد سیستم وکاروي. همدا ډول په (Web Platform) سیستم باندې د (Workstation) د پخواني سیستم بدلول.
- د سویفټ سیستم د لا ساتنې لپاره د Alliance Security نصبول
- د Web Platform او AFT لپاره د سویفټ د ازمایښتي سرور فعالول چې له دې لارې کولای شو د سویفټ ټول تخنیکي او عملیاتي کارونو په ازمایښتي توګه ترسره کړو.
- د Juniper VPN Box او SSL-VPN Connectivity سیستمونو بیا فعالول

باید یادونه وشي چې د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت د پورته بنسټیزو دندو او مسؤولیتونو د ترسره کولو ترڅنګ د مرستې د میز او ایمیلونو په برخو کې هم کړنې ترسره کړي چې د افغانستان بانک کارکوونکو ته یې په ورځنیو چارو کې اسانتیاوې برابرې کړي دي.

**د مالي خدمتونو د پراختیا لوی آمریت**

د مالي خدمتونو د پراختیا آمریت هېوادوالو په ځانګړې توګه د ټولنې محرومه وګړو لپاره د مالي خدمتونو د پراختیا په موخه جوړ شوی دی. د مالي خدمتونو د پراختیا لوی آمریت د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې توانیدلی څو د مالي خدمتونو د پراختیا داخلي کمیټه او همدا ډول د مالي خدمتونو د پراختیا ملي کمیټه چې ۲۳ دولتي او نا دولتي اداري رانغاړي، د مالي خدمتونو د پراختیا د ملي استراتیژۍ د طرحې او تدوینولو په موخه جوړې کړي. د مالي خدمتونو د پراختیا د ملي کمیټې د جوړولو موخه د همغږۍ د اډانې جوړول، د مشورتي همکاریو ژمنه او د مالي خدمتونو د پراختیا د ملي استراتیژۍ د تطبیقولو د طرحې، تدوین او همکارۍ په برخه کې د ذینفع شریکانو د پالیسۍ ژمنه ګڼل کیږي. د مالي خدمتونو د پراختیا آمریت په دې برخه کې د ۱۳۹۶ مالي کال د غویي په میاشت کې ذینفع شریکانو لپاره خپل لومړنی او معلوماتي ورکشاپ جوړ کړ. د دې ترڅنګ، دې آمریت د لا همغږۍ په موخه، د عملي اجرااتو کمیټه چې د افغانستان بانک، د مالیې وزارت، د بانکونو ټولنه او د مسفاء (MISFA) مؤسسه رانغاړي، جوړه او په دې برخه کې یې څو مشورتي غونډې هم ترسره کړي دي.

د مالي خدمتونو د پراختیا لوی آمریت د نړیوال بانک په مرسته توانیدلی د عرضې له پلوه د سروې د پوښتنلیکونو (مالي لاسرسی او د مالي سکتور د بېخبنسټونو) طرحه ترتیب کړي او د هغه پر بنسټ کولای شي له بانکونو، د کوچنیو پورونو مؤسسو او د برېښنايي پیسو له مؤسسو څخه د پام وړ شمېرې او معلومات راټول کړي.

سربېره پر دې، دې آمریت د مالي سکتور د مستهلکینو د حقونو د ملاتړ د سروې د ترسره کولو لپاره د نړیوال بانک په مرسته د پام وړ پوښتنلیکونه طرحه او وروسته یې یاده سروې په بانکونو، د کوچنیو پورونو مؤسسو او د برېښنايي پیسو په مؤسسو کې ترسره کړه. د دې سروې په بشپړیدو سره، په هېواد کې د مالي سکتور د مستهلکینو د ملاتړ د پېژندلو لومړنۍ مطالعه ترسره شوه چې دا کار به په نږدې راتلونکې کې د حقوقي اډانې د جوړولو او همدا ډول د مالي سکتور د مستهلکینو د حقونو د تأمینولو لپاره زمینه برابره کړي. همدا ډول دې آمریت د مالي خدمتونو او مالي

پوهې ته د عامه لاسرسی د تشخیصیه مطالعاتو د تر سره کولو لپاره د نړیوال بانک په مرسته د تقاضا لخوا د لومړنی ملي سروې پوښتنلیکنې، کړنلارې او تګلارې طرحه او د ۱۳۹۷ مالي کال د غبرګولي تر میاشتې پورې به یاده سروې د بیا رغونې او کلیو او پراختیا وزارت د کلیو د پراختیا د تخنیکي انستیټیوټ (AIRD) په مرسته پلي شي. د دې سروې پایلې به وروسته د پام وړ تشخیصه مطالعاتو په ترسره کولو کې وکارول شي څو مالي خدمتونو ته د عامه لاسرسي په لاره کې خنډونه او ننګونې تشخیص او په هېواد کې د مالي پوهې کچه وارزول شي.

سربېره پر دې، د مالي خدمتونو د پراختیا آمریت د ملي خطرونو د ارزونې په آړانه کې د مالي سکتور د تېنګښت او یووالي او د مالي خدمتونو د پراختیا د برخې څېړنه پیل کړې او تمه کېږي چې د ۱۳۹۷ مالي کال د دریمې ربعې په لومړیو کې یې بشپړه کړي.

دا څېړنه کولای شي د ( پیسو د وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل) هغه بالقوه خطرونه چې د مالي سکتور د تېنګښت او یووالي پر وړاندې خنډ ګرځي، وڅیړي. همدا ډول د دې څېړنې پر بنسټ، د مالي سکتور یو شمېر محصولات او خدمتونه چې د کارونې پراختیا یې نشي کولای د هېواد د مالي سکتور بشپړتیا ته دا ډول خطرونه متوجې کړي، عایداتي ټولنې ته اسانه شرایط په واک کې ورکوي.

**د مالي خطرونو د اداري آمریت**

د مالي خطرونو د اداري آمریت چې د افغانستان بانک د خطرونو د ډولونو د پیژندلو، ارزولو، کنټرولولو، کمولو او مخنیوي مسؤولیت په غاړه لري. دا آمریت هغه احتمالي خطرونه چې د افغانستان بانک د شعبو په پالیسیو، کړنلارو، تګلارو، مقررو او لوایحو کې د تشو له امله شتون لري، له پیژندلو او ارزولو وروسته څېړي او په اړه یې اړوندې سپارښتنې د ریاست مقام ته وړاندې کوي.

د افغانستان بانک د مالي خطرونو د اداري لوی آمریت په ځینو مواردو کې یو لړ مخنیوي کوونکي تدبیرونه او اقدامات هم تر لاس لاندې لري او په اړه یې یو په بل پسې اجراات کوي.

دلته په لنډه توګه د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې د دې آمریت له کړنو څخه یادونه کوو:

- د مالي خطرونو د اداري لوی آمریت د ستراتیژیک پلان (۱۳۹۶ ـ ۱۳۹۹ مالي کال) له پنځم اصل سره سم چې ″ د احتمالي خطرونو پر وړاندې د افغانستان بانک د مالي او عملیاتي سیستمونو ساتل او پیاوړتیا) ګڼل کیږي؛ د افغانستان بانک د فعالیت د دوام او د خسارې د جبران پلان ( Business Continuity and Disaster Recovery Plan) د ۱۳۹۶ مالي کال په اوږدو کې په بیړنیو حالاتو کې ترتیب کړی چې د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا تصویب شوی دی او اوس مهال د پلي کیدو په حال کې ده.
- د نړیوال بانک د سلاکار په مرسته د دې آمریت د کاري برخو د خطرونو د ارزولو لپاره د مناسبو او معیاري پالیسیو او تګلارو جوړول او ترتیبول چې د هېواد په ملي ژبو هم ژباړل شوي دي. دا پالیسی او تګلارې د نقدینه ګۍ او اعتبارونو د خطرونو د مدیریت لپاره کاري کړنلاره، د بازار د خطرونو د مدیریت لپاره کاري کړنلاره، د عملیاتي خطرونو د مدیریت لپاره کاري تګلاره او د معلوماتي تکنالوژۍ، تدارکاتي او قانوني خطرونو د مدیریت لپاره کاري تګلاره رانغاړي.
- د بنې اداري او د افغانستان بانک د خطرونو د کنټرولولو

لپاره د افغانستان بانک د خطرونو د اداني جوړول او ترتیبول او په ملي ژبو د هغه ژباړل چې د عالي شورا لخوا هم تصویب شوی او د پلي کیدو په حال کې دی.

- د خطرونو د مدیریت د کمیټې، د مالي خطرونو د مدیریت د فرعي کمیټو او د غیر مالي خطرونو د مدیریت د فرعي کمیټو جوړول چې جزئیات یې په اړوندو لوایحو او کمیټو کې یاد شوي دي. د خطرونو د مدیریت کمیټه له نړیواله معیارونو سره سم جوړه شوې او د افغانستان بانک د لوی رئیس تر مشرۍ لاندې غونډې کوي. دې کمیټې د خطرونو د ادارې د لوی آمریت ټول راپورونه او کړنې د ارزولو ترڅنګ کنټرول کړي چې په اړه به یې د سمونونو په برخه کې لازمې لارښوونې او مشورې صادر کړي. له بلې خوا د افغانستان بانک د عالي شورا د خطرونو د مدیریت کمیټه د خطرونو د څیړلو په حال کې ده او په دې برخه کې به مهم موضوعات تر جدي بحث او څیړنې لاندې ونیسي.
- د خطرونو د ادارې د لوی آمریت د تشکیلاتي جوړښت تعدیلول، بله مهمه موضوع ده چې کولای شو ورته اشاره وکړو. دا تشکیلاتي جوړښت د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا تائید او تصویب شوی دی چې نوي بستونه یې اعلان ته لیږل شوي دي.
- د هېواد د ملي خطرونو د ارزولو په پروګرام کې فعاله ونډه اخیستل چې د نړیوال بانک په مرسته د افغانستان بانک د مالي معاملو او راپورونو د څیړنې د مرکز لخوا په لاره اچول شوی ؤ.
- د قوانینو او مقررو د تطبیقولو له امله د خطرونو د مدیریت د واحد د جوړولو طرحه چې مدیریتي تجربو ته د لاسرسي په موخه د بانک په کچه د وضع شوو الزاماتو تطابق او د اجراء وړ الزاماتو ( قوانینو، مقررو، تړونونو، استراتیژیو او سیاستونو) پیژندنه رانغاړي. تمه کیږي چې دا طرحه د بانک د خطرونو د مدیریت په لومړنی غونډه کې تر بحث او څیړنې لاندې ونیول او وروسته د منظورۍ په موخه د افغانستان بانک عالي شورا ته وړاندې شي.
- په اړونده برخو کې د کاري ظرفیت لوړولو او د مسلکي او تخصصي پوهې د ترلاسه کولو لپاره په بیلابیلو روزنیزو پروګرامونو کې د دې ادارې د کارکوونکو ګډون کول.

د خطرونو د ادارې لوی آمریت، د افغانستان بانک د ستراتیژیک پلان (۱۳۹۶ ـ ۱۳۹۹) په پام کې نیولو سره د خطرونو د ادارې د داخلي جوړښتونو د طرحې، جوړولو او تنظیمولو په برخه کې چې مناسب او معیاري پالیسۍ او تګلارې، د افغانستان بانک د خطرونو د ادارې د مقررو د خطرونو د معیاري اداني جوړول، د بیړنیو حالاتو د مدیریت لپاره د ځانګړي پلان جوړول، د مهمو کړنو یا Business Continuity Plan د دوامدارۍ پیاوړتیا او ساتلو لپاره د هر اړخیزه میکانیزم جوړول او په بانک کې د خطرونو مدیریت د سیستم د پیاوړتیا او ټینګښت په موخه د خطرونو د مدیریت د کمیټې جوړول رانغاړي، ځانګړې کړنې ترسره کړې دي او اوس مهال د پلي کیدو په حال کې دي.
په بانک کې د خطرونو د مدیریت د سیستم پلي کول چې د لومړي ځل لپاره د افغانستان په تاریخ کې ترسره کیږي، د داخلي کنټرول سیستم تنظیموي او بې له شکه د بانک د پانګونې اغیزناکي، مولدیت، روڼتیا او بیا ورکړې ته زیاتوالی ورکوي.